شهامت

نهم کال، پنځمه، پرلپسې ۵۵مه گڼه، ربیع الثاني۱٤۳۷ هق، فبروري ۲۰۱٦م

په کندهار کې د اشرف غني سیاسي افتضاح

- آیا دبهرنیو ځواکونو په شتون کې به! دسولې خبرې او ناستې مثمرې پایلې ولري؟
- به مناسبت خروج قشون سرخ شوروي!
- دبـــدر الفتاوی زرینې وړانګې
- آه! مولوي سید محمد حقاني هم له مونږ جلا شو!
- د مجاهدینو د تربیوي پروګرامونولړی په بریا سره ترسره شوه
- د شهید مولوي محمد عالم کلیم ژوند او کارنامو ته کتنه
- دسعودي اوایران سیاسي ستونزه ولې مذهبي شخړه ګڼل کیږي ترشایې څه اهداف دي؟
- چه کسی واقعا مانع صلح و پیشرفت در افغانستان است؟

په پګواش کنفرانس کې د اسلامي امارت د استازو لخوا د لوستل شوې بیانیې متن

شهامت

علمي، کلتوري او اسلامي مجله

نهم کال، پنځمه، پرلپسې ۵۵مه گڼه، ربیع الثاني۱۴۳۷ هق، فبروري ۲۰۱۶م

دامتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنگي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر :

ابو ظهیر

کتنپلاوی :

شاهد "حقاني" لطیف عزم
حسن " علوي" بلال "وحید"
نعیم " صافی " عابد مجاهد
قاري حبیب

بیه :

یوه گڼه ۲۰ افغانۍ او ۳۰
کلدارې په پاکستان کې

تخنیکي مسؤل :

تخنیکي څانگه

یادونه

شهامت له سرمقالې پرته دنورو لیکنو مسؤلیت
په غاړه نه اخلي.

لړلیک

گڼه	عنوان	مخ
۱	سرلیکنه..	۱
۲	په کندهار کې داشرف غني سیاسي افتضاح...............	۳
۳	آه! مولوي سید محمد حقاني هم له مونږ جلا شو!..............	٤
٤	په پگواش کانفرانس کې داسلامي امارت داستازو لخوا.......	۷
۵	دبدرالفتاوی زرینې وړانگې..................................	۱۹
٦	دمجاهدینو دترببوي پروگرامونو لړی په بریا سره ترسره شوه..	۲۳
۷	له ولس سره دکابل اداري ظلم..............................	۲۵
۸	په اسلامي هیوادو کې د اسلامیت او مغربیت ترمینځ کشمکش	۲٦
۹	دشهید مولوي محمد عالم کلیم ژوند او کارنامو ته کتنه.......	۳۱
۱۰	به مناسبت خروج قشون سرخ شوروي!...................	۳۵
۱۱	گلورینې پاڼې..	۳٦
۱۲	دامام نسائي رحمه الله دژوند مختصر حالات.................	۳۸
۱۳	چه کسی واقعا مانع صلح وپیشرفت در افغانستان است؟......	۳۹
۱٤	داسلام تشریعي اساسات/یوولسمه برخه........................	٤۱
۱۵	مخلوطه جگړه، له هر اړخه تجدید نظر ته ضرورت لري.........	٤۳
۱٦	دتللیو یاد، دهیواد نوموړکی او پردیس پښتون عالم	٤٦
۱۷	دسعودي او ایران سیاسي ستونزه ولې مذهبي شخړه گڼل کیږي	۵۰
۱۸	دڅارویو! په اړه درسول الله صلی الله علیه وسلم دعاطفې او ...	۵۷
۱۹	دامریکا جنایتونه اودروان جهاد په اړوندیو څو کرښې..........	٦۲
۲۰	دهجري کال پیل او په اړه یې دمسلمانانو غفلت...............	٦٤
۲۱	صف یکی است دشمن اما چند تا!............................	٦٦
۲۲	امریکا دافغانستان ددائمي اشغال په فکر کې..................	٦۸
۲۲	دشهامت دارالافتاء..	۷۰

ادرس : کابل کارته پروان عقب سینمای بهارستان بریښنالیک : Sham.shahamat@yahoo.com

سرلیکنه

بسم الله الرحمن الرحیم

ایا دبهرنیو ځواکونو په شتون کې به!

دسولې خبرې او ناستې مثمرې پایلې ولري؟

له شک پرته چې سوله د هر هېواد، هر ولس او هرانسان اړتیاده! د سولې او امن لـه ډادمـن چاپېریـال پرتـه د هېوادو او ولسونو سیاسي، اقتصادي او اجتماعي ژوند فلج او معطل وي!

دډېر تاسف ځای دی چې له دې سره سره چې څلورکونجه نړۍ د بشر دحقوقو او ازادۍ مدافعینو شـور او زوږ نیولې، بیاهم له یو درجن د زیاتو هېوادو ملیونه وګړي د سولې او ازادۍ له نعمت نه په محرومیت کې ژوند تیروي او دنړۍ زبرځواک هېوادونه چې امریکا یې په سر کې ده دهغوی بشري استقلال او ازادي ګواښي!

هو! زمونږ هېواد هم یو له هغو هېوادو څخه دی، چې ولس یې دامریکا تر مستقیم اسارت لاندې شپې ورځې سباکوي؛ او دتیرې څه باندې یوې لسیزې راهیسې پکې صلیب پال یرغلګرځواکونه دانساني کرامت او بشري حریـت وژلو په خونړۍ او وحشیانه جګړه کې بښکېل دي!

اوس د حیرانتیا وړ داده، چې دڅه مودې راهیسې هم دغه وحشت پـالونکې او خـوروونکې امریکاچـا چـې دافغان مظلوم ولس سوله،سوکالي او خوشالي یې وژلې! او د لکونو خلکو پر معصومو وینو یې لاسـونه سره دي ، د سولې زیرې شیندي! او له خولې یې دسولې شعار ونه اورو!!..

خو دلږ شعور اوکمې پوهې درلودونکی انسان چې درد او احساس ولري هم پوهیږي چې زمونږ په هېـوادکې ولې سوله نشته؟ اوافغان ولس ته ننۍ پرتې ستونزې او کشالې دچا مرهون منت دي؟ ښکاره ده دافغانانو د ټولـو اوسنیو نا خوالواوبدمرغیو عمده لامل له نړیوالو قوانینو، اصولو، اخلاقو او مقرراتو نه په سرغړونـه دامریکـا لـه لوري د مردود یرغل جسارت دی!

امریکا او ملګرو یې د وحشیانه یرغل راوړو په پیل کې پټیلې وه چې له درې څلـور ورځـو مسلسـل بمبـارد وروسته به افغانستان کې د دوی داستعماري ارادو اوشیطاني موخو په وړاندې هیڅوک خنډ نشي! او طالبانو تـه په شکست ورکولو سره به په افغانستان او منطقه کې ټول امریکائي ضد احساسات د خاورو سره خـاورې کـړې او په اسانۍ سره به دامریکایي لوڅ بې حیا کلتور دېراختیا ،کرغیړن سیاست اوشومو ګټو د خوندیتوب لپـاره بـه خپل یو لاسپوڅی رژیم رامنځته او په پښو ودروي!

لیکن وخت وښوده چې دا د امریکا لویه تیروتنه او اشتباه وه اوپه دې ورانووینه او انګیرنــه کــې خطــاء وه! هغه جنګ چې دوی یې د درې یا څلور ورځو اټکل کړی و، ۱۵کلو ته وغځیده!هغه لاسپوڅی رژیم چې دامریکــایي کلتوردپراختیا، سیاست او ګټو د خوندیتابه په موخه یې رامنځته کړ،نن پخپله د هغه د سقوط په باب انکشافات لــه نړۍ سره شریکوي!

دسیاسي چارو بیطرفه کتونکو په اند: امریکایان دجنګ اوږدیدو له امله نور ستړي دي، هغــه هیوادونــه چــې دوی سره دکومک په نیت راغلي وو ،هغوی یو، یو له افغانستانه ووتل؛ امریکا چې دلته دکــوم لــوري! او فکــر پــه څېلو پسې راغلې وه ، هغه دتاریخ جوړونکو،قربانیو، فداکاریو او سرښندنو په برکت ورځ تربلې پیاوړی او غښــتلی کېږي ولایتونه، ولسوالۍ او پراخې سیمې ترخپل کنترول لاندې راولي او په امریکائې یرغلګرو یې دبري چانس لیدل کېږي او امریکا ته دخپل بري چانس په دوربین کې هم نه ښکاري!انو مجبورًایې طی کړې ، څو دمذاکراتو اوســولې جریان په رامنځته کولوسره له افغانستانه په عزت سره دتیښتې لار او ګودر وګوري!

په تیرو ۱۴ کلو کې یې له ټولې نړۍ نه دعسکرو په راوستو،د زیاتو ځاني تلفاتو او مــالي زیــانونو د زغملــو سربیره یې بیا هم دبري څرک ونه لیدل شو! ښه به وي که امریکا له بدو عزایمو څخه په شاه او د واقعبینانه حــل اوسولې د راتلو په وړاندې ترټولو عمده خنډ [د پوځیانو نارواشتون] له منځه یوسي!

خو دسیاسي چارو ثقه کتونکي دامریکا په نیت او اراده شــک لري،ولــې دامریکایــانو دقــول او عمــل تــرمنځ څرګند تضاد لیدل کېږي! په داسې حال کې چې یو پلو ته امریکا دســولې پــه نامــه دوامــدار تبلیغــاتي غونــډې او کانفرانسونه جوړوي! بل پلو په جګړه کې د شدت را وستلو لپاره نوي جنرالان د نویو ګواښــونو او لافــو شــافو پــه ملتیا جګړې ته را لیږي !یو پلو یې جنرالان اولوړپوړي چارواکي خپل سنا مجلس او رسنیو ته په خبرو کې دکابل د لاسپوڅي رژیم دسقوط په اړه تازه انکشافات ورکوي بل پلو یې ځیني نور بیا افغانستان کې دامریکایې پوځیــانو له شتون څخه پلوي کوي آن تر۲۰۲۰زکاله یې دهغوی دپوځي ماموریت غځولو غوښتنه کوي! داپه دې معنی چــې امریکا افغانستان کې د څولسیزو پوځي حضور ساتلو پخه ارداه لري!

نوبناً دسولې په نامه وروستۍ ناندرۍ او شعارونه تیرایستونکي او جعلي بولي، چې په تــرڅ کــې یــې امریکــا اونور پخپلو ۱۴کلنوناکامیو او رسواییو دپردې اچولو هڅه کوي ، لیکن افغان مــؤمن ولــس تــه بــه دغسې ـ جعلــي اونمایشي شعارونه هیڅکله قانع کوونکي نه وي، که واقعاً دسولې په نامه بهیر کې ور ګډ اړخونه یالوري د ســولې راوستلو لیوالتیا ولري ، هغوی باید ترهر څه دمخه امریکا قانع کړي، چې هغه دجګړې ددوام اســاسي عوامــل لــه منځه یوسي ! دافغانستان ناروا اشغال سملاسي پای ته ورسوي! د افغانانوازادي او خپلواکي ومني! او هرڅــومره ژر چې ممکن وي له افغان خاورې خپل ټول عسکر وباسي! ددایمي پوځي هدو جوړولو په اړه خپله جوړه کړغېړنــه ستراتیژي لغوه اعلان کړي!باوردی چې په دې سره به دسولې لپاره هر ګام پورته کول مثمرې پــایلې، او دربښــتیني سولې په لور به مثبت قدم وي او ددي پرته به دسولې خبرې نیمګړې او په اړه یې ناستې کول دوخــت ضــایع کولــو سیوا بله معنی اومفهوم ونلري... !

په کندهار کې د اشرف غني سیاسي افتضاح

شاهد (غزنیوال)

د تیرې چارشنبې په ورځ د ګډ حکومت مشر اشرف غني احمد زی کندهار ولایت ته ولاړی تر څو هلته د ترکیې هیواد نویې پرانیستونکې کونسلګرۍ افتتاح کړي، خو په کندهار کې د کونسلګرۍ تر افتتاح وړاندې د سختې سیاسي افتضاح ښکار او په خپه‌دلي اور میر بیرته کابل ته را وګرځیده.

ښاغلي اشرف غني غوښتل کندهار ته په خپل ناڅاپي سفر سره ځان له هغه فشاره وژغوري کوم چې له تیرې یوې اونۍ را هیسې په کابل ښار د بریښنا د پرچاوي له امله ورسره مخ دی، خو له بده مرغه په کندهار کې په داسې فضیحت واوښت چې ده یې هیڅ توقع نه لرله.

په کندهار ښار کې د اشرف غني رسمي افتضاح، په پلازمینه کابل کې د بریښنا نشتوالي او په ډنډ غوري کې یې د مجهزو دولتي ځواکونو ناکامي د نوموړي د بې وسه واکمنۍ تر ټولو څرګنده نښې دي.

که څه هم چې په کندهارښار کې پخواني ولسمشر حامد کرزی هم د خپلې واکمنۍ په لومړیو کې له ورته موقف سره مخ شوی چې د یوه امریکایي سرتیري د سر په بیه د عبدالرحمن نومي سرښندونکي له بریده روغ خښت کابل ته پښې سپکې کړي خو د اشرف غني په وړاندې د کندهار فضیحت آوره پیښه له شکه پرته چې تر هماغه پوځي برید ډیره ژوره او په سیاسي لحاظ ډیره شرموونکې وه.

ځکه پر کرزي باندې ترسره شوی برید د هغه د دښمنانو (طالبانو) لخوا طراحي او پر اشرف غني باندې فضیحت باره ګوزارد هغه د خپلو سیاسي دوستانو لخوا په ډیر مهارت سره پلان او په ښه کامیابي سرته ورسیدی.

ولسمشر-اشرف غني د خپلې بې وسی له مخې د لوړې حوصلې څښتن دی، ښایي د کندهار پیښه هم د خپلې واکمنۍ د نورو زرګونو فضیحتونو او ناخوالو په څیر د نسیان حافظې ته وسپاري، خو که نوموړی یاده پیښه د خپل وجدان په تناظر کې ښه ترغور لاندې ونیسي-ښایي د ټول عمر لپاره ورته نه هیریدونکی درس وي.

د کندهار په یادې پیښې کې یواځې د اشرف غني سپکاوی نه بلکې په اشرف البلاد (کندهار) کې د ولسمشرۍ د هغه مقام توهین شوی کوم چې هر افغان یې درناوی او احترام د ځان ملي او اخلاقي وجیبه ګڼي.

افغانان په میلمه پالنې او د خپلو مشرانو په احترام کې ځانګړی نوم لري، اشرف غني او هرهغه څوک چې د افغانانو د مشرتوب ادعاء لري په کار دی چې ځان په داسې صفاتو متصف کړي چې له امله یې د خپل قوم او ولس په منځ کې د درناوي او احترام مورد وګرځي.

امریکایانو د خپل ناروا اشغال په ترځ کې پرنورو ناخوالو سر بیره د افغانانو اصیل کلتور او سوچه عنعنات هم توهین کړل او پر هغوی یې د اشرف غني او کرزي په څیر داسې سپک چارواکي وتپل چې د ملت ټول درانه اقدار ورسره توهین شول.

که دا ډول سپک او مهین اشخاص نورهم د امریکایانو د توپ او طیارې په زور پر افغانانو ځان مسلطوي ښایي له کندهاره پرته د هیواد په نورو سیمو کې هم تر دې له بدو مواقفو سره مخ شي.

افغانان اشرف غني او د امریکایانو نور مزدوران د خپلو چارواکو په حیث نه؛ بلکې د پردیو د نوکرانو په حیث پیژني، اجنبي نوکران که څه هم د پردیو په زور ځان پرخلکو مسلط ګڼي خو د غلامي طوق یې د ذلت او مهانت حقیقي څیره هرچاته ښه څرګنده کړې...

آه!

ابوظهير

مولوي سيد محمد حقاني هم له مونږ جلا شو!

روان [۱٤۳۷هق] کال، ربیع الاول میاشتې په ۲۲ مه نیټه،د شنبې په ورځ دافغانستان اسلامي امارت دفرهنګي چارو کمیسیون مرستیال [الحاج مولوي سید محمد حقاني رَحِمَهُ ٱللَّهُ هم بالاخر په هغه سفر لاړ،په کوم چې هر تلونکی مسافر بیرته نه راځي. انا لله وانا الیه راجعون.

دمرحوم حقاني صاحب ناروغې او مړینه! بیخې ناڅاپه او دتمې خلاف وه، په پیل کې څه مهال ور ته دسینې د درد او توخې ناروغې پیداشوه،نوموړی څو مشرانو سره یوځای د ځینو امارتي کارونو په کتنه اوسمون بوخت وو،هغه مهال هیچا هم نه انګیرله چې ګواکې دابه دومره خطري او وژونکې ناروغې وي چې له امله به یې نوموړی دتل لپاره له مونږ څخه جلا او روان کارونه به نیمګړي پریږدي!!الله تعالی دې په نوموړي رحم وکړي کوردي نورشي ! د غوره اخلاقو، شریفانه برخورد، سلیم عقل او دبیدار شعور څښتن و،چې مړینه یې واقعاً ستر زیان اونه جبرانیدونکې ضایعه ده. فالی الله المشتکی!

که څه هم زه نوموړي ته د ناروغی پېښیدو په مهال ،او په روغتون کې د تدواي اودرملنې پروخت او بیا له روغتونه موترته د جنازې پورته کولو پرمهال حاضر وم! خو بیا هم زما زړه نه منې چې ربښتیا هم حقاني صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ له مونږ جلا شوی او بلې نړی ته یې کوچ کړی دی ...

څکه هیڅکله زما یا دنورو په وهم او ګومان کې هم دا نه راتله چې نوموړی به دومره ژر مونږ پریږدي او راڅخه دتل لپاره جلاکیږي...! هو! مرګ داسې تریخ حقیقت دی چې ټول اندازو، تخمینونواو اټکلونو ته شکست ورکوي!! خو بیاهم انسان پخپل ژوند کې دمرګ وهم یا اټکل یقیني نه بولي که څه هم هغه پخپلو لاسونو څو واره پخپلوانو، اندیوالانو او دوستانو خاورې واړوي! لیکن بیا به هم نفس ورته فریب او دوکه ورکوي چې [نه!ته ! خو لا ځوان اوپر ونی هلک یې !]

بهر صورت حقاني صاحب له مونږنه ناڅاپه جلاشو! اوخدای خبر! چې دنوموړي په دومره ناڅاپې مړینه به څومره لویو، لویو هیلو، سترو پلانونو او

خوشالۍ ښښونکو ارزوګانو تکان خوړلی وي او پرې به خاورې امبارشوې وي؟ کله چې له نوموړي سره دخپل تعلق او په خاصه توګه دوفات نه څو ورځې وراندې کاري بوختیاوو یادابښتونو اوخاطرو ته مې ذهن لاړشي نو له حسرتونو اوماتم پرته نورڅه راته په لاس نه راځي .څو ځله مې قصد وکړ چې پخپلو خیالاتو ،یادابښتونو او احساساتوکې په توازن راوستو دنوموړي په اړه څه ولیکم! خو هرځل پاته راتلم او اړکېدم چې کاغذ او قلم دواړه کېږدم!

ځکه هغه چاچې حقاني صاحب لیدلی وو اوپیژانده یي ، هغوی هم شاید زما په څېر په اسانه دا باور ونکړي چې هغه رښتیا وفات شوی؛ ځکه چې نوموړی ښه صحت مند، تندرست، روغ رمټ او تروتازه و، چادا فکر نه کاوه چې دومره ژر به رخصت اخلي!لیکن مرګ زمونږ دسوچونو ،فکرونو او هیلو پروا نلري اونه زمونږ تراندونو او انګیرنو تړلی دی! دهرچا دمرګ فیصله هغه حکیم او حاکم ذات کوي دچا مشیت چې زمونږ دمحدودو فکرونو اوذهنونو دلید له دایرې ماورادی.

هو! مرحوم حقاني صاحب نه یواځې دفرهنګي چارو کمیسیون غوندې دمهم کمیسیون مرستیال و، داسلامي امارت مخور او پیژندل شوی سیاسي او جهادي مشر هم و،په دې سربیره دښو اخلاقو، تواضع، ایثار اوهمدردی یوه ځلیدونکې نمونه و او لنډ به ووایم چې نوموړی دشرافت، دیانت او اخلاص یوجامع پیکر و.. الله جَلَّجَلَالُهُ دې ورته لوړدرجات په نصیب کړي.

هرکله چې الله تعالی خپل یوبنده دنورو خلکو دکتو او هواساینې لپاره غوره کړي، نو دهغه په زړه کې دخپلو ملګرو، همزولو او همفکرانو سره دمحبت اوشفقت دومره سلنه واچوي چې هغه دهرچاسره د ناستې ولاړې، راشې درشې اورویې مناسبات و لري هغه دومره مؤثر او ژور وي چې د هر ملګري رنځ او تکلیف خپل رنځ او خپل تکلیف حسوي او خوشالۍ او راحت یې خپل راحت او خپله خو شالۍ ګڼي !دملګرو سره داروابښاد حقاني صاحب رویه تعلق اومناسبات هم داسې و، هرملګري داحسوله چې ترنورو یې له ماسره ډېر تعلق، زیاته همدردي او ملګرتیا ده اوزما په راحت او خوشالۍ ترنورو زیات خوشاله کېږي... اوپه غم او دردکې راسره ترنورو زیات شریک دی.

او په دې هم کلک باور او ایمان لرو چې دالله تعالی دمشیت پرته هیڅ زنده سر او ساکښ ساه نشي کښلی په حقیقت کې حاکم هم هغه ذات او حکیم هم هغه دی، دهغه هیڅ پریکړه له حکمتو خالي نده که زمونږ په پویه کې دهغه حکمت راځي او که نه،ښکاره ده چې زمونږ په څېر دکوتاه لرلید لرونکو لپاره دمرحوم حقاني صاحب مړینه یوه نه جبرانیدونکې ضایعه او زیان دی ځکه دقحط الرجال په دې زمانه کې ترنوموړي پورې ډېرې هیلې تړل کېدې او زمونږ هېواد او اسلامي امارت دنوموړي سیاسي تجربو او صلاحیتونو ته زیاته اړتیا درلوده خو هم هغه حکیم ذات دې مونږ ته او بالخصوص د امارت مشرتابه ته توفیق ورکړي چې دنوموړي دژوند ستر ارمانونه او هدفونه [دهېواد ازادۍ او اسلامي

نظام] نیمګړې پاتـه نشـي او روانـه مبـارزه اوجهـاد دبریاوو ترمنزله ورسي!

رسول ﷺ فرمـایلي: [اذکـروا اموتـاکم بالخیر] خپل مړي په ښو خبرو یاد وئ!لـه دې وجـې پورته لیکل هیڅکله درسمي خانه پورې بنه نلري! بلکـې درسـول الله ﷺ د دې پورتـه مبـارک ارشاد تعمیل دی په کوم کې چـې ګـڼ حکمتونـه پټ او نغښتي دي.

که زه دا وایم چې دحقاني صاحب مرحوم پشـان خلک دشمن لـه پلـوه کـم پیـدا کېږي او خصوصاً زمونږ په تولنه کې دمالکي اومره دي! نو یقین وکړئ مبالغه نده ! ځکه ترکومه ځایه چـې زه علـم لـرم او راته ښکاري نوموړی دخپل صف او مجاهـدینو لپـاره پــه اخــلاص لرلــو کــې یــومخ د [فنــاء فــی الاخلاص]مرتبـې تـه رسـیدلی و، پـه دې وجـه لـه هرچا سره یې برخورد،راشـه درشـه صـمیمانه او لـه خلوص ډکه وه.

داسلامي امارت په تیـره دوره کـې پـه مختلفـو کلیـدي څوکیـو او دنـدو [لکـه دکنـدهار داطلاعـاتو اوکلتور رئیس، دبهرنیو چارو وزارت دمعین ، دچـارو د لویې اداري د رئیس او پاکستان کې داسلامي امارت د سفیر] په تو که دکار اوخد متونو ترسره کولـو پـه وجه یـې پر شخصیت کـې جامعیـت لیـدل کیـده او دامارت دلیکو دننه او بیرون یې د با اعتماده، بانفوذه او کار پوه مشرپه حیث احترام کیده.

تواضع، عـاجزي، زړه سـوی ، اواخـلاص دنومـوړي ځانګړي صفات وو.دلـویې حوصلې او پراخـې سـینې خاوند و، هیڅکله جذباتي او احساسـاتي نـه و،پـه تونده لهجه د خبرو په ځای یـې پـه نرمـه اوقناعـت ښبونکې لهجـه اسـتدلال کـاوه ، دوفـات څخـه درې څلور ورځې مخکـې یـې ویـل: ځینـي ملګـري ماتـه حیران دي چې ته ! دفلانـي... او فلانـي سـره څنګـه ګذاره کـوې؟ خـو زمـا ګـذاره دا ده چـې زه دهغـوی دیوې نیمي ګیلې یا خبرې اوریدو حوصله لرم ... پـه خبـرو یـا نیـوکـو یـې نـه احساسـاتي کېږم... کوښښ مې دا دی چې ورته پـه نرمـو الفـاظو قناعـت ورکړم...دغه وجه ده چې ورسره مې تراوسه لفظي قدرې شخړه هم نده راغلي...

یقیناً ددې ستر او نیک انسان دمړینې له امله داسلامي امارت تـول غړي پـه تیـره دفرهنګـي چـارو کمیسیون ملګـري دتعزیـت حقـدار دي او بالخصوص دنوموړي درنـې کـورنۍ، اولادو او ورونوتـه دتعزیـت ورانـدې کولـو وروسـته دعـاکوو چـې الله تعـالی دې مرحوم حقاني صاحب ته په [مقعدصدق] کې د ځای په ورکولو دنوموړي درجات بلنـد کـړي او دکـورنۍ پاتې غړوته دې دجمیل صبر توفیق ورکړي اومرحـوم چې دځـان وروسـته داتحـاد، دیانـت او اخـلاص کـوم میراث پریښود ی مونږ ته دې الله تعالی دهغه په سمه توګه دساتلو اوخوندي کولو ظرفیت راکړي.

(امین)

په پګواش کنفرانس کې

داسلامي امارت

د استازو لخوا د لوستل شوې بیانیې متن

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله نحمده و نستعینه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا و من سیآت أعمالنا، من یهده الله فلا مضل له ومن یضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شریك له و أشهد أن محمدا عبده ورسوله، أما بعد:

تر هر څه د مخه له ټولو ښاغلیو او آغلیو ګډونوالو څخه مننه کوم او کور ودانۍ ورته وایم چې زمونږ د ګران هېواد افغانستان او مظلوم افغان ولس د ستونزو د هوارۍ په اړه د بحث او نظر شریکولو لپاره دلته سره راغونډ شوي، په ځانګړي ډول د قطر د اسلامي هېواد او ښاغلي امیر شیخ تمیم بن حمد بن خلیفة آل ثاني څخه د زړه له تله مننه کوم چې په خپل هیواد کې یې د دې مهمې ناستې لپاره اسانتیاوې برابرې کړې.

همدا ډول د پګواش له نړیوالې مؤسسې او د هغوی له اړونده مسؤولینو او کارکوونکو په ځانګړي ډول د پګواش له سکرتر جنرال ښاغلي (پاولو کوټا راموسینو) څخه مننه کوم چې له ډېر وخت راهیسې یې د دې ناستې د برابرولو لپاره هلې ځلې کړې دي.

اوس غواړم د خپل ګران هېواد د روان وضعیت او اړونده موضوعاتو په اړه له تاسو سره معلومات شریک او په اړه یې د افغانستان د اسلامي امارت رسمي دریځ روښانه کړم، الله دې وکړي چې دا ناسته زمونږ د کړېدلي او ځورېدلي ولس د ستونزو د هوارۍ لپاره یوه ښه پیلامه شي.

په افغانستان کې د نړدې څلورو لسیزو د غمیزو او جګړو د دوام عوامل:

زمونږ ګران هېواد، مسلمان او مجاهد ولس له نېږدې څلورو لسیزو را په دیخوا د اور په لمبو کې سوزي، مادي او معنوي هستي یې تالا او ترغه شوې، د هر ډول پرمختګ مخه یې نیول شوې، په سل هاوو زره خلک بې کوره شوي، فقر او مسکنت بل هغه لوی مصیبت دی چې د جګړو له امله افغان ولس ورسره لاس او ګرېوان دی، د دې ټولو ناخوالو بنسټیز لامل د بهرنیانو لاسوهنې او یرغلونه دی، ور سره د وخت د واکمنو خودخواهي، بې کفایتي، بې عدالتي او په اسلامي معتقداتو بې باوري بل لوی لامل دی چې هېواد او ولس یې له غم لړلي ناورین سره مخ کړی دی، د افغان مسلمان ولس د اوسنیو ناخوالو او کړاوونو د مزي سر د ۱۳۵۷ هـ ش کال له کمونیستي کودتا سره تړلی دی چې د وینو ویالې یې تر نن پورې روانې دي.

کله چې د الله تعالی په نصرت او بیا د افغان مجاهد ولس د مېړانې په نتیجه کې شوروي اتحاد ماتې وخوړه او د هغوی لاس پوڅی نظام نسکور شو، متآسفانه چې افغان ولس

بیا هم د آرام ساه وانخیسته، کورنۍ جګړې پیل شوې، په هر ښار او هره سیمه کې ملوک الطوائفی جوړې شوې، انارشیزم را منځته شو، نه د چا سر په امن و، نه یې مال او نه عزت، د دې مشکلاتو د حل په خاطر، د طالبانو اسلامي تحریک د مرحوم امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله په مشرۍ کې راپورته شو چې په ډېر لنډ وخت کې یې د الله تعالی په نصرت او د ولس په مرسته د هېواد اکثریت سیمې تر خپل کنترول لاندې راوستې؛ خو د امارت ضد قوتونو اسلامي امارت او افغان ولس ته په تشو بهانو د ستونزو په جوړولو پیل وکړ.

د سپتمبر د یوولسمې پېښه او په افغانستان د امریکا د ناروا یرغل ناوړه عواقب:

په داسې حال کې چې اسلامي امارت د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د ۱۱ مې په پیښه کې هیڅ ډول لاس نه درلود، د دې پرځای چې د پېښو په اړه یوه عادلانه او هر اړخیزه څېړنه شوې وای، بر عکس د امریکې د وخت ولسمشر جورج بوش نېغ په نېغه افغانستان او اسلامي امارت ته ګوته ونیوه، که څه هم اسلامي امارت له مختلفو لارو ډېرې هڅې وکړې چې نړیوالو ته قناعت ورکړي چې د پېښې په اړه څېړنه وشي، تر څو حقیقت معلوم شي؛ مګر اړونده امریکایي سیاستوالو په هېڅ ډول د منطق او عقل خبره نه اورېده.

همغه و چې امریکې په افغانستان یو ناروا او ظالمانه یرغل وکړ، په افغان ولس یې ړنده بمباري، میزاییل او راکټونه ویشتل پیل کړل.

دا دی څوارلس کاله پوره شول، د کومو اهدافو چې دوی شعار ورکاوه یو یې هم تر سره نه شو، بلکې عملا یې د هغو شعارونو په خلاف ګامونه پورته کړل چې له مخې یې په افغانستان باندې خپل یرغل توجیه کاوه، د امریکا دغه ناروا یرغل بې شمیره ناخوالې او ناوړه عواقب درلودل چې د نمونې په توګه په لاندې ډول د یو څو یادونه کوو:

۱ -د هېواد اشغال او اسلامي نظام له مینځه وړل:

یو اسلامي نظام چې د ولس غوښتنه او د مجاهدینو د پاکو وینو ثمره وه، هیواد یې له تجزیې ژغورلی و او عدالت یې پکې تامین کړی و، هغه یې د خپل ناروا یرغل په نتیجه کې له مینځه یوور، یو اسلامي او خپلواک هېواد یې اشغال کړ، د ولس او هېواد خپلواکي یې سلب کړه، د خپلې خوښې یوه بې صلاحیته او په فساد ککړه اداره یې رامینځ ته کړه چې واک یې له دوی سره دی، کوم څه چې دوی وغواړي په خلاص مټ یې کولی شي او هغه ناروا بشریت ضد جنایتونه یې وکړل چې په خپلو هېوادونو کې یې نشي کولی.

۲ -ملکي تلفات او مالي زیانونه:

د هېواد زیر بناوې یې نه دا چې په اساسي ډول جوړې نه کړې، بلکې د هېواد د معادنو او کانونو د غیر قانوني استخراج او چور لپاره یې زمینه برابره کړه، طبقاتي نظام یې پیاوړی او پراخه کړ، د خلکو تر مینځ یې د انساني خواخوږۍ، اسلامي ورورولۍ او اخلاقي ارزښتونو معیارونه ونړول، په لسهاوو زره عام خلک، سپین ږیري، ماشومان او ښځې یې شهیدان کړل، په ودونو، کلیو، جوماتونو، جنازو، بازارونو، مدرسو او ښوونځیو، ماشومانو او عامو خلکو یې بمبارۍ وکړې، د خلکو فصلونه، کښتونه او باغونه یې خراب کړل، خلک یې له خپلو کلیو او کورونو څخه کډه کولو ته اړایستل.

۳ -تعصبونو ته لمن وهل او د اسلامي او ملي ارزښتونو له منځه وړل:

له یرغل سره سم یې عملا د ولس په ټوټه کېدو لاس پورې کړ، د ولس تر منځ یې د قوم، ژبې، سمت او مذهب په نامه کرکې او نفرتونه وکړل، دا کار یې په ډېرو برخو او مختلفو کچو ترسره کړ، په اجتماعي برخه کې یې په تبلیغاتي بڼه په خپل لاس د جوړو کړیو رسنیو له لارې، او په حکومت کې د قوم، ژبې، سمت او مذهب په نامه د چوکیو د ویش او تقسیم له لارې دغه ناوړه کار ته لمن ووهله.

بار بار یې د اسلام او مسلمانانو د مبارک او مقدس کتاب قرآن کریم سپکاوی وکړ، د جوماتونو بې حرمتي یې وکړه، د شهیدانو د جسدونو سپکاوی یې وکړ، حتی د الله تعالی د مقدس ذات په وړاندې ګوستاخیانې وشوې، د دې جنایتونو د مرتکبینو حفاظت او ساتنه یې وکړه، او په ټولنه کې یې اخلاقي فساد رواج کړ.

۴ – په خلکو کې د ډار او ترهې فضا را منځته کول:

په داسې حال کې چې په کور کې واړه ماشومان په خواږه خوب ویده وي، یرغلګر او اندیوالان یې پرته له کوم مخکني خبر، یو په یو په دېوالونو ور اوري، دا کار نه یوازې د اسلامي قانون له مخې یو جنایت دی، بلکې د هر انساني قانون او عرف خلاف عمل دی، په افغاني ټولنه کې د ورځې له خوا د یو چا په کور ورننوتل ستر جنایت دی، دا چې د شپې له خوا د چا په کور څوک ورننوزي، هېڅکله یې افغاني غیرت نشي برداشت کولی، متاسفانه د دوی له خوا د افغان ولس په حق کې دا جنایت هره ورځ تر سره کېږي.

یرغلګرو په زرهاوو بې ګناه افغانان یا هسې په ظاهري بنه چې دوی ور سره نابلد دي، بندیان کړي، یا یې د خپلو ګومارل شویو جاسوسانو په غلطو راپورونو د زندان تورو تمبو ته اچولي او په کلونو کلونو بې سرنوشته هملته پراته دي، چې یوه شه بېلګه یې د بګرام کرغېړن زندان دی چې هلته له نورو زرګونو بي ګناه بندیانو سره ۶۰۰ یوازي هغه بندیان چې د بند موده یې هم پوره شوې، په غیر قانوني ډول په زندان کې ساتل شوي او د تعذیب شپې او ورځې تیروي او داسې شکنجې ورکوي چې ځینې بندیانو خپل ژوند له لاسه ور کړی، دا ډول دېرې پېښې رامنځ ته شوې دي، چې په رسنیو کې هم راغلي دي.

یرغلګرو د افغان ولس په منځ کې په عام ډول یوه د ډار او ترهې فضا حاکمه کړې، په کلیو او بانډو کې خلک نه د شپې په آرام وي نه د ورځې؛ ځکه هره شیبه د دې احتمال وي چې یرغلګر راشي، یا چاپې ووهي، او یا بمبار وکړي.

۵ –د کېمیاوي وسلو استعمالول:

په افغانستان کې د کیمیاوي وسلو استعمال بل هغه لوی جنایت دی چې یرغلګرو تر سره کړی، هغوی یوازې د عادي وسلو په کارولو بسنه نه ده کړې، بلکې داسې نښې نښانې شته او په دې اړه ځینې څېړنې هم شوې دي، چې ښیي یرغلګرو په افغانستان کې کیمیاوې وسلې استعمال کړې دي.

٦ -افغانستان د استخباراتو او مخدره موادو په مرکز بدلول:

یرغلګرو په خپل راتګ سره زموږ ګران هېواد افغانستان دنړیوالو استخباراتو په ځاله بدل کړ، تر پنځوسو زیاتو هېوادونو ته یې داسې زمینه برابره کړه چې په هېواد کې استخباراتي ځالې جوړې کړي او د خپلو شومو موخو لپاره په خلاص مټ کار وکړي، همدا رانګه د نشه یي توکو پدیدې چې اسلامي امارت یو مخیزه له مینځه وړې وه، متاسفانه چې د اشغال په دوران کې یې په بیساري او هر اړخیز ډول وده وکړه او په ملیونونو افغانان په نشه یې توکو روږدي شول.

۷ -د ښځو په وړاندې د زور زیاتي د پېښو زیاتوالی:

یو بل د پام وړ جنایت چې د یرغل په پایله کې رامنځته شوی، هغه له ښځو سره زور زیاتی، او د ښځو په وړاندې غیر انساني، غیر اخلاقي او غیر افغاني چلند دی، له کومې ورځې چې یرغلګر راغلي د ښځو په وړاندې د زور زیاتي پېښې دېرې شوې دي، له همدې کبله د ښځو ځان وژنه په ځانګړي ډول ځان سوځونه زیاته شوې، په ښځو په ځانګړي ډول په وړو ماشومانو د جنسي تېري (د پیښو) زیات راپورونه ثبت شوي دي، که څه هم یرغلګر دعوه کوي چې د ښځو لپاره یې د زده کړې او کار زمینه برابره کړې ده؛ خو که پام وشي د یو انسان لپاره تر هر څه د مخه ژوند لومړی او اساسي حق دی، چې باید خوندي وي، په داسې

حال کې چې د ځينو ښځو په ژوند او آبرو لوبې کېږي، که يو ځو نورو ته د تعليم او کار زمينه برابره شي، دې تـه د ښځو حقوق نشي ويل کېدی، د يادونې ده چـې د نجونـو د تعليم په هکله د دوی ارقام په حقـايقو نـه دي ولاړ بلکـې تـر ډيـره حـده تخـيلي دي، پـه دې اړه پـه خپلـه د کابـل اداري پـه اصطلاح د تعليم او تربيې وزرات ځينـو پخوانيـو چـارواکو او نورو نړيوالو څارونکو په مطبوعاتو کې لـه پټـو او حيرانوونکـو حقايقو پرده پورته کړې ده.

د کابل اداره بې واکه ده:

د کابل اداري چوکاټ څـوارلس کالـه وړانـدې پـه بـون کې د يرغلگرو په نوښت، مرسته او ملاتـړ جـوړ او پـه افغـان ولـس وتپـل شـوه او اوس هـم د هغـوی لـه خـوا پـه سياسي، اقتصادي او اداري برخو کې اداره کېږي، پـه هـر ملـک کـې نظامي ځواک د ملا د تېر حيثيت لري، کوم نظام چې پـوځي ځواک و نه لري، په دې معنی دی چې اصلا څه نـه لـري، او د چا چې نظامي ځواک د بل په واک کې وي، پـه دې معنـی چې اصلا خپلواکي او استقلال نـه لـري، د کابـل اداري پـه اصطلاح ملي اردو روزنه او تمويل د يرغلگـرو لـه خـوا تـرسره کيږي، ډوډۍ، تيل او معاش يې دوی ورکوي، پـه داسـې يـو حالـت کـې، آيـا دغـه عسـکر کـولی شي د هغـوی د امـر مخالفـت او د خپـل ولـس خـدمت وکـړي؟ آيـا دغـه نظـام خپلواک گڼل کېدی شي؟

د کابل اوسنۍ اداره قانوني مشروعيت نه لري:

ټولو ته واضحه ده چې د کابـل اداري اوسـنی سياسي برخليک متاسفانه د يرغلگرو په سفارت کې وټاکل شوا! که پام وشي په ټوله نـړۍ کـې داسـې بيلگـه نشـته چـې پـه يـوه چوکۍ دې دوه کسان موجـود وي، د کابـل اداري د اوسـنيو چارواکو تر مينځ لومړی واک پنځوس پنځـوس وويشـل شـو، وروسته پنځوس په خپلو کې ديرش، شل او لس وويشل شو.

په دې کې هېڅوک شک نه لـري چـې د کابـل اوسـنۍ اداره هـېڅ ډول قـانوني مشـروعيت نـه لـري، نـه د اسـلامي قانون له مخې او نه د غير اسلامي قوانينو لـه مخـې، پـه دې اړه بار بار خپله د اداري لوړ پوړو چارواکو او نـورو مسـتقلو سياسي محللينو هم څرگندونې کړې دي.

اداري فساد:

اداري فسـاد پـه حقيقـت کـې د کابـل اداري لپـاره د سرطان نـاروغي ده چـې ورځ تـر بلـې زيـاتېږي او اوس د دې اداري رسمي دنده بلل کيـږي، درغـلي او رشـوت، ظلـم، بې عدالتي، د حقوقو تر پښو لانـدې کـول پـه اداره کـې عـادي خبره گرځېدلې، له دې علاوه په نړۍ کې داسې فساد نشته چې په نوموړې اداره کې شتون ونه لري.

د مليشو په واسطه په ولس کې بـې امنيتـي رامـنځ ته کول:

د کابل اداره دومره بې کفايته او بې صلاحيته ده چـې د کابل ښار امنيت هم نشي تامينولی بلکې دوی خپله د بې امنيتۍ لامل دي؛ ځکه تر هر چا مخکې خپلـه د اداري لـوړ پوړي چارواکي قانون تر پښو لاندې کوي. له بلې خوا د کابل اداري د خپلو بهرنيو مشرانو پـه مرسـته، مشـوره او ملاتـړ د هېواد په گټو برخو کـې مليشـې او اربکيـان جـوړ کـړي، بې بندوباره، معتاد او بيسواده ځوانان يې پکې راټـول کـړي او د هغوی په نامـه امکانـات پـه خپلـو جيبونـو کـې اچـوي، چې اربکيان بيا خلک شکوي، غلاوې کوي، قتلونه کـوي، د خلکـو په آبرو او عزت تجاوزونه کوي.

له هيواده د ځوانانو تېښته:

د کابل د اداري يوه لويه ستونزه بيکـاري ده، پـه ولس حکومت کول د دې لپاره نه وي چې حکم پرې وچلوي بلکـې د دې لپاره وي چې د ولس لپاره هوسا ژوند برابـر کـړي او د خلکو خدمت وکړي، ډېر د تاسف ځای دی چې د هېواد او ولس په پانگه روزل شوي ځوانان د دې پـر ځـای چـې خپلـې خاورې او ولـس تـه خـدمت وکـړي، د موجـوده اداري د بـې کفـايتۍ او بـې اعتنـايي لـه کبلـه لـه خپلـې خـاورې پښـې سپکوي، د دقيقو شمېرنو له مخې نږدې دوه لکه ځوانـان پـه

دي لنډ وخت کې له هېواد څخه تښتېدلي دي چې د ماشومانو او ښځو په شمول یوه د پام وړ برخه یې په لارو ضایع شوي او په دریابونو کې ډوب شوي دي.

د افغانستان د اسلامي امارت لنډ تاریخ، اهداف او تګلاره:

دوه لسیزې مخکې کله چې ګران هیواد افغانستان او زموږ مسلمان ولس د یو ستر ناورین او نامعلوم سرنوشت سره مخ وو، یو تعداد مخلص افغان مجاهدین او د دیني مدارسو شاګردان د عالیقدر محترم امیرالمؤ منین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله تر مشرۍ لاندې د ولس د نجات لپاره راپورته شول، د دوی هدف دا و چې په هیواد کې نا امني ختمه او هیواد له تجزیې، ملوک الطوایفي او زورواکي څخه وژغوري، مهمه دا چې د اسلامي نظام په بڼه کې د مجاهدینو د قربانیو ثمره چې د ذات البیني جګړو له امله لا نه وه ترلاسه شوې او هغه د جهاد او مجاهدینو د بدنامۍ سبب ګرځیدلې وې، ترلاسه کړي.

دا یو افغاني او ولسي حرکت و او د قوت سر چینه یې د ولس ملا تړ تشکیلوله، د خپل ظهور نه سملاسي وروسته یې په هیواد کې د بشپړ امنیت په راوستلو سره د خپلسرۍ مخه ونیوله، د خلکو مال، سر او عزت یې خوندي کړل، د مخدره موادو د قاچاق او کښت مخنیوی یې وکړ، هیواد یې له احتمالي تجزیې وساته، ځمکنۍ بشرتیا یې تامین کړه، د سرحداتو ساتنه یې وکړه او د یوې واحدې ادارې او اسلامي نظام په رامنځته کولو سره یې د ملي وحدت په لور غښتلي ګامونه واخیستل.

اسلامي امارت د امریکا له یرغل وروسته:

په افغانستان باندې د امریکې له یرغل وروسته د اسلامي امارت مشرانو او مجاهدینو د الله تعالی په نصرت او د افغان مسلمان ولس په ملاتړ له اسلامي او ملي ارزښتونو څخه د دفاع په خاطر د قربانۍ او جهاد میدان ته راودانګل، په خپلو کمو وسایلو یې د یرغلګرو د پرمختللې جنګي تکنالوژۍ مقابله وکړه، د خپل کلک عزم، میړانې او لوړې حوصلې ثبوت یې هیوادوالو او نړیوالو ته وړاندې کړ.

د افغانستان اسلامي امارت د ځمکې پر سر یو مسلم حقیقت دی، اوس هم ټول حکومتي تشکیلات، او په ګڼو برخو کې د پام وړ لاسته راوړنې لري، د هیواد په زیاتو برخو کې ولس د امارت محکمو ته مراجعه کوي، د افغانستان په ډیرو سیمو کې تعلیمي چارې د اسلامي امارت په مرسته مخ پر وړاندې رواني دي.

اسلامي امارت د تېل شوي جنګ او د اشغال د خاتمې لپاره د نظامي او سیاسي دواړو لارو څخه کار اخیستی دی او د افغانستان د مسئلې د سوله ایز حل لپاره یې لومړی ځل په ۲۰۱۰ کال کې د خپل مشر عالیقدر امیرالمومنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله له منظورۍ سره سم د امریکا د متحده ایالاتو سره خبرو ته امادګي وښودله او د اعتماد سازۍ لپاره یې د یو لړ اقداماتو غوښتنه وکړه.

د اسلامي امارت نوی زعامت:

د امیر المومنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله له وفات وروسته، د اسلامي امارت د رهبرۍ شورا غړو، مشائخو او علماء کرامو چې د اهل الحل والعقد له شرعي اعتبار څخه برخمن وو، د یوې غونډې په ترڅ کې له اوږدو سلا مشورو وروسته، د ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله نږدې او د اعتماد وړ ملګری او د اسلامي امارت پخوانی مرستیال محترم ملا اختر محمد منصور د اسلامي امارت د امیر په حیث وټاکه.

د یادونې وړ ده چې د افغانستان د اسلامي امارت زعیم ملا اختر محمد منصور حفظه الله، د طالبانو د اسلامي تحریک د مخکښو او ابتدایي مسئولینو څخه دی، د امارت د علني واکمنۍ او په افغانستان باندې د امریکې د یرغل څخه وروسته یې د اسلامي امارت په مختلفو مهمو پوستونو کار کړی دی، د امریکایي یرغل نه وروسته د جهادي مقاومت په پراخولي او غښتلي کولو کې یې مهمه ونډه لرلې

ده او د ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله د نږدې او معتمدو کسانو څخه ګڼل کېده، او د تېرو شپږو کالونو راهیسې یې عملا د اسلامي امارت سرپرستي او مشري په غاړه درلوده.

له انتخابیدو وروسته امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور حفظه الله د اسلامي امارت د مجاهدینو او افغان مسلمان ولس لپاره یو لړ چاپي او صوتي بیانونه خپاره کړل چې په هغو کې یې د اشغال ختمولو، د اسلامي نظام قیام، د صف وحدت، د ملکي تلفاتو مخنیوی، د دیني او عصري تعلیم پراختیا او د ولس هوسایي او عدالت ته چې زمونږ د ولس ضرورت دی، خاصه توجه کړې، په ځانګړي ډول یې مجاهدینو ته لارښوونې کړې چې ولس سره به د خادم په توګه چلند کوي، په بې اساسه راپورونو به خلک نه ځوروي، د اسلامي امارت تر لاس لاندې سیمو کې به د دیني او عصري علومو لپاره زمینه برابروي، د ملکي تلفاتو مخنیوی وکړي، د سیمې د علماوو او قومي مشرانو سره مشوره کول به د خپل کار برخه ګرځوي، له دې علاوه یې د افغانستان د مسئلې د حل لپاره د نظامي لارې ترڅنګ سیاسي لاره هم پرانیستې پرېښې ده چې دلته زمونږ او تاسې ناسته د دې تګلارې عملي نمونه ده، څو افغان مسلمان او مجاهد ولس وکړی شي له سوله ایزې لارې خپلو مشروع اهدافو ته ورسیږي.

د اسلامي امارت اهداف:

روان جهاد د افغان مجاهد ولس یوه مقدسه جګړه او د سپېڅلو او لوړو اهدافو د تر لاسه کولو لپاره ده، د افغانستان اسلامي امارت د اقتدار د انحصار په فکر کې نه دی بلکې مخې ته یې لوړ اسلامي او ملي اهداف ایښودي دي، کوم چې د هر مؤمن او غیور افغان مشترکه ارزو ده، د نورو ترڅنګ، د اشغال خاتمه، د هېواد استقلال، د اسلامي نظام قیام او د ملي وحدت او د عدالت تامین، دا ټول د اسلامي امارت مهم اهداف دي.

۱ -د اشغال خاتمه:

د دې لپاره چې د هیواد د طبیعي ودې او وقار لاره پرانیزو، لازمي ده چې د افغانستان استقلال اعاده شي، اشغال ته د پای ټکی کېښېښودل شي، تر څو افغانان د ژوند په ټولو برخو: سیاسي، اقتصادي، اجتماعي، فرهنګي، تعلیمي او نورو برخو کې د خپل ولس په ګټه څواکمنې او ولس پلوې پریکړې وکړای شي، دا یو څرګند حقیقت دی چې په افغانستان کې اشغال د جګړې د دوام اسباب برابروي؛ نو لومړی باید مونږ افغانان دغه اسباب له منځه یوسو او یا په دې فکر وکړو چې څنګه یې له منځه وړلای شو، دغه کار به هیواد کې سولې او د افغانانو په خوښه نوي نظام جوړولو ته لاره هواره کړي.

۲ -افغان شموله اسلامي نظام رامنځ ته کول:

دا چې د افغان ولس مطلق اکثریت مسلمانان دي؛ نو په هېواد کې پرته له خپلواک اسلامي نظام نه بل نظام ستونزې نشي هوارولی، او افغان مسلمان ولس بل نظام نه مني؛ ځکه چې نژدې څلویښت کاله قرباني یې هم د همدې هدف لپاره ور کړې دي او لا یې ورکوي، او دا یې د ټولو قوانینو له مخې مسلم او ثابت حق دی چې د خپلې عقیدې او ارزښتونو سره سم نظام ولري.

اسلامي امارت د افهام او تفهیم پر اصل باور لري، غواړي چې د ټولو افغانانو سره په تفاهم او مشوره د یوه افغان شموله خپلواک اسلامي نظام لپاره کار وکړي.

۳ -په هیواد کې د امنیت او عدالت تامینول:

په هیواد کې امنیت او عدالت تامینول د اسلامي امارت د مهمو اهدافو څخه دي، اسلامي امارت د هیواد د آزادي په خاطر، له یوې خوا د اشغالګرو عسکرو او د هغوی د ملاتړو په خلاف جهادي مقاومت پرمخ بیایي، له بلی خوا نه پریږدي چې د کابل د ادارې تر سیوري لاندې اختطافګر، غصب کوونکي او غله زمونږ د هیوادوالو ژوند نا امنه او نا آرامه کړي، په ټول هیواد کې یې قضایي سیستم فعال کړی

او د اداري فساد پرته د هیوادوالو ستونزې هواروي، د هیوادوالو سر او مال ته د زیان رسولو مخنیوی کوي، که په هیواد کې د اسلامي امارت عدلي او قضایي قوه موجوده نه وای، خپلسرو وسله والو به په هیواد کې د نویمې لسیزې غمیزې بیا تکرار کړې وای.

۴ -سمتي او قومي تبعیض او تعصب له منځه وړل:

اسلامي امارت د ټولو افغانانو کور دی، په دې کور کې د هیواد له هرې برخې ځخه مسلمان او مجاهد افغانان راټول شوي دي، څنګه چې په اسلام کې معیار امانت او تقوی ده؛ نو د اسلامي امارت لارښوونکی معیار هم په همدې اصل ولاړ دی، اسلامي امارت د هر ډول سمتي او قومي تبعیض او تعصب سره مخالف دی، او باور لري چې په هیواد کې د ژبني او سمتي تعصب پراخولی او هوا ورکول د افغانانو کار نه دی بلکې دا د پردیو پروژه ده چې د خپلو شومو اهدافو د لاسته راوړلو لپاره غواړي لومړی افغانان په یوه او بل نوم سره وویشي۔ او بیا خپلو شومو سیاسي، فرهنګي او اقتصادي موخو ته ځان ورسوي، باید ټول افغانان دغه ټکي ته متوجه شي او د مخنیوي لپاره یې کار وکړي.

د اسلامي امارت داخلي تګلاره:

۱ -د شریعت په چوکاټ کې د بیان د آزادي تامینول:

اسلامي امارت د بیان آزادي ته ځان ژمن بولي، سالم انتقاد د ټولنې د اصلاح او پرمختګ لپاره یو ضرورت ګڼي، که د بیان آزادي نه وي، په ټولنه کې فساد او ظلم رامنځ ته کیږي، اسلامي عدالت ته زیان رسیږي او ټولنه د تمدن په ځای د وحشت او ګډوډي لور ته درومي، موږ په اسلام کې د آزادي لپاره څرګند اصول او عملي نمونې لرو چې زموږ لپاره د لارښود کار کوي، اسلامي امارت د ټولو هغو مدني ټولنو هر کلی کوي چې د افغان ولس خدمت ته یې ملاوې تړلې دي او د اسلامي اصولو په رڼا کې افغانیت او انساني کرامت ته ژمنې وي.

د بیان آزادي باید د اسلامي اصولو او افغاني ارزښتو په چوکاټ کې وي، هغه آزادي چې خلک بد اخلاقي او انحراف ته رابولي او زموږ د هیواد اسلامي او ملي مصالح متضرر کوي، هغه زموږ اسلامي ټولنې ته نه جبیره کیدونکي زیانونه اړوي.

۲ -دیني او عصري تعلیم ته زمینه برابرول:

اسلامي امارت دیني او عصري زده کړې د افغان ولس لپاره ضروري ګڼي، په نننی عصر کې له تعلیم پرته د هیواد پرمختګ او اقتصادي شیرازي ناشونې ده، لکه څنګه چې د یو مسلمان لپاره دیني زده کړې ضروري او حیاتي دي، همدغه شان عصري زده کړې هم لازمي او لوړ ارزښت لري، په اوسني وخت کې سره له دې چې اسلامي امارت د اشغال د خاتمې لپاره په جهادي مقاومت بوخت دی او کافي مالي وسایل په اختیار کې نلري لکن د اسلامي امارت زعیم محترم امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور حفظه الله پخپل تیر اختریز پیغام کې د اسلامي امارت مجاهدینو ته هدایت کړی چې د خپل لاس لاندې سیمو کې د دیني او عصري تعلیم لپاره زمینه برابره کړي، همدا راز، د اسلامي امارت مشرتابه په هیواد کې د دیني او عصري زده کړو د پراختیا لپاره پخپلو تشکیلاتو کې د تعلیم او تربیې او عالي تحصیلاتو ځانګړی کمیسیون جوړ کړی چې د هیواد په ټولو ولایتونو کې نمایندګان لري او په هیواد کې د تعلیم د پرمختیا او پراختیا لپاره کارکوي، اسلامي امارت په دې برخه کې په خپلو هڅو قانع نه دی بلکې غواړي په دې برخه کې نور کار هم وکړي.

۳ -د اسلامي اصولو په رڼا کې ښځو ته مشروع حقوق ورکول:

اسلامي امارت د ژوند په ټولو برخو کې د ښځو هغو حقوقو ته ځان ژمن بولي چې د اسلام مبارک دین ورکړي

دي، ښځه په اسلام کې د ملکيت حق لري، د ميراث حق لري، د علم او کار حق لري، اسلامي امارت به د ښځو دغه حقوق په داسې ډول خوندي کړي چې نه د هغوی روا حقوق تر پښو لاندې شي او نه يې انساني کرامت او اسلامي ارزښت له ګواښ سره مخ شي.

۴ -د ملکي تلفاتو مخنيوی:

اسلامي امارت د ملکي تلفاتو د مخنيوي لپاره واضحه ستراتيژي او عملي تګلاره جوړه کړې چې وخت په وخت يې اعلام کړي او هم يې خپلو ټولو مجاهدينو ته رسولې ده، همدا شان په هغوی يې د عملي کولو لپاره لازم مقررات وضع کړي دي، هر ولسي-وګړي ته چې ضرر رسيږي، دا داسې دي لکه په خپله چې اسلامي امارت ته ضرر رسيږي؛ ځکه اسلامي امارت د ولس له منځ څخه راټوکيدلی او د ولس په مينځ کې اوسيږي.

همدا ولس دی چې اسلامي امارت سره د روان جهادي مقاومت په پرمخ وړلو کې مرسته کوي، نو د ولس هوسايي او خونديتوب د اسلامي امارت له لویو اهدافو څخه دي، د اسلامي امارت مشر حفظه الله تعالی په خپل اختريز پيغام کې ټل د خلکو د سر، مال او عزت په ساتنه او د ملکي تلفاتو په مخنيوي ټينګار کړی، د همدې لپاره يې د ملکي تلفاتو د مخنيوي لپاره يوه مستقله او با صلاحيته اداره جوړه کړې ده.

۵ -د عام المنفعه تاسيساتو او ملي اثاثو ساتل:

اسلامي امارت د عام المنفعه تاسيساتو جوړول او ساتل د خپل هيواد او هيوادوالو د هوسا ژوند لپاره يوه اړينه اړتيا بولي، پلونه، تونلونه، د اوبو بندونه، د اوبه خور سيستمونه، بريښنا کوټونه، د بريښنا د انتقال مراکز، د کانونو د استخراج، د نفتو د تصفيې مراکز او سامان الات يې، تعليمي اداري، مدرسې، مساجد، ښوونځي، پوهنتونونه، صحي مراکز، کلينيکونه، روغتونونه او داسې نور عام المنفعه ځايونه اسلامي امارت د ولس مشترک مال ګڼي او ساتنه يې خپله وجيبه بولي، په دې اړوند اسلامي امارت د ولس د منفعت په خاطرد ټاپي پروژې او دې ته ورته نورو ملي پروژو ملاتړ کوي او هر نوع همکارۍ ته تيار دی او د خپلو جهادي عملياتو په دوران کې د هيواد ملي مصالح په نظر کې نيسي.

د اسلامي امارت بهرنی تګلاره

د متقابل احترام په اساس د ګاونډيانو، او نړيوالو سره روابط ساتل او پراخول:

اسلامي امارت د متقابل احترام پر اساس د نړۍ له هيوادونو، د ملګرو ملتونو، اسلامي کنفرانس په ګډون له نورو نړيوالو مؤسساتو سره د ښو او مثمرو اړيکو په لرلو باندې باور لري او ټول هغه نړيوال قوانين مني چې له اسلامي اصولو او زمونږ له ملي ارزښتونو سره په ټکر کې نه وي، د هر هيواد د مثبت او رغنده رول هر کلی کوي چې د افغانستان د ريښتوني پرمختګ او د افغانانو د هوسايي لپاره وي، او د سيمه ايزې او نړيوالې سولې او ثبات د تفاهم لاره پرمخ بيول غواړي.

اسلامي امارت يو ځل بيا ګاونډيو ملکونو، سيمه ايزو هيوادونو او نړيوالو ته د خپلې پاليسۍ په اړه تاکيدا وايي چې اسلامي امارت اراده نلري چې نورو ملکونو او يا د هغوی اتباعو ته ضرر ورسوي او نه به چاته اجازه ورکړي چې د افغانستان خاوره د بل چا په ضرر استعمال کړي او بل چاته هم اجازه نه ورکوي چې زمونږ په کورنيو چارو کې لاسوهنه وکړي، اوس چې موږ په هيواد کې د اشغال په خلاف په جګړه بوخت يو، د نړۍ په هيڅ ګوټ کې د کوم حکومت يا ولس په خلاف په تخريبي اعمالو کې ښکيل نه يو او نه يې غواړو چې دا زمونږ د تګلارې عملي مثال دی.

سوله:

۱ -د سولې اړتيا:

سوله د هرې ټولنې لومړۍ اړتيا ده، په تيره بيا د مظلومو افغانانو تر ټولو مهمه غوښتنه ده، له سولې پرته آرام ژوند او اقتصادي، تعليمي، فرهنګي، اجتماعي او سياسي پرمختګ ناشونی دی، يوازې په سوله کې ولسونو اوهيوادونو پرمختګ کړی، لکن سوله يوازې په ويناوو او شعارونو منځ ته نه راځي بلکې کلکې ارادې او ښکاره عمل ته اړتيا لري، هر چيرې چې د ولسونو څخه د آزادۍ حق واخيستل شي، د انصاف او حق ځای ظلم او بې انصافي ونيسي، د کمزوري حق په زور تر پښو لاندې شي، ظاهره ده چې هلته به سوله له منځه ځي.

جنګ په اسلامي امارت او افغان ولس تپل شوی دی؛ څکه چې هيواد اشغال شوی، اشغالګرو او د دوی داخلي ملګرو يې په هيواد کې يوه فاسده لاسپوڅې اداره رامنځ ته کړې؛ نو تر ټولو د مخه بايد هغه عوامل له منځه لاړ شي چې په افغانستان کې د سولې له منځه تګ او جنګ د دوام باعث ګرځيدلي دي.

۲ -سوله بايد تګلاره وي نه پروژه يا شعار:

متاسفانه په افغانستان کې په تيره يوه نيمه لسيزه کې سوله يوازې تر شعاره محدوده پاتې شوې، خارجيانو او د خارجيانو په لاس جوړې شوې اداري تل سولې ته د ضرورت په ځای د يوه تکتيک په سترګه کتلي دي، کله وايي سوله کوو، کله وايي سوله نه کوو، څو زريزه مليشې جوړوو، د قوت په زور به وسلوال ختموو، نور شريکان يې بيا نورې خبرې کوي!

۳ -د سولې په هکله د امريکې متزلزل موقف او د زور د استعمال پاليسي:

د امريکا پاليسي په افغانستان کې تل يو قدم مخته او دوه قدمه شاته ولاړه ده، هيڅ وخت په خپلو ژمنو نه دريږي، بلکې د خپلو ژمنو څخه د يوتکتيک په توګه کار اخلي، تاسو ليدلي چې په تيره يوه نيمه لسيزه کې يې خپل ټول زور وکاراوه؛ خو کامياب نه شول، وروسته يې بيا د سولې غږ د يو تکتيک په ډول پورته کړ نه د واقعي سولې لپاره.

امريکايانو ته په کار ده، لکه څنګه چې افغانستان ته مخامخ ننوتل او حمله يې پرې وکړه، همداسې نن بايد د سولې پروسې ته هم مخامخ ننوزي، امريکا ته په کار ده چې د سولې اړوند روښانه تګلاره خپله کړي او متزلزل موقف چې ډير ځلې يې پرجګړه اصرار کړی او کله کله يې د سولې شعار پورته کړی، په دغه موقف باندې تجديد نظر وکړي.

۴ -د سولې په اړه منفي تبليغات:

تر څو چې امريکايان او نور داخلي او خارجي ملګري يې د سولې پروسې ته د جوړجاړي د يوې واقعي پروسې په نظر ونه ګوري، سوله نه شي راتلای، د سولې له پروسې څخه بايد د رواني او تبليغاتي جنګ حربه جوړه نه کړي، که داسې نه وي نو دابه سوله نه بلکې ځان تيرايستنه وي، کله چې د سولې خبرو ته زمينه سازي کيږي، نړيوال کنفرانسونه جوړيږي مغرض حلقات يې مخنيوی کوي، او کابل اداره کې هم ډيرې رسنۍ زهرجن او منفي تبليغات کوي چې د سولې د پرمختګ مانع ګرځي.

د جنگ د اوږدولو لپاره د کابل اداري له خوا د بهرنيانو دعوتول او د سولې ناري وهل، د اوسنی اداري هغه هڅې دي چې غواړي ځان ته وخت واخلي او خپله لړزانده بقا وغځوي.

د سولې لپاره مقدماتي اقدامات:

مخکې له دې چې د سولې خبرې پيل شي، بايد ځينې مقدماتي گامونه پورته شي، چې هغه د سولې لپاره ضروري دي او د اعتماد سازي برخه ده لکه:

١ –دفتر پرانيستل:

د خبرو لپاره ځای او د ارتباط محل چې د دفتر په شکل کې وي، ضرورت دی، اوس د خبرو د ځای په توگه د اسلامي امارت ښکاره او رسمي ادرس چې يو ابتدايي ضرورت دی، نشته، بايد وواېو د سولې اړوند منظم مجلسونه يوازې د دفتر په شتون کې ترسره کېدای شي، دفتر د دې لپاره هم ضرور دی چې د سولې اړوند مطبوعاتي بيانونه ورکړي، د خلکو پوښتنو ته د يوه مسئول جهت په توگه ځواب ووايي او د ولس انديښنې ليرې کړي، همداراز د سولې ضد کړيو ته به دا بهانه په لاس نه ورځي چې د طالبانو رسمي ادرس نه دی معلوم.

٢ –تورليست ختمول:

دا يو بې بنياده او ړوند ليست دی، په دې کې داسې کسان هم شامل دي چې له اسلامي امارت سره هيڅ تړاو نلري، ځينې يې د کابل په اداره کې دي، او ځينې داسې کسان دي چې اوس وفات شوي خو په ليست کې موجود دي، د سولې پروسه او تورليست دوه متضاد مفاهيم دي، له يوه او بل سره اړخ نه لگوي؛ نو په کار ده چې تورليست او د جايزې ليست ختم شي، تر څو د طالبانو استازي وکولای شي پرته له ستونزو د سولې اړوند خبرو کې په بېلابېلو ځايونو کې برخه واخلي.

دا هم ضروري ده چې د سولې دواړه خواوې په آزاده فضا کې او د هر ډول فشار پرته د سولې پروسه پر مخ بوزي، نه دا چې يو لوری په تور ليست کې وي، آزاد سفر نشي-کولی، هر وخت د تعقيب لاندې وي، او بل لوری آزادي ولري او د تور ليست کارت له ځان سره گرځوي، هر وخت چې وغواړي د فشار په توگه يې استعمال کړي، دغه بې انډوله پروسه نه پرمخ تلی شي او نه مطلوبه نتيجه ورکوي.

٣ –د بنديانو آزادول:

امريکا او د دوی تحت الحمايه رژيم د مجاهدينو او د بې گناه افغانانو نيول او زندانونو ته اچول د سولې سره متضاد عمل دی؛ ځکه امريکا او د دوی تحت الحمايه رژيم په لسگونه زره افغانان او مجاهدين په خپلو پټو او ښکاره زندانونو کې اچولي او له هغوی سره د ټولو قوانينو خلاف ناوړه او بد چلند کوي، دا څنگه کېدای شي چې يو څوک دې له يو طرف نه د سولې چيغې وهي او له بل طرفه دې داسې ناوړه او غير قانوني کړنې ترسره کوي؟ دا په خپله د سولې اړوند يو مانع دی، د واقعي سولې راتلو او فاصلې کمولو له پاره بايد جانب مقابل د اسلامي امارت مجاهدين او عام افغانان چې اوس په زندانونو کې دي، آزاد کړي.

٤ -د اسلامي امارت په خلاف زهرجن تبليغات درول:

موږ مخکې وويل چې د کابل اداري او ملا تړي يې د اسلامي امارت پر خلاف د تبليغاتو ميدان گرم ساتلی، اکثره رسنۍ د شته اداري په ولکه کې دي او امريکا يې هر اړخيز ملاتړ کوي او په اسلامي امارت هر ډول تورونه پوري کوي، چې دا په خپله د سولې د پرمختگ مانع گرځي، همداراز ځيني استخباراتي کړۍ ناوړه پېښو ته لاس اچوي، پلونه الوزوي، د ښوونځيو په شاگردانو تيزاب پاشي او د سرک تر غاړې په ملکي موټرونو چاودنې کوي؛ خو د کابل اداري پوري مربوطې رسنۍ په پټو سترگو دغه پېښې د

اسلامي امارت په خلاف د خپلو زهرجنو تبليغاتو لپاره د خامو موادو په توګه استعمالوي او هغه نتايج هم نه اعلانوي کله چې د تحقيقاتو په پای کې ثابته شي چې دغه دول ناوړه اعمال د اسلامي امارت د مجاهدينو نه بلکې د استخباراتي کړيو دي، دا ځکه چې دوی فکر کوي په دې ډول به اسلامي امارت له ولس او نړۍ څخه منزوي وساتي او د خپل اقتدار ورځې به نورې هم اوږدې کړي، د داسې زهرجنو تبليغاتو په څپو کې حقيقت او سوله دواړه قرباني کيږي.

د سولې په وړاندې خنډونه:

۱ –اشغال

د واقعي سولې لپاره بايد د ولس ارادې ته غاړه کښېودل شي، اشغال پای ته ورسول شي، اشغال د ټولو غميزو مور ده، په افغانستان کې سوله او د خارجي قواوو وتل يو له بل سره تړلي دي؛ ځکه چې د خارجي قواوو وتل د سولې لپاره عملي زمينه برابروي، متاسفانه لا تر اوسه په افغانستان کې سوله راوستل د نړيوالو او سيمه ايزو لوبغاړو له خوا د يو تکتيک په توګه کارول شوې او دا د ولس په سترګو کې خاورې اچول دي.

موږ وينو چې ځينې خواوې کوشش کوي د واقعي سولې په ځای اسلامي امارت تسليمۍ ته اړباسي، دوی فکر کوي چې لومړی بايد اسلامي امارت په نظامي ډګر کې کمزوری کړي، بيا به يې د قوي دريځ څخه سولې ته مجبور کړي؛ خو دا يوازې ځان تير ايستل دي چې له ځمکنيو حقايقو سره اړخ نه لګوي، د اسلامي امارت تر شا افغان مجاهد ولس ټينګ ولاړ دی، يرغلګر او انډيوالان يې بايد ومني چې د نړۍ هيڅ قوت ولسي قوت له مينځه نشي وړلای، او نه ستونزه د بې مسوليته او غير قانوني تړونونو په لاسليکولو هواريږي، اصلي خبره دا ده چې د سولې لپاره پخې ارادې او په واقعيتونو ولاړې ستراتيژۍ ته چې په هغه کې د اشغال خاتمه مهم جز دی، اړتياده، نه دا چې په دې اړه د وينا او عمل ترمينځ يې توپير وي.

۲ –د اسلامي نظام نه شتون

په افغانستان کې د سولې او ثبات لپاره بايد د داسې افغان شموله خپلواک اسلامي نظام په رامنځته کيدو توافق وشي چې افغانانو ته د منلو وړ او د اسلامي او افغاني ارزښتونو ځرګندوی وي؛ ځکه چې اسلام د افغان ولس دين او د هيواد د اقتصادي ترقي، اجتماعي عدالت او ملي يو والي ضامن دی.

۳ –د سولې د توافقاتو د تضمين نه شتون

د سولې پروسه تضمين ته اړتيا لري؛ ځکه د دې پرته د سولې د توافقاتو مادې په سمه توګه نشي پلې کيدلای، لهذا ملګري ملتونه، لوی قوتونه، اسلامي کنفرانس غړي او تسهيلاتو برابروونکي هيوادونه بايد د توافقاتو د عملي کيدو تضمين وکړي.

۴ –فعلي اساسي قانون

اساسي قانون د هر هيواد لپاره مبرم ضرورت دی؛ ځکه چې له هغه پرته د ولس او هيواد د پرمختګ چارې له ګنو ستونزو او ګډوډيو سره مخامخ کيږي، د اساسي قانون له لارې د افغانستان د هر وګړي شخصي، مدني او سياسي حقوق تنظيميږي، د حکومت او ولس په مينځ کې به د اړيکو ځرنګوالی روښانه کړي، د حکومتي درې ګونو قواوو پر توازن به رڼا واچوي، تشکيلات او واک به مشخص کړي، په مجموع کې به د افغانستان د کورني او بهرني سياست په اړه تګلاره وټاکي.

له همدې امله اسلامي امارت د خپل ګران هيواد او غيور ولس د پرمختګ، هوسا ژوند او د چارو د بهبود لپاره يو داسې اساسي قانون ضرور بولي چې د اسلام د مبارک دين د اصولو، ملي ګټو، تاريخي وياړونو او ټولنيز عدالت پر بنسټ ولاړ وي، انساني کرامت، ملي ارزښتونو او بشري حقوقو ته ژمن وي، د هيواد د ځمکنۍ بشپړتيا او د ټولو هيوادوالو د ټولو حقوقو ضمانت وکړای شي.

د اساسي قانون مسوده به د حريت په آزاده فضا کې د افغاني علماوو او پوهانو لخوا ترتيبيږي، د کابل اداري موجوده اساسي قانون ځکه د اعتبار وړ نه دی چې د غرب ځخه کاپي شوی، او د اشغالگرو د اشغال تر سيوري لاندې د افغانستان په مسلماني ټولنې باندې تپل شوی دی، د افغانانو غوښتنو ته جواب نشي ويلای او خپله د کابل اداري د لوړ پوړو چارواکو له خوا په پرله پسې ډول نقض کيږي؛ ځکه چې مواد يې په خپلو کې متضاد او مبهم دي، لهذا اوسنی اساسي قانون په فعلي بڼه کې د سولې په وړاندې يو لوی خنډ دی.

۵ –د سولې پر ځای د جنګ پاليسۍ ته ادامه ورکول:

سوله ايز مذاکرات کول او سوله راوستل هغه جملې دي چې د کابل د اداري د مشرانو له خوا تل تکراريږي؛ خو په عملي ډول هر وخت د سولې د خبرو په ځای د دولتي ځواکونو لخوا په سلگونو ځمکنی او هوايي بريدونه پکې ترسره کيږي چې دا هم د سولې په لاره کې بل خنډ دی.

له نړيوالو ځخه زموږ غوښتنې:

۱ -موږ د نړۍ د ولسونو او منصفو هيوادونو، اسلامي حکومتونو او ولسونو، ملګرو ملتونو، اسلامي کنفرانس او په ځانګړي ډول د علماوو له نړيوالې ټولنې ځخه غواړو چې د افغانستان د استقلال د ترلاسه کولو په لاره کې د افغانستان د ولس سره مرسته وکړي تر څو د افغانستان مظلوم ولس خپلواکې ترلاسه او د خپلو اسلامي او ملي ارزښتونو مطابق حکومت جوړ کړي.

۲ -موږ د نړۍ له ټولو ولسونو ځخه چې حکومتونو يې د دوی د ارادو او غوښتنو پر خلاف د افغان مظلوم ولس د وژلو لپاره د دوی زامن افغانستان ته رالیږلي، غواړو چې پر خپلو حکومتونو فشار راوړي چې زمونږ له هيواد نه خپل پوځونه وباسي او خپل اولادونه د مرګ له کومي وژغوري.

۳ -د نړيوالې ټولنې نه غوښتنه کوو چې د اسلامي امارت د ټولو غړيو لپاره د آزاد سفر سهولتونه برابر او د شته خنډونو په له منځه وړلو کې هڅې وکړي.

۴ -امريکا او ورسره ملګري يې بايد د افغان ولس او د خپلو ولسونو ارادو ته غاړه کيږدي، خپل پوځونه وباسي او نور د مظلومو افغانانو له وژلو او ځورولو نه لاس په سر شي، د دې پر ځای داسې مرستې ورسره وکړي چې د ولسونو ترمنځ د سولې او آرامۍ فضا رامنځ ته کړي او هم په نړۍ کې د امن، ثبات او پرمختګ سبب وګرځي.

۵ -د عدالت له پلي کولو نه پرته حق او حقيقت ته رسيدل ناممکن دي، موږ د نړۍ له هيوادونو غواړو چې د اسلامي امارت غږ په نړيواله سطح واوريدل شي او د اظهار نظر فرصت ورته ميسر شي، ترڅو په افغانستان کې د واقعيتونو په اړوند له نبږدې نړيوالو ته خپل نظر ورسوي؛ ځکه يو طرفه قضاوت چې اوس د اسلامي امارت په خلاف ترسره کيږي، د ظلم او جنګ د دوام سبب ګرځي.

٦ -اسلامي امارت ټولو ته اعلانوي چې د ښوونځيو د ورانولو، سوزولو او يا د زده کوونکو د مسمولو اعمال غندي او په داسې ناوړه کارونو کې لاس نلري؛ نو د ټولو رسنيو ځخه زموږ غوښتنه دا ده چې د ژورناليزم د اصولو مطابق واقعيتونه منعکس کړي او د هيوادونو د مشخصو حکومتي تکلارو له مخې موږ د تبليغاتو قرباني نکړي.

ملا خیبر احمد مجاهد

دبدرالفتاوی زریني ورانگي

په دې کې شک نشته چې بشر په نورو پرمختیاوو سربېره دعلمي تیکنالوجي په میدان کې هم حیرانوونکې پرمختیاوې کړې اوسترې لاسته راوړنې یې لرلې دي ،چې بېلګې یې سپوږمکۍ کمپیوټر، انټرنیټ، برېښنایي وسایل او... دي .

خوپه همدومره عصري پرمختګونو برسېره هم کتاب دانسانانو ترمنځ ځانګړی ځای اومقام لري ، چې دعلم اوپوهې په استعدا پیدا کولو کې او دتاریخي ارزښتونو دساتنې په برخه کې بهترینه وسیله اواطمناني سرچینه بلل کېږي .

داچې تالیف او تصنیف دکتاب په شکل اوحصار کې راشي نو بیاله تصریف او لاسوهنو څخه محفوظ وګرځي، داستدلال او باور یو تل پاتې روح ور وبښل شي، چې په هر دور اوعصر کې په ډېراطمنان او اعتهاد ترېنه دمسائلو اومنازعاتو په حل کې ګټه اخیستل کېږي اوعلمي ارتقاء پرې حاصلېږي .

نني عصري اوعلمي وسایل بیا دومره دادمن نه بلل کېږي ،ځکه چې دقسماقسم تصرفاتوامکانات په کې شته دي اودا وېره ورسره تړلې وي ، چې مبادا په دغه اثر اولیه کنه کې بېځایه دخل اولاسوهنه نه وي شوي .

همدغه وجوهات دي چې داسلام اوبشریت ستر ناجي حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په خپل مبارک حدیث کې چې جلیل القدر صحابي حضرت انس رضی الله تعالی عنه ،یې روایت کړی او هغه امام طبري او حاکم دواړو رانقل کړی، فرمایي: " قیدوا العلم بالکتاب" یعني تاسې راونغاړئ اومحفوظ کړئ علم (مسائل) په کتاب یعني لیکنه کې ، ترڅو دعلماو و اوددین دامامانوپه رحلت اووفات سره علوم له ضیاع اوو رکېدو څخه وژغورل شي.

همدارنګه امام احمدبن حنبل په خپل مسندکې رانقل کړي دي چې جلیل القدر عالم امام محمد رحمه الله فرمایي :" إن ذهاب العلم أن یذهب حملته" یعني د علم تګ او زوال هغه مهال راځي چې کله علماء کوچ وکړي.

دغه ډول حافظ ابن حجر (رحمه الله) په خپل جامع کتاب فتح الباري شرح صحیح البخاري کې لیکلي دي :

« اكْتُبُوا الْعِلْمَ قَبْلَ ذَهَابِ الْعُلَمَاءِ، وَإِنَّمَاذَهَابُ الْعِلْمِ مَوْتُ الْعُلَمَاءِ » ژباړه : درج کړئ او ولیکئ علم، دعلماوو له تګ او وفات وړاندې ، په تحقیق سره چې دعلم تګ او زوال دعلماووپه تګ اورحلت سره دی.

حقیقت هم دادی چې دصدر اسلام له زرین دور وروسته ترننه پورې چې ددین اوشریعت ډیوه روښانه دهاواسلام دضابطه حیات په شکل کې په نړۍ خپلې شغلې رڼې اوغښتلې ساتلې داپه هر دور کې د فقهاوو، مجتهدینو اوعلماوو د استنباطاتو، تصنیفاتو اوعلمي خواریواوتکلیفو نونتیجه ده.

دامام ابوحنیفه اونورو امامانو، محدثینو، مجتهدینو،فقهاوو، اوپه متاخرینو کې د (دیوبندي) منهج اسلافو اومشایخو جهدونه او مساعي وو چې د فقهي او محدثانه استنباطاتو او اجتهاداتوپه توسط یې داسلامي علومو اوپه خاص ډول دفقهي ددقیق اووسیع علم منارونه هسک اودنګ وساتل اومونږته یې خپل علمي آثارپه میراث کې راپرېښودل.

یقیناچې داسې به ډېر کم پېښ شوي وي چې داسلام اوشریعت ستوري اوامامان دې کوم یوله مداره پرېوتی وي، او له ځان سره دې دعلم ذخیري او خزاني هم وړي اویا ورسره دفن شوي وي، بلکې لله الحمد هغوئ دخپل لوی بصیرت او کمالاتو له مخې چې الله تعالی ورته ورکړي ووامت ته ددیني علومو پراخه تشریح د سترو ستړو کتابونو، شروحو، فتاواوو اوتحقیقاتو په بڼه کې لورولې، چې مصدر یې الهي کلام، نبوي سنت اودصحابه وو اقوال او آثار دي.

دیاودنې وړدی چې دفقهاوو او امامانو تالیفونه دلویولویوفتاواوواو کتابونوپه شکل کې لیکل شوي دي اوله هغوئ څخه په میراث کې راپاتې دي او دامت ټول ضروریات چې هغه عبادات، معاملات، معاشرت، آداب، اخلاق، ایمانیات، عقاید، فِرَق، مِلل، تاریخ، سیرت، تصوف، سلوک، سیاست اودنوي عصرټول مسائل دي پکې شتون لري،چې په سره سینه یې څېړلې او هرې برخې ته یې دحل مُقنعي لارې چارې په ګوته کړي، بې له شکه دا ددوئ لوی اونه هېرېدونکې خدمتونه اوتل پاتېکارنامې دي.

همدغه وجه ده چې حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دالله تعالی په نزد دفقهاوو مقام اوځانګړتیا په خپل مبارک حدیث کې داسې ښوولې ده فرمایي: مَنْ یُرِدِ اللَّهُ بِهِ خَیْرًا یُفَقِّهْهُ فِي الدِّینِ (صحیح البخاري - کِتَاب الْعِلْم). یعني چاته چې الله تعالی دخیر اوسعادت اراده وکړي نوپه دین کې پوهه ورپه برخه کړي.

یقیناچې په دین کې پوهه او تفقه هغه نېکبختي اوکمال دی چې په صاحب اوڅښتن کې یې دالله تعالی خشیت اووېره اثر اوحلول کوي، دالله تعالی دشعایرو حرمت او درناوی یې په زړه کې ځای نیسي. اوددین یو ښتینی سپاهي ترېنه جوړېږي، چې په علمي قوت اووسله بیا دشریعت له هر حکم څخه ساتنه اودفاع کوي اوپه خپل دور اوعصراوژوند کې داسلام دنازولي پیغمبرصلی الله علیه وسلم دحقیقي وارث خطاب ورته کېږي.

خلاصه داچې یاد کمالات اومرتبې الله تعالی هغه چا ته ورکوي چې هغه ته محبوب اونږ دې وي او الله تعالی ته نږدېوالی اومحبوب ګرځېدل په ښتیا چې ستر مقام اولوی انعام دی.

دفقهې ستره خزانه بدرالفتاوی فی الفقه الحنفي:

په دې ورستيو کې يولوراند ملګرې د (بدرالفتاوی فی الفقه الحنفي) په نامه دفتاوی زېرې رابانډبوکړ چې د اسلامي امارت دتېرې واکمنۍ په مهال هغه فتوا ګانې چې داسلامي امارت د مرکزي دارالافتاء له لوري چې مشري يې دهېواد او امت په سطحه دنوميالي فقيه عالم اوپه ټولو ديني علومواوفنونو کې دبرلاسي استاذ حضرت مولانا نور محمد ثاقب صاحب حفظه الله په غاړه وه، د ده په سرپرستۍ اودګنو نورو مفتيانوپه ملګرتيا کې په پوره څېړنې سره استفتاء ګانو ته ځوابونه ويلي شوي وو لومړی جلد يې دچاپ په ګاڼه پسوللی شوی، چې له تلاش او هڅو ورسته له نېکه مرغه بدرالفتاوی لومړی ټوک لاسته راغله ، ترېوه حده مې ولوستله اوپه زړه پورې استفاده مې ورڅخه وکړه .

داکتاب په دې سربېره چې په اعلی صحافت، معياري کمپوز، روښانه چاپ اورنګينه پښتي باندې ښکلی اوبرابر شوی ، چې په ليدو يې دانسان سترګې روښانه کېږي اوتوجه جلبوي . غواړم چې په دې ليکنه کې يې ارزونه وکړم اود ارزښت عمده ټکي يې په لاندې کرښو کې راونغاړم.

ترټولو مهمه خبره داده چې په بدرالفتاوی کې کومې استفتاء ګانې ځواب شوي، ټولې داسلامي امارت له تېردور او واکمنۍ سره تړاو لري ، هغه دور چې دامريکا په مشرۍ دنړۍ ۴۱ اسلام دښمنه هېوادونه دسوچه اسلامي شريعت په جامه درنګين اسلامي امارت دنړولولپاره سره يوځای شول اوپه دې مقدسه خاوره يې نظامي يرغل وکړ، هغوئ غوښتل چې اسلامي امارت دتل لپاره له منځه يوسي ، په زرين تاريخ يې خاورې واړوي ، کارنامې اوبنسټونه يې له خلکو هېر اوله حافظو يې وباسي اوپه دې هېوادکې سيکولرنظام قايم کړي.

خوالله الحمد چې الله تعالی ، امريکا او ايتلاف يې په نظامي ميدان کې له شرمېدلې ماتې سره مخ کړل اواسلامي امارت خپل حاکميت دهېواد په ۸۰ فيصده خاوره مسلط وساته او يرغلګرو ته يې دسرپه کاسه کې اوبه ورکړې .

داسلامي امارت مخکښانو اوويښنو مسؤلينو وکولای شول چې دامارت دتېردور هره کارنامه اوتاريخي برېا ديرغلګرو اودهغوئ دګوډاګيانو له ارشيفونو اومرکزونو څخه بېرته ترلاسه اوراوباسي چې دبدر الفتاوی په شکل کې عظيمه اومستنده فتاوی چې په پنځوغټو جلدونو کې مرتبه او جوړه شوې ده ، ددې لړۍ يوه کړۍ اوژوندی مثال ده ، د فتاوی لومړی جلد دادی چاپ شوی ، د پاتې څلوروجلدونو ترتيب ، تبويب او کمپوزهم شوی ، په تصحيح يې کار جريان لري، چې په لنډه موده کې به هغه هم راچاپ شي ان شاء الله ؛ نوزما په اند دبدرالفتاوی چاپ داسلامي امارت دځلانده تاريخ چې دعدل ، انصاف اوديني خدمتونو يوزرين باب دی ، ديوه تل پاتې ثبوت اوشاهکار اثر په توګه ټولنې ته وړاندې اود افغان متدين ولس ديني تنده پرې خړوبه وګرځېدله .

بله خبره داده چې دبدرالفتاوی محترم مفتي صاحبان اوهغه چا چې سرپرستي اونظارت يې کړی، له کوم تردد پرته هغه علمي هستۍ اوشخصيتونه دي چې دنوم له اورېدو سره سم يې زړونوته

اطمنان حاصلېږي ، په دې معنا چې دغومحترمينو په کومو موضوعاتو اومسائلو بحث اوڅېړنې کړي او دفتوا په شکل يې دمسلمانانو پوښتنو اواستفتاء ګانوته ځوابونه ويلي، هغوئ به دالله تعالى په توفيق اورمرو حق ته رسيدلي وي اوخپل نهايي مساعي به يې دمسائلو په موندلو اومرتب کولو کې په کار اچولي وي ، ځکه جناب حضرت شيخ مولانا نور محمد ثاقب صاحب، محترم شيخ عبدالحکيم صاحب اونور ورسره عالمان هغه شخصيتونه دي چې په علمي اوفقهي ميدان کې دنبوغ حد ته رسېدلي، دوئ ددې فتواګانوجوابونه له مستندوکتابونو را اخيستي دي چې ماخذونه يې هم ورسره ليکلي دي او دمحترمومفتيانوعلمي نوښت اومهارت ترېنه له ورايه برېښي.

دبدرالفتاوی، بله ځانګړتيا داده چې ګڼې فتواګانې يې داسلامي امارت دلوړپوړو چارواکو له لوري پکې مطرح شوي دي، چې دکتنې په مهال څو ځايه داسې پوښتنې ترنظر کېږي چې داسلامي امارت دمؤسس مرحوم عاليقدر اميرالمومنين ملامحمد عمر مجاهد رحمه الله او داسلامي امارت داوسني زعيم عاليقدر محترم ملااخترمحمد منصور حفظه الله اونورو مسؤلينو له لوري دتميز رياست اومرکزي دارالافتاء ته مسائل راجع شوي او بيادشريعت په رڼا کې ورته دمحترمو مفتي صاحبانو له لوري ځوابونه ويل شوي دي، چې دا په اصل کې ددين او شريعت دتطبيق اوپلي کولو په برخه کې دمخلصو مشرانو مينه اوپيروي په ډاګه کوي، چې څومره يې له شريعت سره مينه وه اوخپلوعلمي اوقضايي اورګانونوته په احترام قائل وو .

ددې کتاب بل خصوصيت دادی چې په روانه پښتو ژبه ليکل شوی دی . رب العالمين دې وکړي چې په فارسي، اردو اونورو ژبو کې هم ترجمه اوپه همدې کيفيت او صحافت کې نشرکړل شي. مطلب مېدادی چې زمونږ ځورېدلی ولس په خپلې ژبي کې ددينې مستندو مراجعو اوفتواوو له سخت قحط اوکمي سره مخ دی ، نو دبدرالفتاوی مُرتِّبين اوپه خاص ډول فضيلت مآب محترم مولا نامفتينورمحمد ثاقب صاحب په نورو زياتو ديني اوعلمي خدمتونو علاوه په دې زيات دمبارکيوحقدار دی چې دخپل مظلوم ولس ژبې اوفهم ته يې دحنفي فقهې يوه لويه ديني اوعلمي ذخيره ډالۍ او وروښله .

دپروردګارعالم له دربارنه ارزو کوم ، چې دبدرالفتاوی ټولو اراکينوته دنيوي او اخروي مکافات او درجې ور نصيب کړي او دغه ستر خدمت يې قبول وګرځوي .

په پای کې داسلامي امارت قيادت ته هم دبدرالفتاوی دچاپ له امله مبارکي وايم ، ضمنا ترېنه هيله لرم چې نور هم دعلمي اوتاريخي آثارو اوکارنامو راټولولو ، ترتيب اونشرـ ته توجه وکړي ، خپل راتلونکی نسل له خپلو عظيمو قربانيو اوفداکاريو څخه باخبره وساتي او د اسلام ددښمنانو مخونه ور توروکړي په ديني ولولو!!

راپور : حبیب مجاهد

دمجاهدینو د تربیوي پروګرامونو لړۍ

د اسلامي امارت د نظامي کمیسیون په ابتکار د افغانستان دمختلفو ولایاتو د مجاهدینو لپاره د درې ورځنیو تربیوي پروګرامونو لړۍ په پوره نظم او بریا سره ترسره شوه.

دغه تربیوي سیمینارونه چې د جنورۍ میاشتې له ۲۱ مې تر ۲۳ مې پورې درې ورځې یې جریان درلود د نظامي کمیسیون له تشکیلاتو سره سم د هرې حلقې مربوطو مجاهدینو ته د سیمینار لپاره جلا ځای او درسي حلقې ترتیب شوې وې، لکه د غزني، زابل او میدان وردګو حلقه، د هلمند، کندهار،روزګان او دایکندي حلقه، د غور،سرپل، فاریاب،جوزجان او بادغیس حلقه او داسې نور.

ددغو تربیوي پروګرامونو درسي نصاب د نظامي کمیسیون لخوا د علماء کرامو سره په سلا مشوره جوړ شوی و،چې هره ورځ یې په مختلفو موضوعاتو څلور څو ساعتیز درسونه لرل چې د بیلابیلو مدارسو د تکړه علماء کرامو او د اسلامي امارت د تعین شویو منسوبینو لخوا ورته تدریس کیدل.

ددغو تربیوي پروګرامونو په لړ کې مجاهدینو ته د ځاني اصلاح، اخلاص، د نیت سمول،د جهاد د مسائلو او احکامو پیژندل، په غنیمت کې له غلول څخه ځان ساتل، د امیر اطاعت،د اسلامي امارت د پالیسی او هدف پیژندل، د وحدت او یووالي اهمیت،د کفارو د پلانونو او دسیسو پیژندل،ددشمن دتبلیغاتي او فکري جګړې پیژندل او ورسره مقابله کول، له اولس سره ښه تعامل او په داسې نورو مهمو او د وخت ضرورت مسائلو په اړه مجاهدینو ته تفصیلي او په خورا عام فهمه او ساده ژبه معلومات ورکړل شول.

دغه سیمینارونه چې د هر ولایت والي یا نظامي مسؤل،د کمیسیون اعضاء،ولسوالان،ولکې مشران، د ملکي اداراتو مشران او ټول مهم جهادي مسؤلین ګډونوال وو، په یادو موضوعاتو سربیره ورته د جهاد، شهادت او اسلامي مبارزې د فضائلو په باره کې د احادیثو ځانګړي درسونه هم ورکړل شول او د سوره الانفال غونډې د قرانکریم د هغو سورتونو لنډ تفسیر هم ورته ورانده کړای شو چې د جهاد یادونه په کې شوې.

د تربیوي سیمینارونو په ترڅ کې د اسلامي امارت د بیلابیلو کمیسیونونو لخوا خپلې اعلامیې او توصیې چې د اړوندو کمیسیونونو د چارو د سمون په موخه ترتیب شوې وې هم مجاهدینو ته واورول شوې او له ملکي امارتي اداراتو سره د بشپړې همکارۍ او همغږۍ په اړه توصیې ورته وشوې.

د غونډې په جریان کې په راغلیو مجاهدینو د فرهنګي کمیسیون لخوا د بیلابیلو کتابونو او چاپي موادو په توزیع سربیره هغه ځانګړې رساله هم

توزیع شوه چې د همدې سیمینارونو لپاره چاپ شوې وه چې په کې د اسلامي امارت د زعیم امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور حفظه الله پیغام، د ستر مجاهد او دوو جهادونو د اتل مولوي جلال الدین حقاني حفظه الله ځانګړې توصیې او د فرهنګي کمیسیون پیغام رایوځای شوي وو.

یادو سیمینارونو ته د اسلامي امارت د زعیم په رالیږل شوي پیغام کې له سلام او تحیې وروسته راغلي دي؛ مجاهدینو ورونو ! شرعي مسئله داده چې کوم مکلف مسلمان په کوم عبادت یا دنیوي کاروبار باندې مشغول وي د هغه عبادت یا معاملې اړوند شرعي علم او مسائل زده کول ورباندې فرض عین دي،مثلا کله چې یو مسلمان بلوغ ته ورسیږي او مکلف سي نو لکه څرنګه چې لمونځ ورباندې فرض دی همداسې د لمانځه شرعي علم هم ورباندې فرض کیږي ترڅو لمونځ په سمه طریقه اداء کړي. نن سبا چې موږ او تاسو په یوه خورا مهم عبادت یعني جهاد باندې بوخت یو، چې دا داسې حساس عبادت دی چې په دې کې انسانان وژل کیږي، د خلکو په ځانونو او مالونو باندې سلطه او برلاسي راځي او که له چاسره د جهاد لازم شرعي علم نه وي نو ضرور به په خطراتو او سرکشی کې واقع کیږي، نو ځکه زموږ او ستاسو لپاره خورا ضروري ده چې له دې فرصت نه په استفاده د جهاد لازم شرعي مسائل زده کړو، د جهاد په آدابو، مشروعاتو او ممنوعاتو باندې علم راولو، داسلامي امارت د مجاهدینو لائحه چې د شریعت مطهره په چوکاټ کې جوړه سوې او مجاهدینو ته یې په ټولو مسائلو کې پوره وضاحت کړی باید چې په اهمیت یې ځان پوه کړو په هره

ماده یې سر خلاص کړو او په پوره دقت او توجه سره یې عملي کړو.

داسلامي امارت د زعیم د پیغام په یوه بله برخه کې راغلي : په جهادي امورو کې شریعت ته په التزام سربیره باید له الله تعالی څخه ویره او تقوی هم خپله خاصه وګرځوو،تقوی خورا ستر صفت دی چې د الله تعالی په نزد د انسانانو د عزت لپاره معیار بلل سوی دی،هر څوک چې څومره زیاته تقوی ولري الله تعالی ته به همدومره ور قریب او د الله تعالی په نزد به عزتمند وي.

د خپلو امیرانو اطاعت،په کشرانو ملګرو شفقت،د مشرانو ملګرو احترام،له عامو وګړو سره ښه چلند، ورورولي ، ایثار، خدمت،تواضع،حلم، عفو،امانت داري،حسن تعامل او حسنه اخلاق نور هغه ښایسته خویونه دي چې هر مجاهد باید ورباندې ځان مزین کړي،ځکه مجاهد باید د عامو خلکو لپاره د واقعي مسلماني نمونه او مثال وي ترڅو یې نور خلک پیروي وکړي او دده د عالي شخصیت او حسنه اخلاقو په برکت خلک اسلام او جهاد ته تشویق سي.

د تربیوي سیمینارونو غونډې د حق د بریا او دکفر د شکست په دعاء ګانو سره پای ته ورسیدې.

له ولس سره د کابل ادارې ظلم

سید شریف

دکابل بلواک ایتلافي رژیم نژدې په هره ناسته او ولاړه کې د خلکو دامنیت نارې وهي، د اقتصادي پرمختګ شعارونه ورکوي، دعدالت د قیام خبرې کوي، دهیواد د ترقی راپورونه خپروي او دخلکو سوکالي او خوشحالي خپل لومړیتوبونه ګڼي،خو په عمل کې بیا هر څه ددې ژمنو اوشعارونو برعکس روان دي.

په امنیتي برخه کې دګډ رژیم مشر اشرف غني یرغلګرو ځواکونو ته دشپنیو چاپو اجازه ورکړه،خپلو وسله والو ته یې د ثقیله وسلو داستعمال امر وکړ چې له امله یې ولس ته د سر او مال خورا زیات زیان اوښتی دی.

دکابل رژیم د اردو، پولیسو او اربکیو په نوم وسله والو څخه ولس دومره تنګ دی، چې نه یې سر په امن کې دی او نه یې عزت او مال محفوظ دی، دشپې او ورځې خلګ لوټي، پر کورنو یې چاپې اچوي، پر لویو لارو خلک تنګ وي، د زکات،عشر او حق العبور په نوم یې مالونه او شتمنی لوټي، اخلاقي فساد خپروي، مخدرات کاروي او ترویج ته یې لا زمینه برابروي.

دکابل ادارې د مکررو ژمنو سربیره اقتصادي حالت د رکود سره مخ دی،ترانزیت کې ورځ تربلې مشکلات زیاتیږي،صادراتي سکتور تقریباًفلج دی، واردات د زیاتو مالیو، بې کنتروله کرایو او د اردو او پولیسو په یو نیفورم کې د لاره وهونکو له لوټ او تالان سره مخ دي.

دتعجب ور داده هغه اداره چې له مشهورو مفسدینو، داره مارانو او قاتلانو ګډوله ده هم د عدالت نارې وهي، څوک چې خپله یې لاسونه د ولس په وینو سره وي دولس سره به کوم انصاف وکړي،هغوی چې د فساد او جاسوسی په پیسو یې اسمان څکي مانۍ ودانې کړې وي له ملت سره به کومه خیر خواهي ولري،کوم کس چې د خلکو شتمنی لوټي دخلکو دمالونو حفاظت به څنګه وکړي.

ایا د کابل رژیم چې همدغه ذکر شوي توکي یې ځانګړتیاوې دي، افغانستان او افغان ولس ته به کومه ګټه ورسوي؟!

د کابل اداره چې په فساد کې یې په نړیواله کچه جایزې اخیستي، دولس کومه قضیه به په عادلانه دول حل وفصل کړي، دهمدې ادارې د منسوبینو د اعترافاتو له مخي دولس اکثریت خپلې دعوې او قضیې داسلامي امارت مجاهدینو ته راجع کوي او هغوی یې بې ځنډ او ځنډ څخه ور حل وفصل کوي.

دکابل رژیم که په راس کې کرزی ؤ او یا اوس چې اشرف غني یې سر وال دی،د بیا رغوني او ترقی د تکراري شعارونو او ژمنو سره نه دي توانیدلي چې حتی د کابل ښار کې تول واټونه قیر کړي، د پدرفت سستم فعال او کانالیزاسیون ورغوي.

په لیري سیمو او ولایتونو کې خو دهمدغه رژیم وسله وال او یرغلګر ځواکونه په لوی لاس د خلکو کورونه بمباروي،په بلدوزرونو یې ویجاړي، دخلکو په باغونو او فصلونو کې پنځوس متره لویې لویې لارې جوړي، دوکانونه او نقلیه وسایط یې سوځوي او .....

په تولـه کې د کابل ادارې د یرغلګرو سره په ګډه افغانستان او افغان ولس ته دومره زیات زیان رسولی چې په لسهاوو زره ولسي وګړي یې شهیدان کړي، ژوبل کړي او بندیان کړي، په سلهاوو زره یې د کور وکلي پریښودلو ته اړایستلي او ډیری پراخې سیمې، باغونه او فصلونه یې ویجاړ کړي دي،همدغه رنګه اشغالګرو د داخلي ملاترو په ملتیا افغان ولس ته دځاني اومالي تاوانونو سربیره دومره سیاسي،فرهنګي او تولنیز زیانونه رسولي چې په یوه لیکنه کې نشي خلاصه کیدای.

لیکوال: داسلامي نړۍ مفکرعالم مولانا سید ابو الحسن علی ندوي (رحمه الله) ژ: ابوظهیر

په اسلامي هیوادو کې داسلامیت او مغربیت ترمینځ کشمکش

اشتراکیت او دهغه حلیف!

لیبیا (معمرقذافي)

د مشهور عربي گوند [حزب التحریر] یو وفد دمعمر قذافي سره ددې لپاره ولیدل چې دهغه (قذافي) په فکر اوذهن کې دسهي تغیر راوستو کوښښ و کړي، په ورته توگه درابطه عالم اسلامي یو نماینده وفد چې په هغه کې دمختلفو اسلامي هېوادو استازوگډون درلود له قذافي سره وکتل او ورسره یې دنوموړي دافکارو تصحیحولو په باب خبرې وکړې خوهغه پخپلو اندونو اوذهنیت کې د کوم تغیر یابدلون را وستو ژمنه ونکړه.

په خبرو کې هغه(قذافي) وفدته وویل: چې د لمانځه، روژې او حج اداء کولو ترحده سنت مني! البته په نورو معاملاتویه لړکې یواځې هغه احادیث مني؛ چې په اند یې صحیح وي؛ یا دعقل سره برابر وي؛ دوفد لخوا نوموړي ته داحادیثو د صحت،سالمیت او د ژوندانه په تولو اړخو نو دانطباق په اړه یې دقرآن په رڼا کې معلومات ورکړل شول او په نوموړي یې له خپلو خیالاتو نه د رجوع او توبې ویستو اصرار وکړ خو معمر قذافي په ځواب کې وویل: چې هغه دخپلو اندونو دسپیناوي لپاره په پام کې لري چې یوځانگړي کتاب ولیکي.

پر اسلامي کلیز نیوکه:

داحادیثو په باره کې دجمهورو رایې سره داختلاف وروسته قذافي دهجري کال پیلیزې پرمهال پخپله وینا کې په هجري کلیزباندې په نیوکه کولو وویل: له هجرت نه دکلیزشروع ناسم دي، ځکه چې درسول الله (صلی الله علیه وسلم) وفات پېښه اهمه پیښه ده، له دې وجې داسلامي کلیز شروع دوفات له ورځې پکاردی، دعلماوو لخوا دیوبولو باوجود هم معلومه شوه چې په لیبیا کې یې نوی ترمیم کړی کلیز دود کړی دی.

ددې نه علاوه دځینو ورځپاڼو دخبرونو څخه هم جوته شوه چې دلمانځه دطریقې او قرآن پاک په باب هم دقذافي عقیده دمنل شویو اسلامي عقایدو او افکارو نه مخالفه ده، چې په مختلفو مجلسونو کې یې په اړه اظهارات هم کړي ،له دې څخه جوتیږي چې دنوموړي داندونو مرجع مستشرقین او داسلام ددښمنانو اقوال او نظریات دي یا داچې هغه له خپل ذهن څخه جوړ کړي ،چې له امله یې تري دغه ډول تفردات او جدت څرگندیږي.

لیبیا او مراکش:

لیبیا او مراکش دواړه هغه هېوادونه دي، چې پکې یومخ مسلمانان اکثریت دي،چې دفی سبیل الله جهاد ، دعوت او داسلام په لار کې دسرښندنو اوقربانیو په برکت پکې ازادي او حکومتونه رامنځته شوي، په یادو هېوادو کې هغو کورنیو حکومتي چارو واگې ترلاسه کړي وي، چې هغوی دخپل نسبي شرافت اوعلمي فضیلت ترڅنگ دروحانیت مستقلې سلسلې درلودې او دهغو هېوادو مسلمانانو [عرب او بربر] ور ته داحترام په نظر کتل ، هغوی یې دخپلو هېوادو دسیاسي مشرانو او رهبرانو گڼلو ترڅنگ زیات خپل روحاني پیشوایان او مقتدایان گڼل، په مراکش کې تر سلگونه کالو پورې سیدي

ادریس او دسیدي علی الشریف کورنیو حکومت وکړ،او لیبیاته دسیدي احمد الشریف السنوسي او دهغه دملګرو مجاهدانه کارنامو اوقربانیو په برکت د اټالیا له غلامۍ څخه ازادي اوخپلواک حکومت په برخه شو خو اوس دغه دواړه هېوادونه په تهذیب وتمدن، د ښوونې او روزنې په پالیسۍ او دژواند مختلفو برخو په اړه پلان جوړولو کې عملاً مغرب خپل امام ګڼي د راډیو، تلویزون او نوي تعلیم په زریعه د یوداسې نسل په روزلو مصروف دي چې دهغوی د احساساتو ،جذباتو او اقدارو معیاربه دهغوی د نسل نه یومخ جلا اوتوپیر ولري دچا دقربانیو او سربښندنو په برکت چې په دغو دواړو هېوادو دازادۍ سهار راختلی،او هغوی دعزت او احترام مقام منلی ، په دواړو هېوادو کې اشتراکي ذهنیت غځېدلی او هم په دواړو کې داسلامي فکر او دعوت علمبرداران له ستونزو سره مخ دي، لیبیا چې کومه فلسفه او کوم مسلک خپل کړی دی هغه داسلام، اشتراکیت او عربي قومیت مجموعه ده؛ دهغه قاید [معمر قذافي] دمصر جمال عبدالناصر تل خپل استاد ، مربي او دځان لپاره مثالي شخصیت یاد کړی ، ددواړو هیوادو د رهبرانو دموخو او اعلاناتو ناڅرګند والي سربېره دومره خبره سپینه ښکاري چې له فکري او تهذیبي پلوه دواړو مغرب خپل قاید اورهبر منلی او په محتاط او تدریجي ډول دخپل دغه وروستي منزل په لور ګامونه اخلي.

دغربي تهذیب او فلسفې ددې ونې دپروروش لپاره داروپا اوبه او هواء ښه موزون وو او دغذا یې پریمانه اسباب موجودوو، بیا چې له مغرب نه اسلامي هېوادوته راوړل شوه، دلته ورته دفضاء جوړولو هڅې و شوې،زمکه ورته پسته او هواره شوه، بیا ښه وکندل شوهاو پکې دمغرب نه راوړلې ونه نهال شوه، خو په زمکه کې یې ریښې ښې کلکې نتوزې ، وروسته دهغې (ونې) ایښودونکو په تراشلو او قطع کولو یې لاسو پورې کړ، دهغوی په وینا: هغه پخوانی فکري او اجتماعي ملبه لرې غورځول غواړي، چې دهغې په خلورو خوا ووکې خوره ده ، په دې تخریبي او تراشونکي عمل کې

چې خومره انساني طاقتونه ، صلاحیتونه او ګرانبیه وختونه صرف شول که هغه چیرې په کوم ایجابي او تعمیري کوښښ کې صرف وای دایمان ، دیني دعوت او اخلاقي اصلاح له لارې یې د مسلمان قوم دپټو قوتونو او نامرئي صلاحیتونو دبیدارولو کوښښ کړی وای، نو له شک پرته به هېوادو او قومو ته به یې ستره ګټه رسیدلې وه.

دترقي خوښوونکو رجعت پالنه:

دغه متجددین(modernsts)کله کله دتجدد او ترقي په سیلاب کې دهغو فلسفو او نظامونو او د داسې اړیکو د تکیا په لټون بوخت دي،چې هغو په غربي ټولنه کې اهمیت او ارزښت بایللی دیا و اوس دزاړه پالنې او قدامت پالنې دنښنو اوپخوانیو تجربو دپاتي شونو اثارو په توګه پاته دي، کوم چې دلویدیځ رهبرانو دخپلو اجتماعي تجربو پرمهال دیوې

محدودې مودې لپاره غوره اوجوړ کړي وو،چې دزيانو او تاوانو درابرسيره کيدو وروسته هغوی يې لغوه کولو ته اړشول او له هغونه دغوره او پراخو فلسفو اونشرياتو سيوري ته يې پناه غوره کړه.ددې ترټولو غوره مثال قوميت (nationalism)دی کوم چې اوس اروپا ترک کړی دی، خو داسلامي ختيځ ځينو قيادتونو ترسينو پورې نيولی، او دبشري فکر ي الوت او ترقی وروستی پړاو يې ګڼي، حال داچې هغه دمحدود قبايلي ژوند او دکوچاني طرز فکر پراخ او پرمختللی شکل دی، هغه په اصل کې هغه پخوانی زوړ لباس دی، چې پخپله لويديځوالو ويستلی او غورځولی دی، اوس دهغوی په نزد تخريبي او تباه کونکی عنصر يا قوت دی، کوم چې دانساني ټولنې وحدت ټوټه ټوټه کړی او دبشري نسل شکل اوصورت يې رنګ کړی.

دمغرب او مشرق بالغ نظري پوخ ساله خپلواک مفکران او پوهان ملت پالنې (نيشنلزم)ته دنفرت او حقارت په نظر کتلو سره عادي شوي دي، دهغوی په اند:دا اوس دپخوانی زمانې زوړ فيشن د رجعت او قدامت پالنې نښان دی، چې دبشريت او نړيوال امن لپاره وژونکی او تخريبي عنصردی، هغوی اوس دنړيوالي ورورولی جوړولو دعوت ورکوي، دلته دعبرت لپاره ددوه لويو غربي او شرقي مفکرانو رايې وړاندې کوو، چې يومشهور غربي فاضل آرنلډ ټائنبي (Arnold Toynbee) دی، ټائنبي پخپله يوه ليکنه کې ليکلي:

دبشريت راټلونکی ترهغه روحاني وړور ولی پورې تړلی دی، کومه چې يو دين جوړه ولی شي، انسانيت نن دېته اړتيا لري، کمونزم دعوه کوي چې هغه انسانيت يو کولی شي، په افريقا کې اسلام دانسانيت ترمنځ ديو والي په راوستلو کې ځان يو قوت ثابتوي، عيسايت هم ورته کردار اداء کولی شي، خو په دې شرط چې هغه خپلو اصولو ته ژمنتيا وښيي، خو نيشنلزم بيا هم انسانيت يو کولی نشي بلکې په مختلفو ټوټو يې ويشي، چې ددې هيڅ راتلونکی نشته، هغه ددې پرته نورڅه نشي کولی چې انسانيت ووژني او خپل ځان دهغه په کندوالو کې دفن کړي.

په اوسني اټومي دور کې مونږ اړيو چې د دوه انتهاوو له منځ يو غوره کړو، که ځانونه دتباهی اوبربادی سره غاړه غړی نه غواړو نو بيا دهرې استثناء پرته مونږته ټول انسانيت په غېږ کې نيول پکاردي او ديوې واحدې بشري کورنی په توګه ژوند يادول پکاردي.(Islamic review march ۱۹٦۱)

دهند پخواني ولسمشر-[ډاکټرراداکرشنن]په ۱۹٦۳کې دجون په ۱۰ مه نېټه ملګروملتونو ته پخپله وينا کې دنړی قومونو ته دزمکنی کورې پرمخ د يوې کورنی دفکر خپلولو تلقين وکړ، خو نړی دپوځي ملت پالنې له مونګلو راووځي او خوندي پاته شي ،نومورې وويل :

دخطرونو څخه ډکو اټومي تجربو دبندولو نه دانسان معذورې دکومې سترې انديښنې نښې ښيي.

تاريخ ګواه دی چې سياسي غلبه نسلي امتياز او اقتصادي استحصال انسان دجنګ اورته تيل وهي اوکه نن دغه سياسي غلبه او معاشي استحصال په ځای، هر ځای اقتصادي خوشالې راوستل شي او دنسلي امتياز ريښې وايستل شي نو دا به دنړيوال امنيت په باره کې ډېرلوی خدمت وي.

وطن پرستي دبشريت ښه تصورنه؛ بلکې اصل ځېز دنړيوالي ورورولی تصوردی مونږ اوسو په يوه نړی کې؛ خو زمونږ فکرونه فرسوده دي(NATIAL HERALD)

دجديديت علمبردارانو تقالي:

په هرشرقي اسلامي هېواد کې دغربي ژوندانه د تجربو تکرارولو مخلصانه کوښښونه ددې خبرې غمازي کوي چې ددغو هېوادو رهبران دخپل پراخ عصري علم او ثقافت سره او په لويو څوکيو دکارکولو سربيره اوس هم له دماغي پلوه دماشتوب زمانې ، نقل وتقليد او دخپلو غربي استادانو د نيازمندانه شاګردی‌له دورې تيرېږي، په ازادانه چاپيريال کې دفکري نوښتونو تخليقي ورتياوو اويه هوښياری سره دکارکولو نه محروم دي، هغوی نه يواځي دخپلولس دمزاجه

تا بلد او دهغه دصلاحيتونو او ځواکمنۍ څخه ناخبري دي بلکې دغربي فکر دودې او او بدلونو سره يوځای دکارکولو له ورتياوو لرلو هم قاصر دي او غربي ټولنه چې دکومې ناارامۍ، بې باورۍ، بې زړه والي او ورخطايۍ ښکار او دايمان او روحانيت تږي دي ترې خبر او واقف ندي.

دنامذهبيت او الحاد تبليغوونکو دوه مخې پاليسي:

د نامذهبيت، روند اندي، اوترقي خوښوونکو هغوسرګردانوداعيانو او مبلغينو چې په اسلامي نړۍ کې دتجدد شپېلۍ پوکړې،دهغوی پخپل چاپيريال او دخپل کاله دننه کوم ډول طرزالعمل دی؟ ايا هغوی دخپل هېواد اوحکومت په حدودو کې نامذهبيت پلی کړی که کله موقع راغلې نو سخت مهذهب پال هم خپل ځان رجعت خوښوونکی ثابت کړی؟

ترکومه ځايه چې دهغو پوهانو او حکومتونو سوال دی کوم چې دمسيحې نړۍ سره اړيکه لري دهغو په اړه ډېر څه ليکل شوي دي[وګورئ دامير شکيب ارسلان کتاب حاضر العالم الاسلامي ۳ټوک، عنوان قضية فصل الدين عن السياسة۳۵۳مخ نه تر۳۶۴]

دمسيحي مستشرقينو په ليکنو کې دصليبي جنګونو د ترخو خاطرو او ترکانو سره دعصبيت، دښمنۍ انتقامي جذبه ښکاره ليدل کېږي، چې دنظر له خاوندانو پټه نده، په هغو مستشرقينو[څوک چې اسلامي نړۍ لپاره د سيکولرزم او اسلامي شريعتنه دبغاوت قوي مبلغين دي] کې لوی شمېر يهودان دي، چې دخپل دين او خپلو هم دينو په اړه سخت زاړه پالي او قدامت پالي دي، داسرايل حکومت يومخ په ديني بنسټ جوړشوی ، چې دهېواد، حکومت، اساسي قانون څخه نيولي ترورځينې ژوند او له ديني حکمونو نهواخله تر سياست او اقتصاده يې چې څومره دتورات لارښوونې پخبلو غاښو کې کلکې نيولې، هغه داسلامي نړۍ لپاره نه يواځې دعبرت درس دی، بلکې ددوی په مخ دغيرت يوه درنه څپېړه هم ده؛ او ددې خبرې روښانه دليل دی چې دروڼ اندو په خولو کې دوه ژبې وي، چې يوه دنورو سره دخبروکولو لپاره اوبله دخپلو سره دخبرو اترو لپاره او دسيکولرزم بلکې د الحاد او دين دښمنۍ ټول تبليغ يواځې داسلامي هېوادو لپاره کوي کوم چې نوې ازاد دي، دلته ديو پخواني عرب کمونست د مضمون ځينې اقتباسات راوړو چا چې تريوې زمانې ديهودي کمونستانو سره په يوځای اوږه په اوږه کار کړی دی:

په عربي نړۍ کې دتورات ديوښې په نوم حکومت جوړشوی، هغه حکومت هيڅ اساسي قانون نلري، ځکه هلته ټول مذهبي ګوندونه د اساسي قانون په توګه دتورات په منلو مصردي! هلته دخالي په ورځ په کار کولو قانوناً بنديزدی، په دې کار سره دهغوی داقتصادياتو او نړيوالو بانکونو سره په اړيکوکې هم کوم خلل نه راځي؛ کوم بانکونه چې ديکشنبې په ورځ رخصتي وي، بلکې پردې هم اصرار لري چې دکليسا اوونيزه غو نده دې ديکشنبې په ورځ جوړيږي، ددغه حکومت دواک په حدودو کې دهرې خالي په ورځ ډودۍ پخول ديوځيانو لپاره هم حرامه ده.

موشي دايان پخپل کتاب کې ديو پوځي دسرګذشت په اړه ليکي:

مونږ دخالي په ورځ [دجون په ۳مه]دحاخام اکبر په خاص اجازت پخه ډوډۍ وخوړه، اسرايل پوځ چې په نيږدې راتلونکې کې دنيو کليائې بمونو څښتن ګرځي، دخالي په ورځ له ډوډۍ پخولو پرهيز کوي، بن ګورين اوشازار دبرتانيې دپخواني صدراعظم چرچل په جنازه کې يونيم ميل پلی سفر وکړ، ولې اتفاقاًهغه دخالي ورځ وه او په تورات کې دخالي په ورځ دسورليو استعمال منع دي، دغه مهال د بن ګورين عمر ۷۸ کاله او شازار ۷۶ کلن و.

ليکن د انګريزي صحافت او عامه رائې لره په دې کې د تضحيک هيڅ نه ښکاري، بلکې دهغوی په اند: دنهايتي قدرورځېږدی.

هم په الخليل ښار کې دحضرت ابراهيم(عليه السلام)پخواني مسجد کې (کوم چې يهودو دځانو لپاره معبد گرځولی)د عبادت کوونکو نيمايې شمېر يهودي پوځيان وي، په زنگ وهلو(سائرن) سره دروژې ماتولو اعلان کېږي، داسرايل هوائي شرکت العال په طيارو کې اود اسرايل شپ سروس (زيم) الوتکو ته دخنزير غوښه نه پرېښودل کيږي راجستر شوې اسرايلي ديني گوندونه جوړدي ،هغوی پوره اثرلري، هلته دديني کړيو نه مخالفت له قانون څخه سرغړونه گڼل کېږي او دادومره سخت کار دی چې دبن گور ين لمسی په دې وجه داسرايل تابعيت نه محروم پاته شو، چې دهغه مور يهودی نه وه، عبراني هلته رسمي ژبه ده، او په هم هغه کې هغوی د راکيټ او رادار فلج کوونکي هوايي الوتکو بربادولو تخنيک او سائنس ياد کړی دی او په هغه ژبه کې داسې دادب پنځوونکي دنوبل جايزې کټونکی گرځول شوي.

خو په عين هم دغه مهال زمونږ په ټولنه کې هغوی خپل ايجنټان روزلي، دهغوی دټولو کړو وړو او ټولو کوښښونو اصل غرض او خلاصه ده[ددين اوسياست بيلتون] هرکله چې هغوی دا و اوري چې په فلاني اسلامي هېواد کې دقانون له پلوه اسلام ددولت رسمي مذهب ومنل شو؛ نو په هغوی لړزه وخيږي او دخپلې ملي ترقی او پيداوار په برنامو کې دروژې په زيانونو مجلې او ورځپاڼې ډکوي

دلته د ځينو اسلامي هېوادو حال دادی چې هغوی د سيکولرزم او روڼ آندی په مينه او جوش کې دجنگ پر مهال د[الله اکبر] ناره وهل له قانونه سرغړونه گڼي چې د د١٩٦٧ز کې دپينځلس مياشتو وروسته بيا جاري کړای شوه.

خو ددوی په مقابل کې د اسرايل طرزالعمل څه دی؟ دهغه اندازه ددېنه ولگوئ چې دهغوی لومړی ټانگ چې سينا ته ننوتی و، په هغه دتورات يو ايت ليکلی و.

دژبې په معامله کې زمونږ يو لورته داحال دی چې زمونږ لپاره عربي ژبې دقت او دهغې رسم الخط يوه ستونزه گرځيدلي مونږ کله د لاطيني حروفو کارولو خبرې کوو، کله عربي ژبهی بيرته پاته ژبه گڼو، دعلم او عمل له ميدانه يې دويستو کوښښ کوو بل پلو بيا هغوی عبراني ژبه کومه چې دوه زره کاله وړاندې مړه شوې داوسني ادب، سياست او سائنس ژبه يې گرځوي[رسالة البعث الاسلامی اپريل ١٩٧٠ز).

دتعليم په ډگر کې داسرايل طرزالعمل او پاليسي څه ده؟دا اندازه دلاندېنو معلوماتو ولگوئ کوم چې دمنځني ختيځ دکارپوهانو له مستندو کتابونو څخه راټول شوي: ډاکټر روډر، ماتهيوز او ډاکټر متی عقراوي پخپل کتاب [التربية فی الشرق العربی] کې ليکلي دي:

دفلسطين په اسرايلي ښوونځيو کې دپام وړ خبره داده چې دټولو تعليمي مضامينوژبه (دانگريزي، فرانسوي او عربي) علاوه عبراني ده، دزدکړو په ټولو مرحلو کې ديني زدکړو ته کلکه پاملرنه کېږي، دديني زده کړو اساس دصهيونيت ترقې او پرمختگ ټاکل شوی. ددې وروسته چې نوموړي کوم څه ليکلي دي، دهغو نه ښکاري چې:

په اسرايل کې ټول ښوونځي او دهغو رجحانات دهغو ډلوتابع دي، د کومو سره چې دهغو ښوونځيو سرپرستان تړاولري، دغه ډلې پخپل تعليمي، مذهبي اوسياسي کردار او ميلان کې داختلافونو لرلو باوجود په دې بنسټيز فکر کې سره يو دي[چې ديني روزنې ته خاص ارزښت ورکوي] آن دځينو ډلو دريځ دادی : چې يواځې ديهودو ديني اقدار او روايات دلارې مشال وي؛ ترې دتعليمي نظام لپاره رڼا او لارښوونې اخستل پکاردي او ځيني ډلې داستادانو لپاره هم ضروري گڼي چې هغوی بايد خامخا يهودي روايات پالان وي؛ يعنې ديهودي اصولو او رواياتو منونکي او پابند به وي

نوربيا....

عبدالرؤف حکمت

د شهيد مولوي محمد عالم کليم

ژوند او کارنامو ته کتنه

د ۲۰۱٦ ميلادي کال د جنورۍ په شپږمه نېټه د افغانستان اسلامي امارت د خپلو نظامي جهادي کدرونو له منځه يو خورا غښتلی او کارنامه ساز مجاهد له لاسه ورکړ.

هوکې، مولوي محمد عالم کليم هغه مجاهد و چې لکه څرنګه يې چې د مجاهدينو تر منځ د يوه وياړلي او مخلص مجاهد په حيث شهرت درلود همداسې يې په کفارو او د حق په دښمنانو کې هم زړونه خوږين کړي و،دا چې مولوي محمد عالم څوک؟ څرنګه ژوند يې وکړ؟ او د اسلامي نظام په لاره کې يې کوم جهادي خدمتونه وکړل ؟ په راتلونکو کرښو کې يې لوستلی شئ:

شهيد مولوي محمد عالم کليم:

مولوي محمد عالم کليم د ۱۳۴۳ هـ ش کال په پسرلي کې د زابل ولايت د ميزان ولسوالۍ په لنډۍ نومي سيمه کې د کوچيانو په يوه کاله کې دنيا ته راغی، د پلار نوم يې محمد اصغر او د پښتنو د اندړو له قبيلې سره يې تعلق درلود.

محمد عالم کليم په کم عمر کې ددينې زده کړو حصول ته ملا وتړله،لومړۍ زده کړې يې په تانده ځواني کې د پاکستان د بلوچستان په پښين سيمه کې ترسره کړې،وروسته د ديني تعليماتو لپاره قبايلي سيمو ته لاړ هلته په شمالي وزيرستان ميرانشاه کې د وتلي جهادي مشر مولوي جلال الدين حقاني صاحب په مدرسه منبع العلوم کې شامل او ديني زده کړو ته يې ادامه ورکړه.

څرنګه چې د مولوي جلال الدين حقاني مدرسه په تعليمي خدمت سربيره د جهادي فکر مدرسه هم وه، مولوي محمد عالم کليم په همدې مدرسه کې په جهادي فکر وروزل شو او وروسته يې د مولوي جلال الدين حقاني تر مشرۍ لاندې دافغانستان په جنوب ختيځ خوست اوپکتيا کې عملا په جهاد کې برخه واخيسته او لومړنی جهادي سفر يې له همدې ځايه پيل کړ.

نوموړی په خوست کې له څه مودې جهاد وروسته زابل ته راغی او په خپله سيمه کې يې د زابل د ميزان په ولسوالۍ کې د آمر ملا ظريف تر قومانده لاندې د سرو لښکرو او کمونيستي رژيم پر ضد جهاد ته ادامه ورکړه.

مولوي محمد عالم کليم له جهاد سره سره خپل ددينې زده کړو سلسله هم تعقيبوله، د بلوچستان په لورلايي ، کويټه اونورو مختلفو سيمو کې يې له ديني مدارسو ديني تعليم ترلاسه کړ،نوموړي د کمونيستي نظام د سقوط تر وخته هميشه جهاد ته هم تلو، خو دکورنۍ جګړې او تنظيم شاهۍ په دوران کې يې توله توجه يوازې ديني زده کړو ته راوګرځوله.

نوموړي خپله ددينې زده کړو سلسله د اسلامي امارت دواکمنۍ په مهال پای ته ورسوله او د پاکستان په مردان کې يې له مشهور عالم مولوي حمدالله جان داجوی صاحب څخه د احاديثو او فراغت سند ترلاسه کړ.

د طالبانو په اسلامي تحریک کې شمولیت او خدمتونه

مولوي محمد عالم کلیم هغه وخت د طالبانو له تحریک سره ملګری شو،چې دې تحریک په کندهار کې نوی ظهور کړی و او لا د کندهار ښار واک يې نه و ترلاسه کړی،نوموړي د زابل ولایت د دایچوپان ولسوالۍ د یوه ډلګۍ مشر مولوي عبدالخالق تر مشرۍ لاندې په دې اسلامي تحریک کې خدمت پیل کړ، په ګڼو جګړو کې یې برخه واخیسته، د کابل له فتحې وړاندې د وردګو ولایت په میدان سیمه کې زخمي شو خو الله تعالی ورته شفاء ورکړه، د کابل له فتحې وروسته یې هم په پروان، کاپیسا او د افغانستان په شمالي ولایاتو کې په ډېرو جنګونو کې د یوه مخلص او مطیع مجاهد په حیث برخه واخیسته.

په ۱۹۹۷ میلادي کال کې چې کله د طالبانو یو لوی لښکر د سالنګ تونل له لارې د افغانستان شمال ته واوښت دغه مهال مولوي محمد عالم د جبل السراج په سیمه کې د شورای نظار لخوا ونیول شو او څو میاشتې ورسره بندي پاتې شو.

مولوي محمد عالم چې د شورای نظام له کوم قومندان سره بندي و د هغه ورور له اسلامي امارت سره بندي و، دغه قومندان مولوي محمد عالم ته وویل چې که ته زما ورور راخلاص کړې نو زه به هم تا ازاد کړم،مولوي محمد عالم له یوه دریمګړي سره یوځای کابل ته راغې او د جهادي خط قومندان ته وایي چې دی په مشروط ډول له دښمن څخه راغلی دی او وعده یې ورسره کړې چې د پلاني قومندان ورور به د خان په مقابل کې خلاصوي،نو که ستاسو خوښه وي هغه د قومندان ورور ازاد کړئ او که مو خوښه نه وي نو زه به بیرته دښمن ته ورشم.

دغه مهال په لومړیو کې دقومندان دوورور په خلاصولو موافقه ونه شوه نو څکه مولوي محمد عالم بیرته دښمن ته د ورتلو اراده وکړه، خو له روانیدو وروسته یې د مجاهدینو مشرانو پریکړه وکړه،د شورای نظار دقومندان ورور یې ازاد کړ او مولوي محمد عالم له نیمې لارې بیرته راستون شو، چې دغه دښمن ته بیرته د ورستنیدلو او حتی له دښمن سره وعده پالل د نوموړي یوه کمساري کارنامه وه.

د امریکا په خلاف جهاد

له کابل څخه د طالبانو له وتلو او امریکا له حاکمیت وروسته مولوی محمد عالم له هغو لومړنیو مجاهدینو څخه و چې له څو تن نورو مجاهدینو سره په ګډه یې په زابل ولایت کې جهاد پیل کړ.د زابل ولایت په شاجوی ولسوالۍ کې نوموړی له مقدمو مجاهدینو شمیرل کیږي.

د مولوي محمد عالم نږدې ملګری مولوي محمد انور وایي، هغه د پیل وخت ډیر د غربت او تش لاسۍ وخت و،د مولوي صاحب او نورو طالبانوکورونه حکومت تلاشي کړل او وسلې یې تړې یووړې،حتی یو میل سلاح هم نه پیدا کیدله،مولوي محمد عالم زه د سیمې یوه قومندان ته ورولیږلم چې یوه میل سلاح راکړي،هغه راته وویل چې ټول امارت رنګ شو اوس په یوه کلاشینکوف نه راټینګیږي. ما دا خبره مولوي محمد عالم ته وکړه هغه قسم یاد کړ چې که ټول مجاهدین تسلیم شي هم ارام به نه کینم او که په تش لاس هم وي جهاد ته به ادامه ورکړم.

مولوي عبدالحلیم منصور چې هغه مهال لومړنی ډلګۍ مشر و وایي: په پیل کې د مولوي صاحب د ملګرو له جملې موږ درې کسان یعني مولوي محمد عالم،شهیداسدالله جمشید او زه و چې مخفي جهادي کارونه مو پیل کړل،لومړی مو یوازې په شاجوی کې فعالیت کاوو وروسته دایچوپان،خاکران او ارغنداب ته مو هم فعالیت پراخ کړ.نوموړی وایي له مولوي محمد عالم صاحب سره په ګډه مو ۵۴ میله وسله توزیع کړه او خوانان مو جهاد ته تیار کړل چې وروسته ددې ټولې ډلګۍ مشر-مولوي محمد عالم وټاکل شو او تشکیلات یې خورا پراخ شول.

عبدالحلیم منصور د هماغو لومړیو سختو شپو انځور داسې راته وړاندې کړ: هغه سخت وخت و چا له داره مجاهد ته

شپه نه شوی ورکولی،موږ به د بازار له نانوایي ډیرې ډوډۍ واخیستې، له ځان سره به مو غرو ته یوړې هلته به مو یوه هفته وریاندې گوزاره کوله،د یخ او گرمۍ. تولې شپې به مو په تورو غرو کې تر آسمان لاندې کولې،حتی کله به چې ډیر یخ و نو په ریگونو کې به مو د قبر غونډې ځایونه راته ژور کړل او ریگ به مویه ځان واړاوو تر څو د شپې له سخت یخ نه وریاندې ځان وساتو،له ډیر یخ څخه دځینو ملگرو رنگونو داسې تور اوښتي وو چې شناخته خلکو نه پیژندل حتی له لوږې او تندې ځیني ملگري بې حسه کیدل.

لـه همداسـې امتحـاني شـیبو څخـه مولـوي محمـد عـالم صاحب د یرغلگر کفر په خلاف جهاد پیل کړ،خو له نوموړي سره د تولو مجاهدینو په خیر الهي نصرت ملگری و، ډیر زر یي ملگري اضافه شول، الله تعالی غنائم په لاس ورکړل،د کار ساحه يي پراخه شوه، دزابل په مختلفو ولسوالیو سربیره یي په غزني او کندهار ولایاتو کې هم جهادي خدمت پیل کر، تردې چې په وروستیو کې یي د خپلې مربوط دلگۍ د مجاهدینو شمیر تر زرو مسلحو مجاهدینو ورسید.

د جهاد په لومړیو کلونو کې د مولوي محمد عالم له مشهورو جهادي بریدونو څخه یو د هغه ایتالوي چارواکي وژل و چې غوښتل یي له کندهاره کابل ته په موټر سایکل لار شي چې د شاجوی ولسوالی د بازرگان په سیمه کې دنوموړي په مشرۍ مجاهدینو له منځه یووړ،چې دې برید هغه وخت په رسنیو کې یو ځل بیا د مجاهدینو د موجودیت خبرونه تاوده کړل.

وروسته د نوموړي په مشرۍ مجاهدینو د ارغنداب امنیه قومندان عبدالمحمد سره له ملگرو د سیاگز بند په سیمه کې په یوه کمین کې له منځه یووړل او وروسته په لویه لاره د تازي په سیمه کې له دښمن سره توله ورځ سخته جگړه وشوه او په دې دول جهادي عملیاتو علني شکل غوره کړ.

د جهاد له علني کیدو وروسته د لومړنیو کلونو هغه لوی عملیات چې مولوي محمدعالم صاحب له نورو مجاهدینو سره په کې برخوال و، د ارغنداب د باغ پوسته له منځه وړل،د خاکران ولسوالي د مرکز نیول،د ارغنداب د ولسوالی مقام او گنې پوستې نیول،له امریکایانو سره په ارغنداب کې سخت جنگ چې په لومړي ځل د امریکایانو تر لسو پورې مړي پاته او څلور ټانگونه له منځه لاړل، او له غزني څخه د راغلي قوې په شا تمبول چې د جاوید په نوم هزاره قومندان یي د خرني په سیمه کې د مولوي محمدعالم لخوا په موټر کې سپور په راکټ وویشتل شو اووژل شو.

په یادو عملیاتو سربیره مولوي محمد عالم نور هم گڼ عملیات او جهادي کارنامې سرته رسولې چې د تولو یادول ددې لیکنې تر حوصلې لوی کار دی،خو په مجموع کې ویلی شو چې نوموړی د زابل ولایت په سطحه یو له سترو او پُرکاره مجاهدینو څخه و چې ډیر وخت یي په سنگرو کې تیریدو،په تیرو څوارلسو کلونو کې دنوموړي د زر کسیزې دلگۍ ۲۰۳ تنه مجاهدین له یرغلگرو سره په سختو جگړو کې شهیدان شوي،مولوي محمد عالم صاحب په امریکا ضد جهادکې درې ځله ټپي شوی دی،نوموړي د امارت په تشکیلاتو کې د زابل د ارغنداب،شهرصفا،شلمزو،نوبهار،شینکی،میزان او چوپان ولسوالیو نظامي مسؤلیتونه کړي همدارنگه د زابل د ولایتي کمیسیون غړی او څه موده یي رئیس هم پاته شوی دی.

د شهیدمولوي محمد عالم کلیم د شخصیت په اړه:

مولوي محمد عالم کلیم په توله معنی یو رښتینی،فداکار او سرسپارلی مجاهد او د الله تعالی ددین دخادم و،نوموړی یو ورزیده او مدرس عالم هم ود خپل کور له خوا سره یي دوه مدرسې یوه د هلکانو او بله د نجونو تاسیس کړې، چې سلگونه ماشومان او لویان په کې زده کړې کوي،په دې سربیره د نوموړي اصلي مشغله د الله په لاره کې مسلح جهاد و.

نوموړی لکه څرنګه چې د بهرنیو کافرو یرغلګرو سرسخته دښمن و د هغوی دداخلي ګوډاګیانواو جاسوسانو په خلاف یې هم جدي موقف درلود. ملا احمدالله وثیق وایي: مولوي صاحب به په دې آیت ډیر استدلال کاوو چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اصحابو صفت دا و چې اشداء علی الکفار رحماء بینهم. له همدې امله خو نوموړي د کفارو او د هغوی د ملګرو په خلاف له ډیر جدیت څخه کار اخیست او د نوموړی د جدیت لـه امله د زابل په ډیرو سیمو کې ددښمن پلویان خصوصا جاسوسان لـه منځه لاړل اوځیني یې له سیمې تیښتې ته اړل شول.

وثیق صاحب وایي چې د بګرام په زندان کې د تحقیق په وخت یې یوه ورځ ټول تحقیق د مولوي محمد عالم صاحب په اړه راڅخه کاوو، چې دا څرنګه سړی دی؟ چیرې اوسي؟ څه ډول ملګري او امکانات ورسره دي او څرنګه عملیات کوي؟

د شهید مولوي صاحب یو نږدې ملګری یحیی وایي چې د مولوي صاحب همیشنی معمول د قرانکریم تلاوت و چې کـه بـه یې لس دقیقې فرصت پیدا کړ هم قرانکریم بـه یـې راواخیست او تلاوت به یې کاوو،د جنید په نوم مجاهد وایي چې د ډیـر تـلاوت له امله به ډیرځله په خوب کې هم د نوموړي پـه ژبـه د قرانکـریم آیتونه تلاوت کیدل چې په خپله یې ترې اوریـدلي دي،پـه تـلاوت سربیره دتهجد لمونځ هـم دده داسې معمـول چـې پـه هرڅـومره سخت حالت کې یې هم نه قضاء کاوو.

د شـهید مولـوي محمـد عـالم صـاحب مرسـتیال او د ډیـر وخت ملګری نقیب الله مقیم د نوموړي د شخصیت پـه اړه وایـي: په مولوي صاحب کې د یـوه ښـه مـؤمن او معیـاري مجاهـد ټـول صفات موجود و خو څلور صفات یې داسې تر ښکاره او تر لمـر روښانه و چې حتی دښمن یې هم شاید سترګې وربانـدې پټې نـه کړي.

مولوي صاحب انتهایي غیرتي و او الله تعالی ورته لـوی زړه او د جګړې په ډګر کې د ثبات توفیق ورنصیب کړی و،بله داچې ښه تقوا یې درلوده زما ورسره د ملګرتیا دوولس کاله وشول ډیرې شپې مو یوځای کړې خو زما نه یادیږي چې کومه شپه یـې تهجـد پرې ایښی وي.دریم داچې د خپلو امیرانو پـه اطاعـت کـې خـورا جدي و،په هیڅ وجه یې دشرعي امیـر لـه اطاعـت څخـه غـاړه نـه غړوله او څلورم داچې تواضع یې درلوده، له کبر او شـهرت څخـه یې نفرت کیـده دا یـې زړه غوښـتل چـې د خـدای ددیـن خـدمت وکړي او پټ پاته شي نوم او نښان یې خوښ نه و.

د فاروق په نوم مجاهد وایي چې د زخمیتوب پـه شـپو کـې مولوي صاحب له ماسره یوځای په موټرسایکل ګرځیده، یوه شپه چې د پسرلي لومړی باراني شپې وې او سخت یخ و د شاجوی د کرتو په سیمه کې زما او مولوي صاحب په غرو کې شپه وه، نیمـه شپه مې کرپ کروپ تر غوږ شو زه وارخطا شـوم چـې هسـې نـه امریکایان راغلي وي، خـو چـې کتـل مـې مولـوي صـاحب چـې زخمي هم و په باران او یخه هوا کې پاڅیدلی د غره په سـرو اوبـو یې اودس کړی او د تهجد په لمانځه ولاړ دی.

د نوموړي د ملګرو په وینا د مولوي صاحب بل صـفت دا و چې د جماعت لمونځ یې هیڅکله نه پریښود،حتی که دوه کسـان به هم و، نوموړي به ملګـرو تـه ویـل چـې یـو طالـب او یـو امـې مجاهد په موټرسـایکل سره ملګـري کیـږئ او د جماعـت لمـونځ هیڅکله مه پریږدئ.

شهادت:

مولوي محمد عالم کلیم رحمـه الله چـې بیابیـا ددښـمن لـه چاپو او بریدونو څخه الله تعالی ورتـه نجـات ورکـړ پـه پـای کـې داجیر دښمن په یوه ناځوانمردانه او بزدلانه برید کې د روان کال د جنوری میاشتې په شپږمه نیټه د شهادت لوړ مقام ته ورسید.

چې په جنازه کې یې د اسلامي امارت پـه منسـوبینو سربیـره لسګونه زره مهاجرینو، مجاهدینو او عامو مؤمنانو ګډون درلـود. روح دې یې ښاد او یاد دې یې تل وي.

رحمه الله تعالی

حقاني هروی

به مناسبت خروج قشون سرخ شوروی!

۲٦دلو سال ۱۳٦۷ خورشیدی، روز شکست و فرار ذلت بار شوروی، الحق که روزی پر افتخار در تاریخ افغانستان بوده و تا ابد خواهد بود.

روزی که آخرین سرباز ارتش سرخ شوروی افغانستان را با ذلت و خفت ترک گفت، و ملت بزرگ و قهرمان افغانستان قدرت و هیمنت امپراطوری شوروی را درهم شکست و افتخار شکست بزرگترین قدرت وقت را در کارنامهٔ ملت افغانستان مسجل کرد.

شوروی را در واقع کسانی شکست داد که با جان و دل به اسلام عزیز دلبسته بوده و با کفر و الحاد نهایت دشمنی داشتند؛ کسانی که نمی خواستند تحت ذلت بیگانگان زندگی کرده و قانون کمونیستی بر سرشان حاکم شود.

کسانی که شهادت در راه الله و دفاع از دین مقدس اسلام و سرزمین شان را بر زندگی راحت زیر پرچم سرخ الحاد و کفر ترجیح داده و عزت و بقای خود را و فرزندان خویش را در جهاد مقدس و مبارزه می دیدند.

الحمدلله که پس از سالیانی مبارزه و قربانی های فراوان بالاخره خون سرخ شهیدان افغانی بر قشون سرخ شوروی غلبه کرده و دشمنان اسلام و مسلمانان طعم تلخ شکست تاریخی را به دست شیرمردان اسلام چشیدند.

ولی متاسفانه پس از پیروزی یکتعداد جاه طلب و خودخواه بر آرمان مقدس شهداء پشت پا زده و بخاطر خودخواهی ها مقصد مبارزه و جانفشانی در مقابل بیگانگان و حاکم شدن نظام مستقل اسلامی به جای نظامهای دست نشانده را فراموش کرده و به جان هم افتادند و اینگونه طعم شیرین پیروزی را در کام ملت قهرمان افغان تلخ کردند.

امروزه بعضی ها می گویند که اگر شوروی را شکست نداده بودیم اکنون قبلهٔ بسیاری کرملین بود و...

گرچه این حرف تا حدودی درست است ولی آیا مگر حالا قبلهٔ بسیاری ها کاخ سفید نیست؟

در واقع باید گفت که الله بیامرزد مجاهدین واقعی و مخلصانی که در جهاد مقابل شوروی جان های شیرین خود را از دست داده و به دیار حق شتافتند و قربانی های بسا زیاد و فراموش ناشدنی در راه جهاد تقدیم کردند؛ اما قیام، مبارزه و جهاد در مقابل قشون سرخ شوروی هرگز به این خاطر نبود که مدعیان امروزی جهاد دیروزی، به اشغال امریکا لبیک گفته و قشون صلیبی امریکا را استقبال کنند.

و امروز در دامن امریکا لاف جهاد دیروز در مقابل شوروی را بزنند و امریکا را تمجید و ستایش کنند.

افسوس که حالا اگر قبله بعضی ها کرملین نشده اما کاخ سفید شده و برای این دسته افراد ۲٦ دلو چندان افتخار ندارد اگر شوروی را شکست دادیم با خون سرخ شهدای مخلص، اما اشغال امریکا چرا استقبال شد؟

و امروز شانه به شانهٔ امریکایی ها چه کسانی ایستاده اند؟

با انصاف باشیم که با احساسات خود مبادا ارواح پاک شهداء و جان نثاران جهاد دیروز در مقابل شوروی را خدای نخواسته با حمایت از اشغال فعلی امریکا و حکومت دست نشانده اش آزرده بسازیم که این واقعا بدور از انصاف است.

گپ آخر: برای اینکه قبلهٔ ملت مسلمان افغانستان کرملین نشود و حکومت دست نشاندهٔ نجیب حاکم نباشد آن همه مبارزه و جانفشانی صورت گرفت؛ ولی انصافا برای آنکه قبلهٔ ملت مسلمان ما کاخ سفید نشود و حکومت دست نشاندهٔ جان کیری حاکم نباشد چه کارهایی انجام داده ایم؟

ګلورینې پاڼې

الهي مينه

شکورالله همراز

ژونــدون پــه مســته مينــه الهــي لــوکی کــوي
خاونـــده! ستــا رضــا غــواري ځــواني لـوکی کـوي

ارمــان د غوريــدو يــې ورتــه پـاتې شــي يادګــار کــې
نــازکې ســرې غــوټی د ســـهرکي لــوکی کــوي

دا کــار د هغــو نــده چــي دولونــه او ســينګار کــړي
خــالص پــه ديــن مــين زلمــي زړکــي لــوکي کــوي

پــه ســپينو رڼاګــانو بانــدي تــورې شــپې ســبا کــړي
ګــلاب ګــلاب ځــوانی ورتــه دســتي لــوکی کــوي

جانانه! که راستون شوې کلي کور ته له زندانه
همــراز " بــه درتــه مخکــې ســپيلني لـوکی کــوي

غم ځپلي اوښکي

نصرت زرمتي

بيګــامي خــوب کـــې وې لـــه ســترګو نـــه وتلــې اوښـــکې
وې يـــو پـــه بـــل پســـې راغلـــې بهيـــدلې اوښـــکې

د يـــار و قبـــر تـــه ديـــره وم د وصـــال پـــه تمـــه
مـــا ويـــل کيـــدای شـــي کـــه مـــي واخلـــي دا نيـــولې اوښـــکې

لـــه حـــرارت نـــه مـــي د غـــم، بـــدن خولـــه خولـــه وو
پـــه اننګـــو بانـــدي مـــي ورو ورو غځيـــدلې اوښـــکې

لـــه اوښـــکو هـــم اوښـــکې روانـــې وې مايوســـه غونـــدي
بـــس د ګريـــوان لـــور تـــه روانـــې وې او تللـــې اوښـــکې

ديـــدن مـــي وکـــړ البتـــه پـــه ديـــرو ســـتونزو بانـــدي
دخوښـــی ځـــای و خـــو هرخـــوا تـــه رغړيـــدلې اوښـــکې

جانـــان مـــي هـــم پـــه ژرغـــوني اواز وويـــل راتـــه
يـــاره! دا څـــه کـــوې؟ مـــا ســـتا نـــه وې ليـــدلې اوښـــکې

مـــا ويـــل دلبـــره! لـــه يـــادونو دې پوښـــتنه وکـــړه
تـــل يـــې پـــالي دا ځوريـــدلې غـــم ځپلـــې اوښـــکې

راځـــه اشـــنا رانـــه د اوښـــکو مـــې پوښـــتنه مـــه کـــړه
زه پـــه دې خـــوښ يـــم چـــې مـــې تاتـــه وې ســـاتلې اوښـــکې

مـــا لا لـــه وختـــه وه لـــه ځـــان ســـره دا ژمنـــه کـــړې
د ســـتا وصـــال تـــه مـــې همـــدومره وې منلـــې اوښـــکې

چـــې رابيـــدار شـــوم څوســـلګی مـــې پســـې نـــورې وکـــړې
بـــس لـــه بنـــو نـــه مـــې هـــر لـــور تـــه تښـــتيدلې اوښـــکې

نـــه زه ماشـــوم وم نـــه مـــې هغـــه مهربانـــه مـــور وه
چـــې پـــه نـــاز بـــه يـــې ورو ورو راپـــاکولې اوښـــکې

خير، مـور هغـه نـه يـو چـې پـه اوښـکو مـو خندا وکـړي څـوک
مـور هغـه څـوک، يـو چـې پـه اوښـکو مـو ګټلـې اوښـکې

خدايـــه! د ســـتاد لارې حـــب ده، (نصـــرت) ځکـــه ژاړي
څـــومره بـــه ښـــه وي کـــه ترعـــرش وي رســـيدلې اوښـــکې

پرفیس بوک آنلاین فی البدیهه مشاعره

د تېرې جمعې د شپې (آنلاین فی البدیهه مشاعره) چې د تکړه شاعر (عرفان الله عرفاني) صاحب د فیس بوک پر دېوال تر سره شوه په لاندې ترتیب یې کتلی شئ! د معمول سره سم دا دی مشاعره د ښاغلی (حمیدي صاحب) د شعر په مطلع پیلوو، په همدې قافیه او ردیف یې راپیل کړئ!!

دا یــــدې ژوبـــدون لپــــاره ځـــه توبـــه جــوړوو
درب لقـــا لـــه شـــهادت یـــوه پلمـــه جـــوړوو

پـه تَشَـهُّد کـې اشـاره پـرې د توحیـد چـې کـوو
لـن هغـه گوتـه و دښـمن لـه پـر ماشـه جـوړوو
نظام کندهاری

درومـو سـنگر لـه پـه دې نیـت چـې پـاک الله رضـا شي
غـږ د تکبـیر ورسره مسـته بدرگـه جـوړوو
د هیلو جرس

دلتـه د مینـې لپـولي پـه مینـه مینـه راځـي
مـوږ مینـانو لـه د مینـې مدرسـه جـوړوو
عرفاني

اختره گـوره چـې خفـه نشـې لـه مـوږ نـه پـه دې
چـې ځـو سـنگرته تـورې ځنـې پـه مـزه جـوړوو
احمد گل ریان

چـې د غلـیم پـه سـینه ښنـې کـړو د حـق خنجـرې
بیابـه پـه سر د ویـاړ پگـړی هسـکه شـمله جـوړوو
عمر خالد

چـې د شـهید ماشـومان چېرتـه پـرې گرېـوان و وینـو
دا بـه یـې حـق وي چـې بـه مـونږ ورتـه جـوړه جـوړوو
صدیقي احمدزی

غرونـه مـو هـم دي گـوره زمـونږه پـه غـیرت گواهـان
مونږه د لنـگ پـه ځـای کـې هـر وخـت کـې جگـړه جوړوو
حبیب الله سیال

چـې کـړو قربـان خپـل سر او مـال لـه دې سـپېڅلي دیـن لـه
مـونږ بـه ملگـرو ښـه مضـبوطه عقیـده جـوړوو
محمدالله سنگري

د میونــدونو او ملالــو تــاریخ نــه هېــروو
بیــا لــه میدانــه د پردیــو قصــبه جــوړوو
فاتح سرگردان

عشـقه لـر داره دې پـالو ځـو د منصـور پـه لاره
مـونږ د حمـزه غونـدې داغونـه پـر سـینه جـوړوو
هلال مهاجر

دا چـې وهـو سـتړې مزلونـه د سـنگر پـه لاره
اگـر کـه کـم دی ځـو جنـت تـه یـوه پلمـه جـوړوو
قصاب

پـه تـورو غـرو کـې د غـزاوو سلسـله جـوړوو
د سـنگر غېـږ کـې بـه د ژونـد ښـه فلسـفه جـوړوو
مهاجر افغان

زمـونږ شـعار دی الجهـاد او دا نعـره پـه جـار کـړو
ځـو سـنگرو تـه د غازیـانو قافلـه جـوړوو
عرفاني

کـه یـې قبـول کـړې پـه بـدل کـې جنتونـه غـواړو
د سر پـه بیعـه لـه خپـل رب سر معملـه جـوړو
اسماعیل ستومان

مـونږ دار تـه خانـدو د سرو پـروا مـو نشـته تینـگ شـه
غلیمـه گـوره مـونږ پـر تـا بـه زلزلـه جـوړوو
عبدالستار پرهاري

غلیمـــه واوره تـه دې کـــروز او میزایـــل وروه
مـونږ ستاسـو قتـل تـه بـارودو نـه بوشـکه جـوړوو
فدایي کاکا

د جمعـې شـپه ده درود وایـو پـر جانـان هاشـمي
د کـوثر جـام تـه دا درودونـه یـوه پلمـه جـوړوو
سیف الرحمن

د لتـه پـه دې بـې دینـو مـونږ اول مـرې تـاو وو
وروسـته پـرې بیـا مـونږه ښـه مسـته ترانـه جـوړوو
حمدالله صابر

کلـه چـې سـتا خرېلـی مـخ وخـوري درلـې ځپېـړې
پـه هغـه ورځ خپلـه لـونگۍ کـړه وړه جـوړوو
صدیقي احمد زی

دا چـې خفـه راځینـې لـشي هـا محبـوب د الله
د جمعـې شـپه ده د درودولـو یـوه حلقـه جـوړوو
طلحه مجاهد

شـعرونه ښـه جـوړ کـړئ ملگـرو عرفـاني وسـتایئ
هـره جمعـه یـارانو مـونږ مشـاعره جـوړوو
شکرالله شمال

سـتابه گومـان وي چـې پـه مـونږه نـا خـبره راشـې
بـس چـې تـه راغلـې مـولږ تـدبیر هغـه شـېبه جـوړوو
سیف افغان

آس زیـن کومـه تـوره هـم لـوره لـه تیکـي باسـم
د جنـگ وگـر تـه ځمـه غشـو لـه لېنـده جـوړوو
عرفاني

کـه یـو ځـل بیـا مـو حکومـت پـه کابـل راغـی گلـه
تـورخم یـې لـه منـو اټـک کـې دروازه جـوړوو
رومان اعجاز

هـدف مـو یـو دی د بـدن غوښـې اعضـا تـرې لـوگی
بـارود زیـن کـړی مـوټر بـم ځـو حوصـله جـوړوو
دانش ملنگ

نـن ضرورت دښـکلي دیـن دی چـې لـه ژونـده وځـو
د خـدای پـه عشـق کـې دجنـون ښـه فلسـفه جـوړوو
زاهد خراساني

مـونږ د ابـد ژونـد د دنیـا لـه سـایه ورکـوو
ځکـه سـکروټو تـه سـتي سـینه ورکـوو
عزیزالله حسیني

د امام نسائي (رحمه الله تعالی)
د ژوند مختصر حالات

سید سعید

امام نسائي بن شعيب بن علي بن بحر بن سنان بن دينار په ۲۰۱٤\۲۰۱۵هق کال دخراسان په نساء ښار کي پيدا شوی دی.

امام نسائي رحمه الله په خراسان، حجاز، عراق، شام او مصر کي له ډيرو نوميالیو علماوو څخه د احاديثو سماع کړي ده، نسائي رحمه الله که څه هم شافعي مذهبه ؤ، خو د امام احمد بن حنبل رحمه الله څخه يې زيات علمي فيض ترلا سه کړی دی.

د امام نسائي رحمه الله نوميالی استادان ،

- ابو داود السجستاني
- مجاهد بن موسی
- احمد بن عبده
- حميد بن مسعوده
- قتبيه ابن سعيد
- عمران بن موسی
- اسحاق بن ابراهيم
- محمد بن بشار
- علي بن حجر
- علي بن حشرم

او.....

السنن النسائي د مبارکو احاديثو له شپږو مشهورو کتابونو(الصحاح الستة) له جملي څخه ډير مقبول او مشهور کتاب دی،مولف يې امام نسائي رحمه الله دی، امام نسائي له سنن نسائي څخه د مخه د السنن الکبری په نوم کتاب تاليف کړی ؤ.

ابن الاثير رحمه الله وايي چي ؛ امام نسائي وروسته له الکبری څخه صحيح احاديث را بيل کړل او په سنن النسائي کي يې جمع کړل،نو په همدې اساس ويلای شو چي په السنن النسائي کي ټول صحيح احاديث ترتيب او تدوين شوي دي.

پر السنن النسائي ډيرو زبده علماووشرحي او حاشيي ليکلي دي، د بېلګي په توګه جلال الدين السيوطي او ابو الحسن السندي يادولای شوچي پرسنن نسائي يې کتوري ليکني کړي دي.

د امام نسائي رحمه الله د مشهوروشاګردانو نومونه دي،

- ✓ ابو جعفر الطحاوي
- ✓ ابو القاسم الطبراني
- ✓ ابو بشر الدولابي

د احاديثو ستر خادم او محدث ابو عبدالرحمن (النسائي) په ۳۰۳ هق کال د صفري په ۱۳مه په فلسطين کي له دي فاني نړی څخه سترګي پټي کړي او دابديت په لور کوچيدلی دی. انا لله وانا اليه راجعون!

ماخذونه، {بيلابيل انلاين منابع}

چه کسی مانع صلح و پیشرفت در افغانستان است؟

ابوصهیب حقانی هراتی

چند وقتی است که به اسم صلح غوغایی در رسانه ها برپا شده است که گویا چنان شده است و چنین.

صلح کلمهٔ مبارکی است که متاسفانه امروز بسیاری در صدد تشویه وتحریف این کلمه زیبا برآمده و قصد دارند مثل آنکه آیات قرآن شریف واحادیث رسول الله صلی الله علیه وسلم در امر جهاد و مبارزه با کفار ومشرکین و قانون های دست ساختهٔ غربی را تحریف و توجیه می کنند واغراض و مفادی شخصی خود را گرفته و به اسلام عزیز ریشخند می زنند با این کلمهٔ زیبا هم همین کار را کرده و به نام صلح هر جنایت و خیانت خود را توجیه و چنان جلوه کنند که گویی حق به جانب، آنها هستند و مجاهدین و اهل حق دشمنان همه چیز مسلمانان العیاذ بالله!

امارت اسلامی واضح تر از همیشه پالیسی خود را در بخش های مختلف سیاست، تعلیم، حکومت، آینده، صلح و غیره را در فرصت پیش آمده در کنفرانس دو روزهٔ پگواش در قطر (مورخه ۲۳ و ٢٤ جنوری ٢٠١٦ م) به همگان تفسیر و تبیین کرد؛ طوری که در مصاحبه های مختلف از شخصیت های حاضر در کنفرانس، و همینطور تجزیه و تحلیل بسیاری کارشناسان منصف، ایده و پالیسی امارت اسلامی راجع به قضیه صلح و قضایای موجود در کشور با استقبال رو برو شده و همگان به شمول تدویر کنندگان پگواش، بر پالیسی مستقلانه، دقیق، همه جانبه، سنجیده و در عین حال خیرخواهانه و دلسوزانهٔ امارت اسلامی مهر تایید گذاشته و تحسین کردند و حرفی الحمدلله برای گفتن نماند که ملت شریف افغانستان و دنیا انتظار شنیدن واعلان موضع از جانب امارت اسلامی را داشتند و گفته نشده باشد.

اما دیده می شود که امریکا ظاهرا همچنان بر طبل زورگویی زده وادارهٔ کابل هم بالطبع چون ارادت و استقلالی از خود ندارد به جای استقبال از پالیسی خیرخواهانهٔ مجاهدین، بر زورگویی دشمنان اسلام خوشحالی کرده و فکر می کنند آرامش و آسایش آنها و ملت مظلوم افغانستان در حرف های فریبنده و زورگویی های امریکایی ها نهفته است.

و این نشان می دهد که چه کسی در گفتمان کم آورده و در دیالوگ سیاسی ضعیف است و الحمدلله مجاهدین همانگونه که در میدان های رزمی حرف اول را می زنند دیده می شود که در دیالوگ و گفتمان سیاسی و افشای حقیقت و ماهیت جنگ تحمیلی افغانستان و برملا کردن ضمائر دشمنان، نیز حرف اول را زده وگوی سبقت را هم از امریکایی ها و هم از ادارهٔ کابل ربوده اند.

اگر به واقعیت مسائل، مورد ارزیابی قرار گیرند به وضوح دیده می شود که در جریان حل مناقشهٔ جنگ تحمیلی افغانستان چه کسی مانع صلح دایمی و واقعی می شود و چه کسی مانع تراشی کرده و هربار با فریب جهت های مختلف سعی در تداوم جنگ و خونریزی در افغانستان را دارد!

در حالیکه بازار صلح در این روزها بسیار گرم شده و طرف مقابل هیچ موضع رسمی و مشخص و عملی در این باره ندارد امریکایی ها به خود جرئت می دهند برخلاف پالیسی واضح امارت اسلامی در جریان کنفرانس پگواش، همچنان با دو رویی مجاهدین را به همان القاب زشت یاد کنند که در اوائل اشغال و لشکر کشی نظامی خود در سال ۲۰۰۱ م یاد کرده بودند آیا وقتی دشمن اصلی هنوز نمی خواهد باور کند که طالب و یا همان مجاهد چه خواسته و منطقی درست راجع به قضیه کشورش دارد؛ ادارۀ کابل و جهت های دیگر که خواهان صلح پایدار در افغانستان اند می توانند ره به جایی ببرند؟

امارت اسلامی منطق صلح و جنگ را دارد اما امریکا چی؟

امریکا واقعا با دشمنی و دورویی گام بر می دارد و ای کاش این جرئت را همه داشته باشند و بگویند!

زیرا ادارۀ کابل صلح را با اصرار از جاهایی می خواهد که قصد بد نام کردن امارت اسلامی را دارد و فکر می کند همه چیز با فکر و نشقۀ آنها حل و فصل می شود...

طالبان دفتر سیاسی شان در قطر است و با صدای بلند می گویند که طالب، جنگش بخاطر اشغال و تا ختم آن و تشکیل نظام اسلامی بوده و خواستار صلح و پیشرفت در کشورشان بوده و صلح واقعی با مقدماتی که در کنفرانس (پگواش) قطر مطرح ساخته اند را می خواهند چیزی که بسیاری از کارشناسان امور سیاسی نیز بر دیدگاه های طالبان مهر تایید گذاشته اند...

و اما امریکا...

قوماندان عمومی ناتو جنرال کمبل امریکایی درپاسخ به این سئوال خبرنگار بی بی سی که امریکا چه تعریفی از طالبان دارد؟ آیا آنها را گروهی تروریستی می‌دانند یا آنها را گروه شورشی می‌داند؟

گفته: "می‌توانم یک بیانیه را برایتان بخوانم؟ فقط یکی دو جمله‌اش را که دفترم یادداشت کرده‌ام. این بیانیه را یکی از مقامات وزارت دفاع صادر کرده و خیلی هم ساده است. کلا ۶ خط است".

او افزود که در این بیانیه آمده است: "طالبان هیچ برنامه‌ای برای توسعه افغانستان ندارند. آنها آمده‌اند که شما را بکُشند. آنها ضد زن هستند. آنها با آموزش مخالفند. با آزادی مطبوعات مخالفند. آنها با پیشرفت ملت افغانستان مخالفند. به چنین کسی چه عنوانی می‌دهید؟"

اکنون عاقلانه خودتان قضاوت کنید، آیا واقعا طالب اینگونه است که امریکا از آن تعریف می کند؟

و آیا استفاده از این ادبیات به معنای تقریب افغان هاست یا تخریب و تبعید آنها از یکدیگر؟

واقعا امر یکایی ها با چه زرنگ بازی در چند جملۀ مختصر تمام وحشت و جنایت خویش در افغانستان را توجیه کرده و چگونه راحت در پی فریب اذهان عمومی بر آمده است!

بله طالبان امریکایی را می کشند چون تجاوزگراند!

اما خوشبختانه برنامه های بسیاری برای توسعه افغانستان داشته، مخالف تعلیم و ضد زن نبوده و با مطبوعات و آزادی و پیشرفت هیچ مشکلی نداشته البته...

البته در چوکات اسلام؟

امریکایی ها چرا در حرف های خود کلمه اسلام را سانسور می کنند آیا تا هنوز نفهمیده اند که ملت شریف افغانستان هر نظم و انتظام و هر پیشرفت و ترقی را در چوکات اسلام دین مقدس شان را می خواهند؟

در چوکات اسلامی امارت اسلامی مخالف هیچ یک از موارد فوق نیست.

کاش دشمن ما واضح سخن گفته و ما را غلط تفسیر نکند!

کسانی که می گویند امارت اسلامی چیست و چه می خواهد و مواضع اش راجع به قضایا چه می باشد قبل از آنکه به حرف زهرآمیز رسانه ها گوش دهند یکبار دیگر بیانیه طالبان در کنفرانس قطر را کلمه به کلمه مطالعه فرموده و همینطور دیدگاه امریکایی ها و ادارۀ کابل را، بعدا بگویند واقعا چه کسانی دشمن صلح و ثبات دایمی در افغانستان است؟!

به امید روزی که شناخت و درک حقیقت بر هیچ کسی سخت و دشوار نباشد

د اسلام تشریعي اساسات

تقلـيد

دمفتیانو تعدد او ددوی داختلاف په صورت کې دمقلد ترجیحي کړنلاره

کله چې په کومه سیمه کې یوازې یو مفتي یا عالم وي ،نو پرمقلد واجب ده، چې همده ته دمسایلو په حل کې مراجعه وکړي ،اودده په فتوای باندې په هغه مسئله کې عمل وکړي ،چې ده ته نده معلومه ،خو که بیا چیرته پدې سیمه یا ښار کې نورګڼ مفتیان ووا تولو کې دفتوی اهلیت وو،نو دې صورت کې مقلد مختار دی، چې دهر مفتي نه استفتاء او دمسئلې پوښتنه وکړي ،په (الموسوعة الفقهية) کې لیکي :چې دا په مقلد لازم نده، چې پدې مفتیانو کې تر ټولو اعلم پسې ولاړ شي او دهغه نه مسئله کې پوښتنه وکړي ،داځکه چې دصحابه کرامورضی الله تعالی عنهم وخت کې به عوامودمسئلو دپوښتلو پر وخت دفاضل او مفضول یا ډېر لوی عالم او دکمې مرتبې دعلم دخښتن تر مینځ کوم فرق نه کاوه او نه پر چا هغه راشده دور کې دا بندیز او حجر و،چې له حضرت ابوبکرصدیق رضی الله او عمررضی الله څخه په غیر به له بل چا څخه ددین دمسایلو پوښتنې نه کوئ ،نو هغه چې لازم دي، هغه دعلم او عدالت لوړ معیارونه ددې منصب دانتخاب لپاره اړین دي او بس ! لکه پدې عبار ت کې (إِذَا لَمْ يَكُنْ فِي الْبَلَدِ إِلا مُفْتٍ وَاحِدٌ وَجَبَ عَلَى الْمُقَلِّدِ مُرَاجَعَتُهُ وَالْعَمَلُ بِمَا أَفْتَاهُ بِهِ مِمَّا لا يَعْلَمُهُ . وَإِنْ تَعَدَّدَ الْمُفْتُونَ وَكُلُّهُمْ أَهْلٌ ، فَلِلْمُقَلِّدِ أَنْ يَسْأَلَ مَنْ شَاءَ مِنْهُمْ ، وَلا يَلْزَمُهُ مُرَاجَعَةُ الأَعْلَمِ ، وَذَلِكَ لِمَا عُلِمَ أَنَّ الْعَوَامَّ فِي زَمَانِ الصَّحَابَةِ كَانُوا يَسْأَلُونَ الْفَاضِلَ وَالْمَفْضُولَ ، وَلَمْ يُحْجَرْ عَلَى أَحَدٍ فِي سُؤَالِ غَيْرِ أَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ . فَلا يَلْزَمُ إِلا مُرَاعَاةُ الْعِلْمِ وَالْعَدَالَةِ..../الموسوعة الفقهية ج۱۴ص۱۰۶۲).

خو کله چې ددوو مفتیانو او علماوو فتواوې سره مختلفې او پکې تضاد راغی ،یوه له بل څخه مخالفه فتوی ورکړه ،نو پدې صورت کې حکم دادی ،چې مقلد ته دهغه چا په فتوی باندې باور او عمل لازم دی، چې دده په نظر پدوئ دواړو مفتیانوکې دښه علمیت او دیانت خاوند وي ،نو مقلدینو باندې ددوئ دوو مفتیانو او علماوو ترمینځ ترجیح واجب ده ،چې ترجیح پکې وکړي او دهغه مفتي په قول یا فتوی باندې عمل وکړي، چې دده په عقیده له هغه بل څخه دلوړ علمیت او ښه دیانت خاوند وي .

د(مطالب اولي النهی) مصنف لیکي چې : يَحْرُمُ الْحُكْمُ وَالْفُتْيَا بِقَوْلٍ أَوْ وَجْهٍ مِنْ غَيْرِ نَظَرٍ فِي التَّرْجِيحِ إِجْمَاعًا وَهَذَا لأَنَّ الْغَلَطَ عَلَى الأَعْلَمِ أَبْعَدُ وَمِنَ الأَقَلِّ عِلْمًا أَقْرَبُ.ژ: ترجیح کې له فکر کولو پرته دچاپه قول او

وجه باندې اجماعاًحکم او فتوی ورکول حرام دي ،داځکه چې د یوه لوی عالم څخه غلطۍ ډیره بعیده وي اودکم علم له خاوند څخه ډیره قریبه وي.

مقلد ته ددې ازادي نشته ،چې ځان دومره مختار کړي، چې څه یې خوښ وي ،هغه را اخلي او چې څه یې خوښ نه وي، هغه پرېږدي (دخپلې خوښې او خواهش سره سمه مسئله باندې عمل کوي او چې دده له خواهش سره برابره نوي هغه پرېږدي) او مخصوصا هغو ځایونو کې چې هلته رخصتونه وي راغلي وي ، دایې دخپلې مجردتشهي له مخي ترې هغه څه را اخلي اوپه هغې عمل کوي ،ددې مثال داسې دی، لکه یو مجتهد ته چې دادله وو ترمینځ پرې ترجیح واجب ده او دې ته پکې تخیر یا نفسي اختیار نشته ،همداسې دا مقلد هم دی، چې دخپلې هوااو هوس له مخې به درخصتونو اتباع نکوي، بلکې دعدالت او علمیت په رڼا کې به دمسایلو ترمینځ ترجیح کوي ،څنګه چې دا مسئله اختلافي ده، نو ځینو علماوو (چې دوی دقلت په درجه کې دي) مقلد ته هغه ځای کې چې دترجیح امکان نه وي،د تخییرکولو اختیار ورکړی ،لکه دامباحث پدې حوالو کې موندل کیږي (المستصفى ٢ / ٣٩١ ، ٣٩٢ ، وروضة الناظر ٢ / ٤٥٤ ، وإرشاد الفحول ص ٢٧١ ، والبرهان للجويني ٢ / ١٣٤٢ ـ ١٣٤٤ ، نهاية المحتاج ١ / ٤١ ، ومطالب أولي النهى ٦ / ٤٤١ ، وتبصرة الحكام ١ / ٥١).

(والله تعالى اعلم بالصواب)

نوربیا..................

مهاجر

غازي

وران دې تول د کفر رواجونه کړل
متې دې لا نوري ګړندي، غازي

تا چې له بادار سره وعده کړي
توره کې دې ونغاړه نړی، غازي

بیا به دې ارمان وي په دنیا پوره
غرقه که دې کړله دا بیړی، غازي

نور به دې هر زړه لکه پرهر ساتي
ور دې سخت ګوزار کړ د سیالی، غازي

دومره دې غرور دلته ثواب لري
هسې د دښمن پیچه مری، غازي

اوس دې مهاجر په تمه ناسته یمه
رب دې کړه حاکم پر دنیا ګی، غازي

عبــداللّه مسافر

مخلوطه جګړه

له هر اړخه تجدید نظر ته ضرورت لري

د تاریخ د اوږدیدو سره نضال یا جنګ هم خپل شکل او خاصیتونو ته تغیر ورکړی، د انسانانو سرنوشت بالخصوص د شلمې پیړۍ په اواخرو کې یو نه جبرانیدونکي تحول سره مخ شو چې د افغانستان په خاوره کې د ایمان او کفر یو بې مثاله جنګ رامنځ ته شو، په دې جنګ کې مجاهدین د یو لړ حربي تکتیکونو نه په استفاده وتوانیدل چې په ډیرو لږو اسبابو د شوروي اتحاد په څیر یو ډیر زوړور طاقت مات او له خپل پاک حریم نه وتلو ته مجبور کړي.

د تاریخ دې باب متعارف نضال (Conventional Warfare)ته د پای ټکی کیښود او جنګ متقارن (Symmetric Warfare) ته یې یوه نوې معنی ورکړه، دې جنګ او د هغه حیرانونکې نتیجې نظامي جنرالان دې ته مجبور کړل چې خپله هغه ستراتیجي چې په دې موخه د مسلمانو ولسونو لپاره وضعه شوې و چې هغوی له کوم مشکل پرته لکه فارمي چرګان تر تیغ تیر او تر دائمي اشغال لاندې وساتي، بیا تر نظر لاندې ونیسي؛ ولي چې دا افغاني حماسه هغه څه وو چې د مسلمان بې ساه جسد لپاره یې د نوي روح حیثیت درلود.

دغې حماسې اسلامي نړۍ په ښوریدو راوستله او په هر ښار، کلي، بانډه او سرک کې د اسلام د څرک او د مظلوم اسلامي تمدن بیا راویښیدو کنګوسې شروع شوې، خلک په دې پوه شول او عملي مثال یې هم ولید چې دا خبره بالکل امکان لري چې یو جابر قوت دې له فعالیته وغورځول شي خو دا دروند کار دې ته اړتیا لري چې د جنګ په طریقه یو ځل بیا تجدید نظر وشي؛ ولي چې متعارف جنګ له زوروور ځواک سره په دې ناشونی دی چې مسلمانان نه د سلاح جوړولو توان لري، نه یې دائمي لاس ته راوړلی شي او نه هم نړیوال قوتونه تر شا لري چې د دوی ملاتړ وکړي.

د یویشتمې پیړۍ له څرګندیدو سره سم امریکا د خپلو غربي اتحادیانو په مرسته او مشوره د هغو ګروپونو او نظامونو پر ضد مصدوم متعارف جنګ پیل کړ چې د احیایي اسلام حامیان وو، دا جنګ ډیر ژر د متعال رب جل جلاله په مرسته د دې ظالمانو لپاره په یو داسې دام تبدیل شو چې که ښکار ورسره څومره زور کوي نو دومره به نور هم په دام کې ننښلي، له دې دام نه د خان ژغورلو په موخه امریکایي جنرالانو په نوې ستراتیجي چې د کوین (COIN)یا د کاونټر انسرجنسي (Counterinsurgency) په نامه یادیږي، پیل وکړ، د دې اساسي مقصد دا دی چې ماهي (جهادي قوتونه) دې ته پرینږدي چې د اوبو (ولس) له منځه کار وکړي.

دغه ستراتیجي چې موږ د اربکیزم په نامه پیژنو، تر ډیره حده کامیابه وختله او د عراق مجاهدین یې له ښارونو او کلیو د سحرا خوا ته کوچیدو ته اړ ایستل؛ خو دغه د الفي

جوړښت (قبایلي مشران په پیسو اخستل) ډیر ژر بیرته په ړنګیدو شوه ولې چې پیسې مخ په ختمیدو شوې او کوین (COIN) ستراتیجي دې ته نه وه جوړه شوې چې د خلکو د نظام پر خلاف هغه بنیادي مشکلات (چې دوی یې اوایلو کې پاڅونونو ته هڅولي) وسنجوي او دایمي یا د اوږدې مودې لپاره رفع کړي.

تقریبا یوه لسیزه وروسته چې کله په عربي نړۍ کې انقلابونه پیل شول نو اسلامي قوتونو ته یو ځل بیا فرصت پیدا شو چې په ولس کې ځای پیدا کړي او ساحې تر خپل کنترول لاندې راولي، دې تحرکاتو امریکا یو وار بیا مجبوره کړه چې په خپله نظامي ستراتیجي غور وکړي، چون في الحال امریکا د دې توان نه لري چې یو وار بیا د «بیا رغوني» او د متعارف جنګونو پروژې پر مخ بوځي نو امریکا (او غربي اتحادیان) سره له نورو طاقتونو لکه روس او ایران یوې نوې نسبتا ډیرې ارزانې حربې ته مخ کړی؛ ځایي پروکسي » (Proxy)ایجنټ یا نماینده» ځواکونه چې هغه یې له خپلو خاصو ځواکونو سره پیوسته کړي تر څو د دوی رهبري وکړي او د نظامي او هوایي بمبارونو په مرسته وکولای شي چې ناخوښ ریژیمونه او نور دښمنان (یعني سني اسلامي ګوندونه) ختم او دې ته پرینږدي چې په ولسونو واکمني وکړي ، او دې زهرجن مخلوط نضال Hybrid) » (Warfareکوم چې له یو لړ متعارف، پروکسي، رواني او تبلیغاتي حربو نه هم مهاله استفاده کوي تر څو معلومداره نظامي او ملکي کربښې سره محو کړي» ته یې د جنریشنل وارفیر (Generational Warfare)یا په بله معنی جنګ نسلي نوم ورکړ.

چون نسلي جنګ دې ته ضرورت لري چې دښمن به یو نوی سیکولر مزاجه نسل زموږ په خپلو کورونو کې روزي او په عین وخت کې به یې واکمن کوي؛ نو بناء اسلامي خوځښتونه هم باید خپلو تکتیکونو ته تغیر ورکړي تر څو د دښمن د دغې نوې حربې مخ هم په ښه طریقه ونیسي.

د دښمن د نوې ستراتیجي تر شا اصلي هدف دا دی چې د اسلام پالو د حکومت داري مخه د نړیوالې انزوا، د ولس قحطي، عام المنفعه تاسیساتو نړولو او دائمي بمبارونو له لارې داسې ډب کړي چې خلک به د ډیرې نفس تنګۍ له وجې د مجاهدینو پر ضد پاڅونونه وکړي او د پخواني قیادتونو له ختمیدو سره به نوی نسل د جهاد د لارې تعقیب په تجریدي دول پریږدي؛ ځکه چې د جهاد ثمره خو ظاهرا له تکلیفونو، بمبارونو او د ملک تباهي پرته بل هیڅ څه هم نه بریښي.

لهذا مجاهدین هم باید د قیادتونو په سطح په اصطلاح له ځاګانو نه د باندې نظرونه واچوي او په یو داسې مخلوطه حکومتداري (Hybrid Governance)باندې فکر وکړي چې وکولای شي هم د دښمن مخلوط نضال پلان مخه ونیسي او په عین حال کې متعارف یا معمول حکومت داري ماډلونه چیلنج کړي، کوم چې په خپل ذات کې نړیوال مقبولیت نه په دې اړ دي، تر څو امنیت راولي او اقتصادي پرمختګ او اجتماعي رشد وکړي.

که اسلام پاله ډلې غواړي چې کامیاب شي نو هغوی باید د د زړې حکومت داري ماډلونو باندې ډیر عمیق سوچ وکړي، دوی باید یو داسې میکانیزم پلې کړي چې د هغه په تعقیب سره وتوانیږي تر خپل کنترول لاندې ساحو نه ښه استفاده وکړي او په عین وخت کې له داسې ډیپلوماسۍ څخه کار واخلي چې د خپل هدف منزل ورته رانږدې کړي، یوه داسې طریقه چې د هغې له لارې ولس نسبتا ارامه وي، خلکو ته روزګار پیدا کړي، خوراکي او تجارتي مواد پریمانه او داسې تر انحصار لاندې راولي چې خلکو ته له حکومتي ساحو ارزانه پریوځي، له بهرنیو حکومتونو او غیر حکومتي لوبغاړو سره داسې تماسونه جوړ کړي چې له لارې یې تجاران

وکولای شي چې خپل مالونه له حکومت ټیکسونو نه وژغوري، د دې نتیجه به دا وي چې خلک به له ډېرو مشکلاتو سره نه مخ کیږي او د مجاهدینو په منطقو کې به خوراکي مواد، نفت، گاز او اسلحو کمی نه رامنځته کیږي.

په دې سربیره باید هڅې وشي او د دې مخه ونیول شي چې کارپوهان له وطن فرار شي، مجاهدین باید د انجینرانو او ډاکترانو لپاره یو خاص یونین یا ټولنه ولري، دا سیکتور د جامعې لپاره حیاتي ارزښت لري او په هر حکومت کې ډیر مهم رول هم لوبوي، د ډاکترانو او انجینرانو دا ټولنه باید همیش له مجاهدینو سره تماس کې وي ترڅو دولس لپاره ارزانه طبي معالجه میسره کړي او د مجاهدینو په واک کې منطقې نه یوازې باید وساتل شي بلکې په بعضو میدانونو کې پر مختګ هم وکړي؛ دا کار به د ولس په زړونو کې د مجاهدینو لپاره محبوبیت نور هم پیاوړی کړي او دوی به تشویق شي چې په خپلو منطقو کې سرمایه گوزاري ته ادامه ورکړي.

مجاهدین باید په دې ډیر کوشش وکړي چې د ټپل شوي جنګ واګې په خپلو لاسونو کې واخلي او یوازې د مرتجع قوت په څیر نه وي چې هر وخت به د دښمن د پلانونو او حملو مخه نسي، نه هیڅ کله هم نه، مجاهدین باید ډیر څیرک واوسي او پیاوړي پلانونه جوړ کړي چې د الله دښمنان نه یوازې مات کړي بلکې هر وخت یې دې ته مجبور وساتي چې دمجاهدینو د ابتکارونو له وجې دعکس العمل په حالت کې واوسي.

له دې علاوه مجاهدین باید په خپلو سیمو کې دوروی (یعنې په هر څو میاشتو کی) سیمینارونه هم انجام کړي ترڅو خپل سپین ږیري او ځوان نسل په اسلامي ایډیالوژۍ وروزي او اوږد مهاله جنګ ته یې چمتو وساتي.

ومن الله توفیق

خدای نه هیلې

ربه د غمو او اندېښنو کیسې نور ختمې کړه
دلته د اهو او فریادو کیسې نور ختمې کړه

دلته ټول ولس په یو تغر سره راټول کړي نور
دلته د هغو او دغو کیسې نور ختمې کړه

دلته ټول خپلوان له یو او بل نه سپېلني کړي خو
دلته د کافرو او پردو کیسې نور ختمې کړه

جنګ کړو زاره چاودي او له سولې پسې مره یو مونږ
خدایه د بمبار او د بمو کیسې نور ختمې کړه

یو دم مې کړي شپېلي د یتیمانو د فریاد کریکه
بس ای لویه ربه! د سلګو کیسې نور ختمې کړه

پرېږده چې افغان د سترګې ورخې دمه وباسي
دغه د غدې او د چاپو کیسې نور ختمې کړه

ربه یوه پریکړه اسماني پرې رانازله کړه
دا د واک په سر د جنجالو کیسې نور ختمې کړه

دا ویده ولس د مشفق خدایه ویښ له خوبه کړه
ته یې د غفلت او د تیارو کیسې نور ختمې کړه

د تللیو یاد

دهیواد نوموړکی اوپردیس پښتون عالم ابو الوفاء افغاني

په دې کې شک نشته چې د وفات شویو انسانانو تذکره او د ژوند حالات بیانول د هغوی یاد را ژوندی کوي، یاد یې لا څه، داسې ده لکه هغوی چې پخپله بېرته را ژوندي کیږي .ویل کیږي:مات مَیّتٌ والذّکر یُحیِیه.ژباړه:انسان مړ شو خو یاد یې بېرته دی را ژوندی کوي.

داسلامي نړۍ لوی مؤرخ امام شمس الدین محمد بن عبد الرحمن السخاوي (متوفی ۹۰۲ هـ) پخپل کتاب (الإعلان بالتوبیخ لمن ذم التاریخ) کې د ابو العباس احمد بن علي بن ابي بکر المیُورقي قول را نقل کړی چې وایي: مَن وَرَّخ مؤمناً فکأنَّما أحیاه،ومَن قَرَأ تاریخَه فکأنَّما زارَه.ژباړه: چاچې د مؤمن تاریخ بیان یا ولیکه داسې ده لکه هغه یې را ژوندی کړ، او چاچې د مؤمن تاریخ ولوست داسې ده لکه د هغه سره یې ملاقات وکړ.

زمونږګران هېوادافغانستان لله الحمد تر بل هرهېواد، اولس او ټولنې زیات د مېړونو درلودو ویاړ لري، ددې هیواد نومیالي د تاریخ په ګواهۍ د ژوند د هر ډګر (علمي ،جهادي ،سیاسي، هنري ، عسکري او ...) اتلان پېژندل شوي دي، دې هېواد هر وخت په خپله غېږ کې په زرهاووېښ عالمان، پوهان، عارفان، ادیبان، باتور غازیان او فاتحین رالوی کړي دي.

مونږپرخپله خاوره ډیرې داسې نوموړکې علمي څېرې لروچې نه یواځې یې علمي شهرت پخپله خاوره کې لاره بلکې دخپل هیوادپه پرتله یې پوهه،ځیرکتیا،هڅې ،خواري، ،علمي څېړنې دنوروځایونوخلکوښې پېژندلي اوپه خپلوتاریخونو اوتذکروکې یې دهغویادترخپله وسه ژوندی ساتلی،خو په دې څه باندې درو لسیزو کې چې د افغان اتل اولس پرخلیک د خپل تاتوبې او خپلو امکاناتو او وزلو پرځای اوس له کوره بهر په نورو نورو لاملونو تاکل کېږي او بېکوري، جلاوطنۍ ، وژنې ، ترنې ،شړنې، اوسپکونې زموږ د پتمن اولس برخلیک ګرځېدلی دی، دخپلواسلافویاد یې ترینه هیرکړی دی اوافغان ولس په دغسې بیرنې اوځپځپاندبهیرکې چې له یوه دښمن نه یې لادارام ساه نه وه اخیستې چې له بل لوی استعمارسره مخ شوځرنګه به وکولای شي چې د خپلواسلافواورجالوپه هکله مستندتاریخ جوړکړیپه داسې حال کې چې دملي مشرۍ او مخورتوب مدعیان مو دخپلو لېونیو هوسونو په سیند کې ډوب په اولس پلورنه لګیا دي، خوبیاهم لله الحمدچې افغان ولس په پوره میړانه اواتلولۍ په روان جهادي بهیرکې هم ترخپله وسه کوښښ کوي چې دتورې ترڅنګ قلم له لاسه ونه غورځوي اودخپلواسلافوژوندلیکونه ولیکي ترڅوچې دهغوی ارواوې خوشاله شي اوځوان کهول ترینه درس واخلي.زمونږدګران هیواددنوموړکوعالمانواوپردیسوپوهانوله ډلې نه یوهم ابوالوفاء افغاني دی ،چې په پوهه اوعلمي رسوخ باندې یې ټول مؤرخین اعتراف کوي،په دې لاندې څوکرښوکې مودهغه دې ستري علمي څېرې په هکله یوڅ معلومات راغوندکړي دي،خدای دې دده روح پرې خوشاله کړي .

نوم ،زوکړه اوزده کړه :مولوي سید محمودشاه اخونزاده د سید مبارک شاه قادري حنفي زوی مشهور په ابو الوفاء افغاني د اسلامي نړۍ ستر عالم اوداوسنۍ پیړۍ لوی پـو هانـدوچي پـه (۱۳۱۰ هـ)کال دذی الحجي په میاشت د کندهار د ارغستان پـه سیمه کـي زیږیـدلی دی .دی دمعاصرافغانستان لـه لویـوعلمي اوادبي مشـاهیروڅخه دی چـي دکنـدهار ښـارکي اوسـېده اودتـدریس حلقـه یـي دعلامـه حبیبـی مرحـوم دکـورنۍ په جومات کي فعاله وه .

زده کړه اوتدریس:ابـو الوفـاء افغـاني ابتـدائي زده کـړه د خپل هېواد له عالمانو څخه کـړي ده،دمروجـه دینـي علومـو دزده کړي لپاره پیښورته لاړ،څه تحصیلات یې هلته په کوهاټ کـي وکړل بیارامپور ته لاړهلته یی هم څه وخت تېرکړ، له څه مـودي تیرولووروسته یي بیا گجرات ته سفر وکړ، هلته یـي څـه مـوده تیره کړه ، بیا د لوړو زده کړ ولپاره دکـن حیـدر آبـاد تـه ولاړ او هلته یي د هغه ځای او د هند د نور وسیمو له عالمانو لکـه شـیخ الهند مولینا محمود الحسـن اومولینـا انورشـاه کشـمیریاونورو عالمانوڅخــه زده کــړې وکــړې، کلــه چــي د دودیزودینــي علومو له زده کړي فارغ شو نو د حیدر آباد پـه نظامیـه مدرسـه کي د استاذ په توگه وټاکل شو .

داافغان نومیالی پوهاندچي هلته یی پـه ابوالوفـاء افغـاني شهرت مونـدلی پـه ختیځـوعربی علومـوکي لکـه فقـه ،اصـول ،تفاسیر،احادیث ،صرف،نحو،معقـول ،پخـوانی فلسـفه ،ریـاضي ،ادبیات ،پخوانی هیئـت اونـوروواجي علومـوکي دډیرمهـارت څښتن ؤ.

ابو الوفاء افغاني د قرآن عظیم قاري، لوی فقیه، مفسر، او محدث ؤ او په اسلامي علو مو کي یې ډېر مهـارت درلـود، دی پر پښتو سربېره په عربي دري او هندي ژبوهم ښه پوهېده، ټـول وخت یې په زهد، تقوٰی او تـدریس تېـراوه، د قرائـت علـم یـي د بیلا بیلو مکتبو له مخې تدریساوه، وایي چـي کلـه ده پـه دکـن کي استو گنه کوله، نو هلته د نظامیه مدرسې استاذ وټاکل شـو او پر هغه سر بیره د ((احیـاء المعـارف النعمانیـه)) د مـو سسـې مدیر او رئیس هم ؤ، چي نادر نادر کتابونه یې چاپول او د هغـه کتابو تصحیح او تحشیه د ده پر غاړه وه او زیـاتره پکـې د دوی خپل تالیفونه او تعلیقات ؤ اروښـاد مولـوي ابوالوفـاء صـاحب شـاعرهم ؤ،پښـتو شـعرونه یـې پـه طلـوع افغـان کـې خپرېدل.نوموړی ښه نطاق هم ؤمجلس یې په چانه درنیده څکه چې ده دهرمخاطب سویه په نظرکې نیولـه،ده پـه همیشـه دخپـل ولس ځیني ناوړه اوناروادودونه اورواجونه غندل اوپه دې لاره کې یې زیات زیارکښلی ؤ. علامه حبیبـی مرحـوم چـې کلـه پـه کندهارکې ((دطلوع افغان)) اخبارچلاوه دکـن حیـدرآباد تـه یـې دمولوی ابوالوفاء دمطالعې لپاره منٔظم ورلیږه، ابوالوفاء صـاحب ترمرگه پورې افغاني پاسپورت له ځانه سره گرځاوه اوهرکال یـې ویزه ورنوې کوله،دکابل له پښتو ټولنې سره یـې رابطـه درلـوده اوپـه ځینـو ادبي برخـوکې یـې علمـي لارښـوونې ورتـه کـولې اوخپل نظریات یې ورته لیکل .

مولوي صاحب له یوه پلوه درویش، عابد او زاهد ؤ، خـو ورسره نومیالی عالم او محقق ؤ، پر خپلو افغاني روایاتو، زهد او تقوا ښو اخلاقو، تواضع اوعلمي پلټنو سخت ولاړ و، مجلس یې خو ږ او پراخ و، د خپلو تېرو صالحینو د علم او عمل ښه نمونـه و مرشدانه شفقت محبت او مهرباني یـې درلـوده، او یـو شـمېر شاگردان یې پرېښوول چې په حقیقت کې د ده علمي ترکه ده.

علمي مقام: مولوی صاحب د علم او د کتـابونو د مطـالعې سره دومره ډېره مینه درلوده چې واده یې ترپایه ونه کـړ او خپـل ټول عمر یې د دین خدمت ته وقف کړی ؤ، څکـه نـو د اسـلامي نړۍ ستر لیکوال شیخ عبدالفتاح ابو غده پخپـل کتـاب العلمـاء العـــذاب الـــذین آثـــروا العلـــم عـــلی الـــزواج ۱۲۳مخکـــې د مولوي صاحب نوم هم د هغو عالمانو پـه لـړ کـې لـیکلی چـې

هغوی د علم سره د زیاتې مینې له امله یې نکاح ترک کړې او ودونه یې نه دي کړي .

شیخ عبد الفتاح ابو غده دخپل کتاب العلماء العذاب الذین اثرواالعلم علی الزواج ۱۲۳مخ کې لیکلي دي : وعاش عزبًا فریدًا متبتلاً متعبدًا زاهدًا ورعًا قائم اللیل محافظًا علی السنن النبویة کلَّ الحفاظ یکره ترک المستحبات ویعمر اوقاته بالمطالعة والافادة والتحقیق والتعلیق وتلقین العلم لشباب العلماء والمستفیدین یقول کلمة الحق ولایخاف فی الله لومة لائم.

دژبـــــاړې خلاصـــــه:مولـــوی صـــاحب پـــه تجرداوانزوا،زهداوتقوی کـې ژوندتیرکړ،دشپې بـه یـې دالله تعالی عبادت کـاوه ،دنبوی سنتوپابندؤ،مستحبات یـې هم نـه پرېښـودل ،ټـول وخـت یـې پـه مطالعـه ،افـاده،تحقیق ،تعلیـق اوځوان کهول ته په ښوونه اواستفاده کې تیراوه،همیشه به یې حق وایه اوپه حق ویلوکې دملامتې ویـونکې لـه ملامتیـا نـه ویریده.

مولوی صاحب دافغانستان دخپلواکۍ دګټلوپه دوهم کـال چې دځـه وخـت لپـاره کندهارتـه راغلـی ؤ،داتیاتنوطالبانوپـه شــاوخواکې پــرې راغونډشــوي ؤچــې ددینــي علوموپــه بیلابیلوبرخوکې یې ورځخه زده کړې کولې.بیاهندتـه لاړاوهلتـه یـې زیـات شمیرشـاګردان وروزل .پـنځلس کالـه وروسـته بیاافغانستان ته راغـی اوداپلاهـم ډیروشـاګردانوزده کـړه څینـې وکړه اوبیابیرته دکن ته لاړ،شپاړس کاله وروسته بیاکندهارتـه راغی اوډیرعالمان اوپوهان یې له مجلسه مستفیدشول،وروستی پلاد۱۳۴۹ش کال په وړی کې وطن ته راغی چې ترځـه مـودې وروسته بیرته دکن ته لاړاوبیاټرمرګه هلته پاتې شو.

علمي نوښتونه اولیکنې :ابو الوفاء افغاني د تجوید په علم کې د دلیل القرآن په نامه په پښتو ژبه یوه رساله پـه هندکې و لیکله چې طالبان یـې پـه درس کـې لـولې او څـو واره چـاپ شوې ده.وایي چې یواځې پـه مصرکې یـې دوه اتیاکتابونـه پـه مختلفوموضـــوعاتوکې چـــاپ شـــوي دي . دا لانـــدې کتابونه یې مستقیمًا پخپل قلم تصحیح، تحشیه، ترتیب او چاپ کړي دي:

۱ -کتاب الرد علی سیر الاوزاعی

۲ - کتاب الحجة علی أهل المدینة د امام محمد بن حسن شیبانی څلور ټوکه.

۳ - مختصر الطحاوي فی فقه الحنفیة دامام ابو جعفر احمد طحاوي.

۵ - کتاب اختلاف ابی حنیفه وابن ابی لیلی دامام ابو یو سف .

۶ - کتاب الا صل دامام محمد بن حسن شیبانی په ډېر وتو کو کې .

۷ - الجـامع البخـاری فهـارس د مولینـا رضـوان محمـد رضوان .

۹ - کتاب الخراج د امام ابو یوسف .

۱۰ـــ شرح صدرالشهیدلکتاب النفقات علی الاقارب

۱۱ـــ الجامع الکبیردامام ابوحنیفه دشاګردامام محمدبن حسن چې په ۱۸۹ق کال کې مړدی.

۱۲- مناقب الامام الاعظم وصاحبه دحافظ شمس الدین ذهبي .

۱۳ــــ العالم والمتعلم دامام ابوحنیفه .

۱۴ــــ کتاب الاثار دمحمدبن حسن شیباني.

۱۵ــــ الحجة علی اهل مدینه.دامام محمدبن حسن شیبانی په څلوروټوکوکې.

علامه ابوالوفاء افغاني هروخت له افغـاني مفاخرونـه پـه کلکـه دفـاع کولـه ،نوځکـه دهنـدد عالمـانوترمینځ پـه افغـاني مشـــهورؤ اوکلـــه کلـــه بـــه یـــې حنفـــی امـــام هـــم باله.نوموړی دافغانستان له افتخاراتوځخه دی خوله بـده مرغـه چې دخپل پلارونیکه په ټاټوبي کې یې قدرچانه دی کړی نه دده

په نامه کومه علمي موسسه نومول شوې ده اونـه يـې پـه يـاد کنفراسونه اوغونډې جوړې شوي دي، ددې خاورې دبچيانولـه استعداد څخـه پـه پرديوملکـوکې ډيـره ګټـه اخيسـتل شـوې ده.پوهاندميرحسين شاه صاحب په يوه ليکنه کې کښلي دي چې ددوې دتحقيقاتولـه مخـې دتـاج محـل مـانۍ سر مهنـدس (احمدمعمار) دکندهار ؤ ددې وطن ماهران نوروتـه تـاج محلونـه جـوړولای شي خوپخپلـه مينـه کـې دکوډلوددرلودلوتـوان نـه لري.ابوالوفـــاء افغـــاني دمصر،هند،اســـتانبول اوشـــام دزياتوپوهـــــانوسره يـــــى علمـــــي روابـــــط درلودل،اودهغوهيوادومطبوعات دده له نامـه سره ښـه اشنـاؤ،په افغانستان،پښتونســـتان اوهنـــدکې دډيروعالمانو،پوهـــانو اودانشمندانواستاذؤ،چې يوله هغوڅخه پوهاندعبـدالحی حبيبـي دی چې قران عظيم يی له تجويـد،صرف اونحـوې سره لـه ده نـه لوستی ؤ.

مړينه:دغه ستر عـالم اونـو ميـالی پوهانـد د (۱۳۹۵ هـ ق) کال د رجب په ١٤ مـه چـې د۱۳۵۴ش کـال دزمـري پـه اولـه د چهارشنبی په ورځ د سهار په اوويجو د پنځه اتيا کالو پـه عمـر په دکن حيدر آباد کې وفات شوی دی او هملته ښخ دی .

د مولـوي صـاحب پـه مړينـه افغانسـتان، پاکسـتان او هندوستان خپل وير او غم څرګند کړی دی چې د نمونې په توګه د (الحق) جريدې د ۱۹۷۵ م کال د دسمبر د لسمې ګڼې د يو څـو ليکو ترجمه راوړو، دا جريده د پېښـور د اکـوړې د حقانيـه دار العلوم څخه په اردو ژبه خپرېږي دا جريـده ليکـي: د هندوسـتان په حيدر آباد کې تيره مياشت حضرت مولينـاابو الوفـاء افغـاني قدس سره وفات شو، مرحـوم پـه علـم، فقـه، تقـوا، زهـداوذاتي کمالاتو کې د زماني طاق او دحنفي فقهې د لويـو امامـانو څخـه ؤ، چې خپل ټول عمر يـې د حنفـي امامـانو د آثـارو د راژونـدي کولو او دحنفي فقهې د ماخذونو په ښکاره کولو مصروف کـړی دی د هغو په راژوندي کولو او چاپ کولو کې يې همت کـړی ، ده تل په ګمنامۍ او انزوا کې ژوند تـير کـړی، د ده وفـات د ټول عالم اسلام په زياته بيا د حنفي فقهې د مذهب پيروانـو تـه يوه الم ناکه لويه سانحه ده، خدانتعالی دې ده لـره د خپـل مقام قرب ورعطا کړي.

دبمبـي دانقـلاب ورځپانـه د۱۹۷۵م کـال داګسـت پـه دريمي (د۲۱۸ګڼي اته ديرشم ټـوک دريـم مـخ) کـې دمولـوی ابوالوفاء افغاني دمړينې په هکله داسې ليکي: دحيدراباددلجنة احياء المعـارف النعمانيـه دصدرحضـرت مولينا‌ابوالوفـاء المنـاک وفات نه يواځې دهند اوپاکستان داهل علموپـه منـځ کـې بلکـه دټولې نړۍ په علمي حلقوکې په ډيرتأسف اوخواشينۍ اوريـدل شـوی دی.ددغـه اسـتادشريف شخصـيت دمشـيخيت اوعلميـت لطيـف ممـزوج ؤ،چـې نظيريـی لږپيـداکيږي. لـه يـوه پلـوه درويش،عابد،زاهداوخـدای پرسـته ؤ،خوپـه عـين حـال کـې زبردسـت عـالم اومحقـق ؤ،چـې پـه علمـي دنيـاکې يـی مسـلم شخصيت درلود اودعالمانواومحققانوپه لومړی صف کې شميرل کيده اوپنځوس کاله يی ددکـن پـه حيـدرابادکې دحنفـی فقهـې نادروکتابونوپه مونـدلو اوچاپولو اوشـاګردانو روزلـو اوعلمـي مشــاغلوکې تيرکــړل اوپــه کلوکلــوددکن دحيدرابادنظاميــه مدرســې مــدرس اودداـــرة المعـــارف النعمانيـــه مشرــؤ،چې دزړواونووطبقوڅخه يی بيـاوړي مخلـص شـاګردان درلودل،پـه خپلوافغــاني روايـاتو،زهداوتقوی،ښواخلاقو،تواضــع اوعلمــي پلټنوسخت پابندؤ،مجلس يی خوږاوپراخ ؤ،دخپلو تيرو صالحينو دعلم اوعمل ښه نمونه ؤ،مرشدانه شفقت ،محبت اومهرباني يـی درلـوده اوترځـان وروسـته يـی يوشـميرلوی شـاګردان ،پيـروان اومخلصان پريښودل چې په حقيقت کې دده علمي ترکه ده، روح دې ښاداويادد‌ې تل وي اولاره دې له لاروپانوډکه وي.

دسعـــودي او ایـــران سیاسي ستونزه ولـــې

مذهبي شخړه کنګل کېږي ترشایې څه اهداف دي؟

شهید زوی

پــه سعودي کــې شـیعه مـلا شـیخ نمـر النمـر تـه دمـرگ سـزا اوبیاپـه تهـران اومشهدکې دسعودي پرسـفارت اوقونسـلگرۍ دایـراني مظاهره چیانودحملې نه پس دسعودي عربستان او ایران ترمنځ دیپلوماتیکي اړیکې پرې شویدي اوبېخي د ۱۹۸۷م کال هغې پېښې ته ورته فضا رامنځته شویده کلـه چـې دسعودي دولت پـه حـرم شریـف کـې د۲۷۵ ایرانیانوپـه شمول هغه ۴۰۲ شرخوښي شیعه گان ووژل کومـوچې دسعودي پرکړنلارې داعتراض پـه موخـه پـه حـرم کـې مظاهره کړې اوپه حرم قابض شوي وو ؛ دسـعودي ددې اقدام په مقابل کې ایرانیانوسخت غبرگون ښکاره کړې و ؛ په تهران کې یې دسعودي پرسـفارت حملـه کـړې وه ؛ سـفارت تــه دســخت زیــان اوښــتوترڅنګ ایــراني ځوانانویوسعودي دیپلومات هم وژلی و چې پـه مقابـل کې یې سعودي دځپلې خاورې نه دایران سفیر ویستلی و او پـدې توگـه ددواړوهېوادونـو تـرمنځ د۴ کلونولپـاره دیپلوماتیک روابط پرې شوي ول .

سره له دې چې دایران اوسعودي ترمنځ غوره مثالي روابط کله ندي تېر شوي خو په سعودي کـې النمـر تـه دمرگ دسزا ورکول کېدونه پس دسعودي اوایـران تـرمنځ روابـــط دومـــره خـــراب شويدي چې شاید دومره به دتاریخ په اوږدو کې کله هم نه وو خراب .

دیوبل دغندلو اوژبنیزې شخړې نـه خـبره دیوبـل پرضـــد دعمـــلي اقداماتوترحـــده ورســـېدله ؛ ددواړوهېوادونوترمنځ دیپلوماتیکې اړیکې پـرې شـوې ؛ نـــه یـــواځې ددې دواړوهېوادونـــوبلکې دســـعودي حلیفوهېوادونوقطر، کویت ،بحـرین ،سـودان اوجبـوتي هم دایران سره خپلې دیپلوماتیکې اړیکـې پـرې کړیـدي اوپه تهران کـې یـې دسـعودي دسـفارت سـوځېدل پـه سختوتکوغندلي دي.

پـه ملگروملتونـوکې دسـعودي څـانگړي اسـتازي عبدالله المعلومي ویلی دي چې دایـران سره زموږڅــه ازلي دښـمني نشـته ؛ دنوروواوپــه څــانگړې ډول دعربوپــه کورنوچاروکې لاسوهنې زموږ اوددوئ ترمنځ دروابطـود خرابوالي لامل گرځي ؛که ایران پـه خپلـې کـړنلارې کـې بدلون راولي نوپه ډېرې اسانۍ زمـوږروابط ښـه کېـدای شي .

ترکـې دسـعودي اوایـران تـرمنځ دمنځگړیتـوب وړاندیځ وکړخودسختې ناهیلۍ سره هغه مهال مخـامخ شـــوچې کلـــه دایـــران یوشـــمېردولتي اونـــادولتي مشرانودشیخ نمردمرگ دسزا سره دترکې دولسمشرطیب

اردگان دارتباط خبرې وکړې ؛ دترکــې دولــت دايــران ددې څرگندونوپه مقابل کې سخت غبرگون ښکاره کړاودايران ددولــت نــه يــې وغوښــتل چــې دداســې نامســئولانه څرگندونودمخنيوي لپاره دې کوټلي گامونه پورته کړي .

بــل لورتــه دايــران دولــت هڅــې کــوي چــې ددواړوهېوادونودروابطودخرابوالي توله پــړه پرســعودي ورواچــوي ؛ دبانــدنيوچاروډوزارت وياندحســين جابرانصاري وويل چې دسعودي دولت غــواړي چــې پــه تهران کې يې پرسفارت حمله پلمــه کــړي اودايــران سره روابطوخرابولوته لاربرابره کړي ؛ انصــاري داهــم وويــل چې څو ورځې دمخــه دســعودي جنگــي طيــارو دايــران پرســفارت بمونــه غورځــولي دي چــې پکــې دســفارت څوکارکونکي ټپيان شوي هم دي خوسعودي ايران داتور ردکړيدی او ويلی يې دي چې ددې تورپه اړه به تحقيقات وکړي

همداراز ايران ته يارانودوســتانوهم خپــل اخــلاص ښکاره کړيدی ؛ دعــراق يوشمېرســياسي څېرواونېــړدې تولوشيعه مذهبي مشرانودسعودي دولت له لورې شــيخ النمر ته دمرگ سزا ورکول سخت غندلي دي .

پــه لبنــان کــې دحــز ب الله پــه نــوم دشــيعه گانودملېشومشرحسن نصرالله هــم پــدې اړه دخپــل غــم اوغصې اظهارکړيدی ؛ دااقدام يــې پــه تــولې نــړۍ کــې دشيعه گانواوسنيانوترمنځ دخپلمنځي جنــگ درامنځتــه کولوهڅه گڼلی اوويلي يې دي چې دشيخ النمرمــرگ بــه ديوم الحساب پورې دآل سعودلپاره

دا پــه داســې حــال کــې ده چــې لا دمخــه دا دواړه هېوادونه په يمن اوشام کې بالواسطه يوپربل گوزارونــه کوي اودداوړو ترمنځ پراکسي واريابڼ جنگ روان دی .

دنړۍ مطبوعات لگيادي په ســعودي کــې النمرتــه دمرگ سزا اوپه ايران کې دســعودي پرســفارت حملــه ،دا دواړه پېښــې غټــوي اوهڅــې کــوي چــې ددواړو هېوادونــوترمنځ دجنــگ رامنځتــه کېــدل حتمــي کــړي؛ اوسني حالات بيخي د۸۰ يمې کليــزې حــالاتو تــه ورتــه بولي ؛ هغه مهــال دصــدام دولــت يــوعراقي شــيعه مــلا محمدباقرالصدر په مرگ محکوم کړی وچې همــداد۱۹۸۰ نه تر۱۹۸۸ پورې دعراق اوايران ترمنځ دســتروتاوانونونه د ډک جنگ سبب گرځېــدلې واوددې جنــگ پــه رامنځتــه کېدوکې نړيوالورسنيوډېر ستررول اداکــړی و؛ اوس هــم چې په يوسني هېواد کې دسني دولت له لورې شيعه مــلا په مرگ محکــوم شــويدی نړيوالــو رســنيو ددې پېښــې دزيــــات غټولـــــواو ددې دواړوهېوادونـــــوترمنځ د روابطودســـــخت خرابوالواوپـــــه نتيجـــــه کـــــې يـــــې ددواړوهېوادونوترمنځ دجنگ رامنځته کولولپاره شــپه او ورځ پرځان يوه کړيده ؛ تولې هغه خــبرې خپــروي چــې ددښمنۍ اوتعصباتودلازياتېدا ســبب کېــدای شي اويــوه داسې خــبره هــم نــه خپــروي چــې دښــځرې دکمــوالي اوددواړوهېوادونودقرب لامل کېدای شي .

ژوندۍ بېلگه يــې داده چــې دســعودي پرســفارت حمله دايران ولسمشر حسن روحاني په ډېروســختوټکو غندلې وه خونړيوالورسنيودهغه دوينــا دغــه ټــول ټکــي پرېښي وواودهغه دخبرويواځې هغه برخه يې راخســتې وه کومــــه چـــــې دســـــعودي دلاغصـــــې اوددواړو هېوادونوترمنځ دلريوالي سبب کېدای شوه کابومياشــت وراندې چــې دداعــش دمقــابلې لپــاره دســعودي دولــت ۳۴هېوادونواتحاداعلان کړنو نړيوالــوشريرو رســنيو دې اتحاد ته دسني اتحادنوم ورکړحال داچې کــابو۲۳ ســني هېوادونه پدې اتحادکې بيخي شامل نه وو

مذهبي ،فرقه يزو ،ژبنو اوقومي تعصباتو تـه هـوا ورکول اوله دي لارې جنګي جنـون رامنځتـه کـول هغـه حربـه ده چـې برتـانې بـه پـه هغـه سـيموکې تـرې کاراخسـتلوکومې بـه يـې چـې ترخپـل اسـتعمارلاندې راوستل غوښتل

نن په منځني ختيځ کې اسلام دښمن ټول ځواکونـه دبرتـانې دهمـدې پخـوانۍ حربـې نـه کـاراخلي ؛ داسرائيلوترشاولاړ دي اوله ډېرې مودې نه پدې هڅـوکې دي چې په منځني ختيځ کې دشيعه اوسـني فرقـه يـزې شخړې رامنځته کړي ؛ اجتماعـي طاقـت يـې لـه منځـه يوسي ؛ هېوادونه تجزيـه کـړي اودګريټراسرئيـل (لـوی اسرائيل) دنقشې دتطبيق ترځنګ خپل ټول شوم اهـداف پوره کړي .

پـه منځنـي ختـيځ کـې دآزادکردسـتان پـه نـوم ديولاسپوځې دولت رامنځته کـول داسرائيلـوډېره سـتره هيله وه ترڅوپکې ستره فـوځي اډه جـوړه ؛خپلـه دفـاع باوري اوخپلې توسيع ورکولوته لاربرابره کړي .

په روغ اوباثباته منځنـي ختـيځ کـې داسرائيلـودا ارمان هيڅکله پوره کېدونکی نه و خوپه عراق اوسـوريې کې يې چې بې ساري ګډودي رامنځته کـړه نـواوس يـې تقريباً داهدف پوره کېدونکی ښکاري .

امريکابيـا پـدې کـارکې ترټولـوور انـدې ده ؛ دخپلووسلودپلورلواوداسلامي هېوادونو داشغالولو لپاره لګيـا ده همداحربـه پـه کـاراچوي او دامريکاوسـله جوړونکي شرکتونه دنړيوالورسنيونه ددې هدف دترلاسه کولولپاره ډېرکار اخلي چـې دايـران اوسـعودي اوسـنی لانجې ته دشـيعه ګـانو اوسنيانودشـخړې نـوم ورکـول همداحقيقت روښانه کوي .

امريکـا، روسـيه ،برتانيـه ،چـين ،فرانسـه ،المـان ،اوکراين ،نيدرلينډ، سويډن ،سويزرلينډ، اسرئيـل اوترکيـه دنړۍ هغه هېوادونه دي چې په نـړۍ کـې ترټولوزيـاتې وسلې پلوري .

سعودي عربستان ،هند،متحده عرب امـارات،عمان، سنګاپور،پاکسـتان ،عـراق، آزربايجان،انـدونيزيااوچين دلومړۍ کرښې په وسله پېرونکو هېوادونوکې شماردي .

په وسله پلورونکو يادو ټولو هېوادونو کې اسلامي هېواديواځې ترکيه ده چې په درجه بندۍ کې يـې مرتبـه ترټولولانـدې ده ؛ امريکـاترټولو وړانـدې ده او هروسـله جوړونکې شرکت يې دبـل ستروسـله پلـورونکي هېـواد برابـــردی ؛ دامريکـــا همـــدا شرکتونـــه دوســـله پېرونکوهېوادونو سياستونه ترخپلو اغېزو لانـدې راولي اوخپلووسلو ته دبازارپيداکولوپـه موخـه پـه نـړۍ کـې دمصنوعي جنګونود رامنځته کولولپاره پلانونه جوړوي.

دړومبـۍ کرښـې پـه اخسـتونکو اوخرڅونکـو دواړوهېوادونوکې چين داخل دی نوځکه يـې پرسياسـت دنورواغېزې نشته .

پـه نـړۍ کـې سـعودي عربسـتان اوهنـدترېل هرچازياتې وسـلې پېـري ؛کلـه چـې دا دواړه هېوادونـه دجنګ اراده ښکاره کوي يا عمـلاً پـه جنـګ کـې ښـکېل کېږي نودسيمې نورهېوادونه هم دوسلواخستلوپه منـده کې ځانونه ورشاملوي نوځکه داخبره ببخې په ځـای ده چې دنړيوالورسـنيوله لارې دامريکـا وسـله جـوړونکي شرکتونه ددې لپاره ډېرې زياتې هڅې کوي چې سـعودي دايران سره په جنګ اخته کړي .

سره له دې چې امريکا له سعودي اوايران دواړونـه درواني سـتونزې دختمولوغوښـتنه کړيـده خودامريکـا

نفاق هرچاته معلوم دی اوپدې هرڅوک پوهېږي چې دامریکاقول اوفعل تل دیوبل سره په تضاد کې وي.

موږ دامنو چې دسعودي اوایران ترمنځ سیاسي کشمکش شتون لري اوداهم یوحقیقت دی چې ددواړوترمنځ دا کشمکش نوی ندی

په ۸۰یمې لسیزې کې چې دایران اوعراق ترمنځ جنګ رامنځته شوي ونوپه هغه جنګ کې سعودي دعراق ډېره مالي مرسته کړې وه اوخپل متحدین بحرین ، قطر،کویت اومتحده عرب امارات یې هم دعراق مرستې ته تشویق کړي وو؛ درياض شاهي دولت سره دا وېره وه چې د۱۹۷۹م دخميني په لاس دايران دانقلاب دبرياليتوب نه پس به دخميني دفکرخپرېدا منځني ختيځ بې ثباته کړي ځکه چې خميني په خپلو ويناوو کې ددې خبرې اظهارکړی وچې دسيمې نه دشاهي اوسيکولردواړه قسمه نظامونوختمول يې لويه هيله اوله مهمو مقاصدو څخه ده

په ۲۰۰۳م کې چې امريکا اوغربي متحدينويې پرعراق حمله وکړه اودصدام اداره ړنګه شوه نوپه نتيجه کې يې دشيعه ګانوحکومت رامنځته شو؛ دامريکايانوپه لاس رامنځته شوې دعراق دا نوی اداره مطلقه ايران پلوی اداره وه .

ايران چې په سيمې خپله باداري غواړي دعراق په څېرمنځني ختيځ دې دتېلوصادرونکي اوپه مختلفو لحاظونوخورامهم عربي هېواد کې ورته دداسې اداري راتلل خورا مهم ونوځکه يې ددې اداري نه خپل پوره ملاتړښکاره کړ.

په عراق کې دصدام داداري ړنګېدل اودمطلقې ايران پلوې اداري رامنځته کېدل پرسعودي پټ خوستر ګوزار ونوځکه يې دايران سره روابط مخ په خرابېدو شول .

بياچې کله د۲۰۰۷م کال په جنورۍ کې دايران داتومي پروګرام نه پرده پورته اونړۍ ترې خبره شوه نودادسعودي اوايران دروابطودخرابېدوبل سترسبب شو؛ ايران که څه هم تل دا ويل چې ديورانيمودغني کولو پروګرام يې دسوله يزومقاصدولپاره دی خودغربي نړۍ په څېرسعودي هم په ايران بې باوري ښکاره کوله اوويل يې چې ايران ځان اتومي ځواک جوړول اوپدې طريقې په سيمې کې خپله برلاسي غواړي .

دعربو دبهارپه نوم چې دعربي نړۍ په ډېروهېوادونوکې دخپلو دولتونوپرضد ولسونوپاڅونونه وکړل نودالړۍ تربحرينه هم راورسېدله اوپه دې هېواد کې هم دمظاهروسلسله پيل شوه ؛ په بحرين کې دامظاهرې دسعودي لپاره ځکه داندېښنې وړ وې چې اکثريت يې دايران پلووشيعه ګانوو؛ سعودي دبحرين دولت نه ددفاع په موخه بحرين ته خپل فوځ ولېږلو؛ دسعودي فوځ دلاريون کونکو په ناکامولواودبحرين ددولت نه په فاع کولوکامياب شو چې ورسره داخبره ثابته شوه چې په سيمې کې دايران اوسعودي ترمنځ اختلافات تردېره حده جوردي اوهريودبل دلاندې کولو لپاره په لوړه سطحه ګامونوپورته کولوته هم تيارېږي همدارازدتېر۲۰۱۵م کال دمارچ په اواخروکې سعودي اواتحاديانويې يوعسکري اتحادجوړکړاوپه يمن کې يې په ايران پلوو اودايران دحمايت نه پربرخمنوهغوحوثيانو هوايي بريدونه پيل کړل کومو چې ددولت پرضد دپاڅون په پايله کې ديمن دولت رانسکور کړ اودپلازمېنې په شمول دهېوادپه ډېروسيموقابض شول ؛ پرحوثيانو دسعودي بمبار ورو ،ورودايران اوسعودي ترمنځ په پراکسي وار((خفيه جنګ)) بدل شواو داسې پېښې هم ثبت شوې چې يکې نېغ په نېغه دسعودي اوايران فوځيان ديوبل سره مخامخ جنګېدلي دي .

نو ددواړوهېوادونوترمنځ دسياسي كشمكش لـه شتون نه انكارنشته خو مـوږدا وايـوچې ورتـه بايـد د سياسي كشمكش په نظروكتـل شي ؛ مـذهبي جنـګ دې ورته نه ويل كېږي .

خوداچې لويديځه نړۍ اواسرائيل د نړيوالو رسـنيو له لارې دېته دمذهبي كشمكش رنګ وركوي نـوپكې يـې هغه مذموم اهداف نغښتي دي دكومونـه مـوږ دمخـه يادونه وكړه.

دلويديځ دخپلو موخوسره كاروي اوچې لـه هـرې لارې بې حاصلولای شي مخ ترې نـه اړوي خوخطرناكـه خبره داده چې داسلامي نړۍ زيـاتره رسنۍ اودرسـنيو سره تړاولرونكي خلک دشخصي ګټوپه هدف اوپه مسلک كـې دروند كـوڼ تعصـب لـه املـه دېـرې نامسـئولانه څرګندونې كـوي اودې سـتونزې تـه دمـذهب اومسـلک دجنګ په نظرګوري .

يوه مهمه پوښتنه داده چې پدې حساس وخت كـې سعودي دا اقدام ولې وكړ؟ دداسې شيعه مـلا دوژلوځـه ارتيا وه چې دومره ستونزې يې رامنځته كړې ؟

دېرخلک دافكر كوي چې داكوم تصادف نه و او نـه دسعودي مشران دومره ناپوهان دي چـې ددې دپايلوپـه اړه به يې ګيني فكرنه كاوه اوپدې بـه نـه پوهېـدل چـې دداسې اقدام پايلې به څه وي ؟ سعودي پدې هرڅه ښه

پوهېدلو؛دهمـدې پـايلو تمـه يـې لرلـه اودهمـدې غوښتونكي و.

اصـل خـبره داده چـې سـعودي پـه سـيمې كـې دامريكامهم اتحادي ګڼل كېږي سعودي غوښتل چـې پـه شام كې دبشارالاسداوپه يمن كې دحوثيانونه په حمايت كولودې لويديځ اوپه سركې يـې امريكـا ايـران تـه سـزا وركړي يادې لږترلږه دومـره فشـارورباندې راولـې چـې دبشارالاسد اوحوثيانودحمايت نه لاس په سرشي خوچې دسعودي دې يوې غوښتنې ته هم امريكا اونـور لويـديځ نـه يـواځې داچـې التفـات ونكړبلكـې بـرعكس دايـران اولويديځ روابط ديوې نه بلې ورځې ته په ښه كېدوشول نوسعودي دامريكا اونورلويديځ نه سـخت نـاهيلی شـو اوخپله ټوله توجويې اوس عربي نړۍ ته راواړولـه ؛ اوس ددې لپاره دېرې زياتې هڅې كوي چې دټولې عربي نـړۍ حمايت ځان ته راجلب اوپرځان يې راټوله كړي ؛ النمرتـه دمرګ سزا وركولولـه لارې دايـران سره دروابطوخرابـول همداسې يوه سياسي هڅه ښـكاري اوسـعودي غـواړي چـې لـه دې لارې دخپلوسـني عـربي اتحاديانولازيـات حمايت راجلب اوپه كـوركې دننـه اختلافـات لـه منځـه يـوسي چـې دلنـدې مـودې لپـاره يـې داهڅـې ګټـورې اواداكړنلاره بريالۍ ښكاري خو داوږدې مودې لپاره څكه له تاوانونو ډكه ښكاري چې پدې سره به دلويـديځ هغـه شوم پلان قوت وموميږي دكوم له مخې چې غـرب دشـيعه اوسني په نوم دعربي نـړۍ ويشـل ؛ بيـا ددواړوتـرمنځ دخونړوجنګونو رامنځته كول اوپه نتيجـه كـې دمنځنـي ختيځ هرهېواد تجزيه كول اوداسرائيلو دشـومو اهـدافو پوره كول غواړي.

څـه وايـم چـې كـه دسـعودي اوسـنوحالاتوته وګورونوددې پوښتنې اصل جواب به داوي چې سـعودي به دېرمجبوريت په عالم كـې دا قـدم پورتـه كـړی وي ؛ شيخ نمردا۲۰۰۲م نه راپدېخوا دسعودي دولت په اجازه په قطيف كـې دحضرت حسـين پـه نـوم دشـيعه ګانوپـه جومات كې دخطابت دنـده تـرسره كولـه خوهغـه چـې دايران په مدرسوكې ۱۰كلونه تېركړی وونوپه فكركې يې تشددزيات واو د ايراني رژيم دسخت موقف اودسيمې په اړه دايراني سياست سخت حامي و نوځكه يې لږه مـوده پس په خطابت كې دفرقـه يزواومسـلكي تعصـباتورنګ

رانبکاره شو چې له امله يې دسعودي اودسیمې نوروهېوادونوپه شیعه ګانوکې مشهوراوترډېره حده په شیعه ځوانانوکې مقبول شوچې همدې مقبولیت اوشهرت ده ته حوصله ورکړه اوپکې تشدد لاپسې زيات شو .

دولت هڅې وکړې چې هغه ددې کارنه منع کړي خونه یواځې داچې ددولت دې هڅونتیجه ورنکړه بلکې په ۲۰۰۹م کې هغه په سعودي کې دحقوقودترلاسه کولوپه موخه دشیعه ګانولپاره دمستقل دولت اودسعودي دتجزيې مطالبه پیل کړه او یوشمېرځوانوپیروانویې پر دولتي امنیتي ځواکونو بریدونه پیل کړل تردې چې پرامنیتي ځواکونو دیوبریدپرمهال پخپله النمرهم په سخت زخمي حالت کې ونیول شو.

دالنمردې کړنو چې دسعودي په ګومان هېواددتجزيې دجدي ګواښ سره مخامخ کړنودسعودي دولت دهغه دنیولواوبیاورته دمرګ دسزا ورکولو پرېکړه وکړه .

شیخ نمرهیڅکله هم پرده لګول شوي سیاسي تورونه ، نه ردول خوویل به یې چې ددولت پرضد د وسلې راپورته کولوپه نسبت د ولس حمایت زیات ګټوربولي ځکه چې دالفاظووسله دمرمیوورولونه زیات زور لري.

که غور وشي نوداخبره ببڅې واضحه کېږي چې یواځې داخلي سیاسي عوامل ووچې له امله يې النمر په مرګ محکوم شو ځکه چې په نړۍ کې یودولت هم چاته دا اجازه نه ورکوي چې دهېواد دتجزيې هڅې دې وکړي اوڅوک چې داسې اعمال ترسره کړي نودهرهېوادقانون يې ملي غدار اوخائن ګڼي .

نودا اوس ډېره عجيبه خبره ده چې دسعودي دولت دې خپل تبعه دهېوادسره دخیانت په ځېر دیوستر جرم له امله قانوني مجرم ګڼي اوایران دې داعمل غندي اودسعودي سره دې خپل روابط خرابوي ؟!

په ایران کې چې ددولت له لورې په ډول ډول پلموبې شمېره سترسترسني علماء قتل شول آیا ایران به دسنیانوکوم هېواد ته دایران ددې عمل دغندلواجازه ورکړي ؟

که چاته دا اجازه نه ورکوي اودا دخپل هېوادپه کورنیوچاروکې مداخله ګڼي نوبايد دنوروډخپلواکۍ اواستقلال احترام هم وکړي اودچاپه کورنیو چاروکې مداخله ونکړي.

نودډېروپه ګومان ددواړوهېوادونوترمنځ دجنګ رامنځته کېدوخطرمخ پرزياتېدودی.

خو زما په اند خبره داسې نده ؛ نه دا دواړه پېښې دومره ستري دي چې دواړه هېوادونه دې دجنګ ترسرحده ورسوي اونه دا دواړه هېوادونه داسې دي چې جنګ کې دې دځان لپاره خیر ووینې اوپرې خوشاله دې شي ؛ دا دواړه هېوادونه ډېر مشکلات لري چې دوئ پرې بنه پوهېږي .

داسـمه ده چـې دسـعودي اقتصـاد ډېـر ښـه دی اوجنګي بودیجه یې هم ښه ستره ده خویواځې په ښـه اقتصاد جګونـه نـه ګټـل کېږي اونـه ښـه اقتصـادونه جنګونوته ټینګېږي چې امریکا ،یې ژوندی بېلګه ده ؛ بـل داچې دسعودي فوځ دعملي جنګ هیڅ تجربـه نـه لـري اونه دځمکني جنګ سختۍ زغملای شي بیاخصوصـاً پـه داسې حال کې چې دیمن حوثي باغیانوپرضـد دسـعودي بمبـار اودحوثیانولـه لـورې دسـعودي پـه سرحـدي سیموحملې روانې دي

بل داچې دسعودي یو مهم اتحـادي پاکسـتان هـم پدې مسئله کـې دایـران پـه مقابـل کـې نېـغ پـه نېغـه دسعودي سره نشي ودرېدای ؛ایران د پاکسـتان ګاونـدي دی او دادواړه هېوادونه په خپلوکې سره اوږده ګډه پولـه لري نوځکـه یـې دمنځګړیتـوب لاره خپلـه کریـده چـې داپخپل ذات کې ښه خبره ده خودسعودي لپـاره نـاهیلي کونکی ده .

داهم یوحقیقت دی چې دایـران پـه موضـوع کـې سعودي دامریکا ددریځ نـه ناراضـه دی چـې دسـعودي ددولت یوعالي رتبه غړي خپل دانارضایت ښه په روښانه تکوښکاره کریدی اوویلي یې دي چې ایران هرڅـه کـوي امریکا یې په مقابل کې هیڅ نه وایـي اوپـه پټـه خولـه وروسته کېږي ؛موږ ددې هیڅ پروانه لرو چې امریکا پـه ځـه غصـه کېـږي یـا خفـه کېـږي ؛ داسـمه ده چـې موږدسپیني ماڼۍ موقف ته دقدرپـه نظرګوروخودخپلـو ګټودتحفظ لپاره موږ دتهران پرضدهر ډول اقدام کولوتـه تیار یو.

نوپه داسـې حالـت کـې بـه ډېـره ګرانـه وي چـې سعودي دایران سره جنګ کولوته زړه ښه کړي.

دایران لپاره هم داجنګ له ځانه سره ډېـر تاوانونـه اومشکلات لري نوښکاري داسې چې په هیڅ صورت بـه ورته زړه ښـه نکـړي ؛ دښـمېر پـه لحـاظ دایـران فـوځ دسعودي دفوځ نه زیات دی اودعملي جنګ تجربـه هـم لري خودسعودي فوځي بودیجه دایران دفوځي بـودیجې په نسبت ۸ چنده زیاته ده ؛ سعودي دامریکـا اویوشـمېر نوروغربي هېوادونونه په لوړه پیمانه پرمختللـې وسـلې اوجنګي طیارې پېري .

ایـران پـوهېږي چـې جنـګ بـه یـې اقتصـاد تـه ډېرسترتاوانونه ورواړي اودځاني ډېروتلفاتوسره به هـم مخامخ شي ؛ ایران په مذهبي تعصب اودمذهبي تعصـب پربنسټ دسـیمې دهېوادونوپـه داخـلي چـاروکې لا لـه ورانـدې پـه لاس وهلوتـورن دی ، کـه دیـوملا پـه سردسعودي په ځېردهغه هېواد سره جنګ ته چمتوکېږي چې پکې دمسلمانانو ترټولومقدس مقامـات دي نوپـدې بدنامۍ کـې بـه یـې نورزیـاتوالی هـم راشي اودنـورې اسلامي نړۍ سره به یې فاصلې زیـاتې شي ؛ طبعـي ده چې دایران به دې حقیقت ته پام وي .

په ۸۰ یمې لسیزې کـې دعـراق سره دجنـګ ترخـه تجربه هم دایران مخې ته ده ؛ هغـه جنـګ دایـران لپـاره خورابې ګټی خودتلفاتو نه ډک جنـګ و چـې پکـې دوژل شویوایراني فوځیانو او ولسي وګروشمېرد یوملیون نـه اوښتی و خوایران دعـراق نـه پـه یـوه لوېشـت ځمکـې نیولوهم نه وتوانېدلی .

نوداسې جنګ اوشـخړې چـې دځـان سره ددواړو هېوادونو لپاره سترتاوانونه لري ؛په ټولې اسـلامي نـړۍ کـې دجنګونواوګډوډیودخپرېـدالامل ګرځـي اولـه بـدو اغېزویې یواسلامي هېواد هم خوندي نه پاتې کېږي امېـد دی دداسې جنګ نه به دا دواړه هېوادونه ځانونه وسـاتي اوددښمن شوم پلانونه به عملي کېدوته پرېنږدي.

مولانا رفیع الدین قاسمي (هند) ژباړه: سجاد

دڅارویو!

په اړه درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دعاطفې او مهربانۍ دکېږ لارښوونې...!

درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له مهرابانۍ او عاطفې ډک شان نه یواځې په انسانانو خاص دی، بلکې درحمت شان یې دومره پراخ دی چې آن د څارویو حقوقو ته یې هم د خپل لارښوونو په سیوري کې ځای اوپناه ورکړېده، او ر سره یې د ښه سلوک او د حقوقو رعایتولو په اړه کلک تاکید کړی دی ، چې ورته په کتو سره کله مونږ خپلو ځانو او د ټولنې حالت ته ځیر شو نو بې له شکه د څارویو سره دخلکو روانه رویه او دهغو په حقوقو اداء کولو کې کوتاهې دالله جَلَّ جَلَالُهُ دعذاب او وعیدونو مستحق ده

د الله تعالی دا ستر فضل او لورینه ده چې لـه واړه حیوان نیولي تر لوی پورې ټول یې زمونږ لپاره تابع ګرځولي، یوه کوچني ماشوم داوښ پشان حیوان واګې نیولې وي اوبوخې یې، دا د الله جَلَّ جَلَالُهُ مهرابانې او دبشریت سره یې ښېګنه ده،چې یولوی نه لوی څاروی یو ماشوم هم دځان لپاره تابع کوي، کنه کمزوری او بې وسه انسانه دجسامت او خواک له پلوه هیڅکله دومره حیثیت نلري چې هغه د سترو، قوي او درنو حیواناتو څښتن شي یا یې دځان لپاره تابع وګرځوي.

څارویو کې خیر:

دڅارویو اهمیت او دخصوصیاتوپیژندلو لپاره دا بس ده چې په قرآن کریم کې دګنو څارویواوحیواناتو ذکر شوی او نه یواځې ذکر یې شوی دی، بلکې څو سورتونه هم دڅارویو په نومو مولې لکه: البقره [غویه] الانعام[څاروي] النحل [شاتو مچې] النمل[میږي] العنکبوت[غڼه] الفیل[هاتي].

یوځای الله جَلَّ جَلَالُهُ دڅارویو فواید او خصوصیات داسې بیانوي :

اوهغه څاروي یې پیدا کړیدي، چې په کې د ستاسو لپاره ګرم کالي اونور ګڼ منافع هم شته اوځینې ستاسو دخوړو لپاره په کار راځي اوپه دې کې ستاسې رونق هم شته چې کله یې له څرولو راولئ،اوهم چې کله یې څرولو ته بوځئ او ستاسې بارون ترهغو ښارو پورتهرسوي چې تاسې هغه هلته په نیم ځان هم نشئ رسولی، یقیناً ستاسې رب ژیات شفیق اومهربان دی.(النحل: ۵-۸)

رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دځینو څارویو ښو صفاتو او دهغوی معنوي او اخلاقي ځانګړتیاوو ته په پام دهغوی سره داحسان او ښه سلوک حکم کړی دی،داس باره کې یې فرمایلي؛ترقیامت ورځې په اس پورې خیر تړلی دی(مسلم، باب الخیل فی نواصیها:حدیث:۴۹۵۵)

اوپه یوبل روایت کې دي:اوښ دخپل څښتن لپاره دعزت اوشرف لامل دی اوپه اوزو کې خیر اوبرکت دی (ابن ماجه، باب اتخاذ الماشیه حدیث:۲۳۰۵)او په بل حدیث

دی رسول الله ﷺ فرمایلي:چرگ ته کنځلې مه کوئ ځکه هغه مو لمانځه ته ویښوي (ابوداود باب ماجاء فی الدیک حدیث:۵۱۹۱)

خارویو سره داحسان سلوک اجروثواب لري:

رسول الله ﷺ خارویو سره داحسان اوښه سلوک حکم کړی او داجروثواب لامل یې یاد کړی دی:

له حضرت ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایل: یوې بدکارې میرمنې یواځې په دې ښښنه وشوه چې هغه په یوه داسې کوهي تیریده چې نیږدې هغه ته یو تږی سپی ولاړو، چې له زیاتې تندې لړزیده اونژدې وه چې دتندې شدت په وجه هغه هلاک شي ، کوهي نه دابو راویستلو لپاره څه نه و ،هغې میرمنې خپله چرمي موزه وایسته او پخپل پوړني پسې یې وتړله پکې اوبه یې را ویستې اوپه سپي یې وڅکښلې، ددغې میرمنې داکار دالله تعالی په نزد دومره مقبول شو چې له امله یې هغه وبښله(مسلم، باب فضل ساقی البهایم حدیث:۵۹۹۷)

یوتن رسول الله ﷺ ته عرض وکړ: داالله رسوله!زه دخپلو اوښانو داوبوڅکښلو لپاره خپل حوض له اوبو ډک کړم بیا دنورو خلکو اوښان هم ورته راشي اوبه و څښکي ایا ماته پکې اجرشته ؟رسول الله ﷺ وفرمایل: هر څاڅکی یې اجرو ثواب لري.(مسند احمدو مسند عبدالله بن عمرورض،حدیث:۲۰۷۵)

خارویو سره د ناوړه سلوک په اړه وعیدونه:

رسول الله(ﷺدخارویو سره دښه سلوک په اړه تاکید کړی دی، او ناوړه سلوک کول یې لویه گناه گرځولي اوپه په دې اړه یې د انسان د ضمیرښوورونکی الفاظ کارولي:څنگه چې امام بخاري رحمه الله روایت راوړی دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: یوې میرمنې ته په دې وجه عذاب ورکول شوچې هغې پیشو تړلې وه، نه یې ورته څه خواړه ورکول او نه یې دڅښکلو اوبه ورکولې اونه یط پرېښوده چې هغه خپله څه ولټوي.(مسلم، باب تحریم قتل الهرة، حدیث: ۵۹۸۹)

له حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چې یوداسې خر تیریده چې دهغه خوله داغلې وه، رسول الله ﷺ هغه ولیده وي فرمایل: په هغه شخص دي لعنت وي چا چې دا دغلی وي (مسلم،باب النهی عن ضرب الحیوان فی وجهه، حدیث:۵۶۷۴)اوپه یو روایت کې دي:چې رسول الله ﷺ په مخ دوهلو او داغولو څخه منع کړیده(مسلم، باب النهی عن ضرب الحیوان فی وجهه:۵۶۷۴)

په یو بل روایت کې دي غیلان بن جناده وایي: چې زه د داسې اوښ سره رسول الله ﷺ ته راغلم چې دهغه پوزه ما داغلې وه، رسول الله ﷺ وفرمایل:جناده! ایا تاته دداغ لپاره یواځې دمخ اندام رسیدلی و، له تابه ددې قصاص اخستل کېږي.

دخارویو جنگولو او زورولو ممانعت:

رسول الله ﷺ نه یواځې دکورنیوخارویو سره له ناوړه سلوک څخه منع کړیده بلکې دنورو پالتو خارویو دبې ځایه ځورولو اوجنگولو څخه یې هم منع راوړیده:

له حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ پخپل منځ کې دخارویو د جنگولو نه منع کړیده(ترمذی، باب کراهیة التحریش بین البهائم: حدیث:۱۷۰۹)

حضرت عبد ارحمن بن عبد الله رضي الله عنه له خپل پلاره نقل کوي چې هغه ویلي:یووار مونږ درسول الله ﷺ سره په سفر کې وو، رسول الله ﷺ دقضاء حاجت

لپاره لاړ، مونږ یوه مرغی ولیده چې دوه بچې هم ورسره وو ،مونږ هغه دواړه بچیان ونیول، مرغۍ راغله دخپلو بچیانو د نیولو فریاد کاوه، چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راغی، رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: چا ددې بچیان نیولي چې دایې خفه کړې ده؟ ورته بچیان بیرته ورکړئ(ابوداود، باب کراهیة قتل الذر،حدیث:۵۲٦۸۹)

دحضرت ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې دقریشو په څو ځوانانو تیریدم هغوی یوه مرغۍ په نښنه کړې وه، کله چې حضرت ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ هغوی ولیدل، له هغه ځایه لاړل، او وي فرمایل: چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په هغه شخص لعنت ویلی چې هغه ساکښ حیوان وتړي اوبیا پرې نښنه ولي.(مسلم، باب النهی عن صبر البهائم، حدیث: ۱۹۵۷)

دحضرت مقداد بن معدیکرب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی: رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مخ باندې دخارویو له وهلو منع کړیده(مجمع الزوائدباب النهی عن الضرب علی الوجه والنهی عن سبه)

دمذبوح خاروي سره د ښه سلوک کولو تاکید:

رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دذبح کیدونکي خاروي سره هم دښه سلوک کولو تاکید کړی دی، هرکله چې تاسې ذبح کوئ نوپه ښه توګه یې ذبحه کوئ، خپله چاړه ښه تیره کړئ او خاروي ته ارام ورکړئ(ترمذی،باب النهی عن المثلة، حدیث: ۱۴۰۹)

امیر المؤمنین حضرت عمر صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي: دخاروي سره احسان او ښه سلوک دادی چې ترمذبحه په راښکلو ونه بونه تلل شي(مجلة الجامعة الاسلامیة، حقوق الحیوان، ۱۱ټوک ۴٦۱)

فقهاوو دذبیحې په مخکې دچړې تېره کولو څخه منع کړیده او هم په ناسمه توګه دځملولو څخه منع راوړیده

حضرت ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ څخه روایت دی چې یوتن خپله اوزه ځملوله بیا یې دچړې تیره کول پیل کړل نو رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: ایا ته دا په دوه مرګونو وژل غواړې؟ولي تا خپله چاړه له ځملولو څخه وړاندې تیره نکړه(مستدرک حاکم،کتاب الذبائح، حدیث:۷۵۷۰)

په یو حدیث کې دي: چې یوصحابي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وویل: دالله رسوله! کله چې زه اوزه ذبحه کوم نو وربانديې مې رحم راځي رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: که ته په اوزه رحم کوي نو خدای جَلَّ جَلَالُهُ په تا رحم کوي (مجمع الزوائد،باب النهی عن صبر الدواب والتمثیل بها، حدیث: ٦٠٢٩)

د حضرت حین بن عطاء رَحِمَهُ اللّٰهُ څخه روایت دی : چې یو قصاب داوزې ذبحه کولو لپاره پورته شو کلهچې هغه دشپول دروازه خلاصه کړه هغو منډې کړې،قصاب هم ترشا پسې په منډه شوه هغه یې له پښې را ونیوه او راښکله یې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمایل:قصابه! دا په نرمۍ سره بوزه.(مصنف عبد الرزاق باب سنة الذبح، حدیث ۸٦۰۹)

دموذي خارويو په ويشتلو کې درسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ داحسان حکم:

رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دهغو خارويو اوځنارو چې زيان رسونکي دي دويشتلو حکم کړی دی مثلاً: مار، لړم اونور...خو دهغو په ويشتلو کې يې هم داحسان او ښېګڼې حکم کړی : الله جَلَّ جَلَالُهُ په هرڅېز کې احسان فرض ګرځولی، په دې وجه هرکله چې تاسې کوم ځناور ولئ نو په ښه توګه يې ولئ !اوهرکله چې کوم خاروی ذبحه کوئ نوپه ښه طريقه يې ذبحه کوئ.(مسلم، باب الامر باحسان الذبحو حديثک ۱۹۵۵)

رسو ل الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وپوښتل دا دچا سيزلی؟ مونږ وويل:سوی دی، رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل:دهيچا لپاره دا مناسب نده چې يو چاته په تکليف ورکولو کې لـه اور څخه کار واخلي سيوا داور پيدا کونکي نه(ابوداود باب فـی کراهية حرق العدو بالنار)

رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دکربوړي وژلو حکم کړی دی، خو دهغه په وژلو کې يې هم دنرمۍ حکم کړی دی، چې هغـه دې په يو وار سره ووژل شي،او پـه ګڼـو بريـدو نـو سره پـه وژلو کې دلږ اجر خبره کړېده حضرت ابوهريرة رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ څخـه روايـت دی چـې رسـول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايـل: چـاچې منګری په لومړي ګذار سره وواژه دهغـه لپـاره دومـره دومـره نيکی دي..(مسلم: باب قتل الوزغ،حديث ٢٢٣٩٠)

او چا چېپـه دويـم ګـذار سره وواژه دهغـه لپـاره دومـره نيکی دي خو په لومړي ګذار وژونکي څخه کم اجر لـري، اوکه چا په دريم ګذار وواژه دهغه لپاره دومره اجر به وي خو په دويم ګذار وژونکي څخه کم .

دمسـلم بـه روايـت کـې دي چـې حضرـت ابـوهريرة رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ فرمـايلي : چـې رسـول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايـل: کوم تـن کربـوړی پـه يـو وار سره ووژني دهغـه لپـاره سـل نيکياني ليکل کېږي اوپـه دويـم ګـذار سره وژونکـی لبـاره ددينه کمې او په دريم ګذاره سره وژونکي لپـاره ددېنـه هـم کمې نيکی ليکل کېږي (مسلم، باب استحباب قتـل الـوزغ حديث: ٢٢٤٠)

په څارويو دسوريدو په مهال دښه سلوک کولـو حکـم: دسورلی لپـاره څـارووی ضروري دی،څکـه دا دحمـل ونقـل زريعه دی داوږده سفرپه مهال دهغه ارامولو اوڅړبولـو حکـم شوی دی دحضرت ابوهريرة رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ روايت دی چـې رسـول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل:کله چې تاسي دزمکې په ښنه برخه سفر کوئ اوښانوته دهغوی برخه ورکړئ (مسلم، باب مراعـاة مصلحة الدروس ،حديث:١٩٢٦) يعنې دسفرپه مهال کـه ښـنه ځايونه په نظردرشي نوهلته اوښانو ته دڅروتلو اودمې موقع ورکوئ مسلسل وږي تږي بوتلو سره يې مه ستړی کوئ!

په يو څاروي باندې د دريې تنودسـوريدو نـه رسـول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منع کړيـده(مسـلم، بـاب فضـائل عبـد الله بـن جعفررض حديث:٢٤٢٨)

دابن ابي شيبه په روايت کې دي چې ده دريې تنه په يـو قچر سواره وليدل نووي فرمايل: په تاسـو کـې يـوتن ښـکته شئ خکه رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دريم تـن بانـدې لعنت ويلی دی(مصنفه ابن ابي شيبه ، من کـره رکـوب ثلثـة علـی الدابة،حديث:٢٦٣٨٠)

دا صورت هغه وخت دی چـې کلـه څـاروی ددرې تنـو دوړلو وړتيا نلري اوکه درلوده يې بيـا روادی.(فـتح البـاري ١٢توک ٥٢٠مخ)

رسـول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پـه څـارويو بانـدې دداسـې ودريدونه منع کړيده چې له امله يې هغوته تکليـف رسي پـه سنن ابي داود کې دي: حضرت ابـوهريرة رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ درسـول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې فرمايې: دڅارويودشاه نه منـبر مـه جوړوئ(ابـوداود بـاب فـی الوقـوف علـی الدابةحديث: ٢٥٦٧) ولي چې الله تعالی څاروي يواځي ددې لپاره ستاسي تابع ګرځولي دي چـې څـو تاسـو هغـو ښـارونو او سـيموته ورسوي چيرته چې (په پلي تګ نشئ کـولی)تاسـو د ځـاني مشقت او زحمت په زغملـو رسـئ،يعنې دڅـارويو غـرض پـه هغو باندې سـوريدل دي او دهغـو پـه زريعـه دځپـل مقصـود ترلاسه کول دي له دې وجې ورتـه تکليـف رسـول روانـدی کوم څاروي چې دسورلی لپاره ندي پيدا لکه غويه او نورپـه هغو سورلي نا روا ده.

په څارويو دهغو دوس نه دروند بار نه وړل:

په څاروي باندې دهغه دوس او قوت نه دورند بار، وړل روا ندي، ددینه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سخته منع کړیده صحابه وو ته په دې خبره باندې علم و چې کوم سړی په څاروي باندې دهغه دوس او قوت نه زيات بار، وړي نو دقیامت په ورځ به ددې حساب ورکوي حضرت ابو درداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دی: چې هغه خپل اوښ ته اوويل: اې اوښه!ته دخپل رب سره زما په باره کې مخاصمه مه کوه ما به تاباندې ستا دوس نه دروند بار ندی وړی (احیاء العلوم الدين الباب الثالث فى الاداب۱تهوک ۲٦۴مخ)

يوه ورځ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دیوانصاري باغ ته ننوت ناڅاپه يو اوښ راغی، او درسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په قدمونو کې پريوت دغه وخت دهغه په سترگو کې اوښکې وې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دهغه په ملا او دسر په وروستی برخه لاس تیر کړ چې په وجه یې هغه ارام شو، بیا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: ددې اوښ څښتن څوک دی؟ نو هغه په منډه راغی، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه ته وفرمایل:دا الله تعالی ستا ملکیت کې کړی ، دالله نه، نه داريږې؟دا ماته شکایت کوي چې ته یې وږی ساتې او ورنه په کار اخستلو کې ورسره ظلم کوې(ابوداود، باب مایؤمرڈه من القيام ، حديث۲۵۴۹)

حضرت سهل بن حنظله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي:چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ديو اوښ په خو اکې تیر شو وي ليدل چې هغه دزياتې لوږې تندې ، سورليو او درنو بارونو وړلو په وجه خيټه يې دخيټې سره لگيدلې وه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: ددې بې ژبې څارويو په باره کې دالله تعالی نه وډارشئ !په دوی باندې هغه مهال سورلي کوئ چې کله قوي او دسورلۍ قابل وي او هغوی په داسې وخت کې پريږدئ چې ستړي شوي نه وي(ابوداودوباب مایؤمرمن القيام حديث:۲۵۴۸)

حضرت ابوهريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي:چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي:يوسړي غويه دو مره دروند بار کړی و، چې هغه لړزيده هغه غوي دسړي په طرف وکتل او وي ويل: زه ددې کار لپاره نه يم پيدا زه خو ديوې کولو لپاره پيدا يم خلکو په حيرانتيا او ورخطايي سره[سبحان الله] وويل، غويه هم خبرې کوي؟نورسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: زه په دې خبره باور کوم اوحضرت ابوبکر صديق او حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باور کوي (مسلم، باب فضایل ابی بکر ،حدیث:۲۳۸۸)

ددې حديث نه معلومه شوه چې څاروي دکوم مقصد لپاره پيدا کړای شوي دهغو پرته يې په نورو کارونو کې استعمالول ندي پکار.

لنډيز: لنده داچې ددې ايتونو او احاديثو په رڼا کې دڅارويو اهميت او خصوصيات معلوميږي او دڅارويو په اړه درسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسوه حسنه هم جوتيږي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قدم په قدم دڅارويو سره دمهرباني او ښه سلوک حکم کړی دی نه يواځې دکورنيو څارويو سره بلکې دپالتو څارويو سره يې هم دښه سلوک کولو تاکيد کړی دی نقصان رسوونکو اوموذي ځناور په کمو وارونو دوېشتو حکم کړی دی اوهم ذمذبوحه څارويوسره هم دبې رحمانه سلوک له کولونه منع کړيده او څارويو باندې دبارونو په وړو اوسورلۍ کولو اوورته داوبو اوخوړو ورکولو په اړه يې تاکيد کړی دی اودزيات بار وړلو او دګنوکسانو دسوريدو څخه يې منع کړيده (ددارلعلوم ديوبند دمياشتنی مجلې په مننه).

د امریکا جنایتونه او د روان جهاد په اړوند یو څو کرښې

م محمد گل سعید

د۱۳۸۰ ش کال دمیزان په ۱۵مه دشپې په نهه نیمویجوامریکایی استعمارپه افغانستان صلیبي نظامي یرغل وکړاوزمونږدمسلمان اومجاهدولس په زرګونووګړي یې شهیدان کړل ،په زرګونویې ټپیان اومعیوب کړل اوپه لکونویې هجرت کولوته اړایستل ،په زرګونوکورونه ،کلي ،دیني مدرسې ،لیسې اوجوماتونه یې په بمونوویجارکړل اوله شمیره وتلي جنایتونه یې وکړل -زمونږپرازادی مین هیوادوال یې په هیوادکې دننه اوله هیوادڅخه بهرپه خپلوامپریالیسي تورومحبسونوکې بندیان کړي دي اوبندیانوي یې،ددې جنایتونویواځنی سبب دادی چې مونږپردین اوازادی مین مسلمانان یواوافغانانودتاریخ په اوږدوکې لکه چې نوروکفري یرغلګرواستعمارګرانوته سرونه تیټ کړي نه دي،دغه راز دامریکایرغلګرتورصلیبي استعمارته هم خپل ازادسرونه هیڅکله هم نه ښکته کوي اونه به یې ښکته کړي ،په افغانستان کې دامریکایی ایتلاف ظلمونه اوجنایتونه دهیرولونه دي ،ددوی جنایتونودمقدوني سکندر، هندي یفتلیانو، چنګیز،هلاکو، اونادر افشار تاریخ اودلویدیځ صلیبي جنګونوتاریخ یې نړیوالوته تازه اوورپه یادکړ،یواځې افغانستان نه بلکې په ګرده نړۍ ددې تورصلیبي یرغلګر دجنایتونولړۍ جاري ده ،په ۱۸۹۸م کال کې یې په کیوبااوپلپاین یرغل وکړپه دې وجه چې داسیمه بایدامریکې یوه برخه وي،په ۱۹۰۰م کال کې یې دچین په خلاف جنګ پیل کړ،په ۱۹۰۳م کال کې یې دجنوبي امریکاپه پانامایرغل وکړدې لپاره چې دغه سیمه له خپل کنټرول لاندې راولي،په ۱۹۰۶م کال کې یې یوځل بیاپه کیوبایرغل وکړ،په ۱۹۰۹م کال کې یې په نیکاراګوابانډې حمله وکړه،په ۱۸۱۷م کال کې یې داروپاپه جنګ کې برخه واخیسته،په ۱۹۴۵م کال کې یې دجاپان په دوه ښارونو(هیروشیمااوناګاساکی) بانډې حمله وکړه او هلته یې دوه اتومي بمونه استعمال کړل چې له دریولکوڅخه زیات انسانان په کې ووژل شول اوتراوسه هم هلته ماشومان معیوب تولدکیږي،په ۱۹۵۸ م کال امریکایی فوځونه په اندونیشیابانډې ورننوتل،په ۱۹۶۱م کال کې یې په ویتنام حمله وکړه ،چې هلته دویتنامیانوله سخت مقاومت سره مخ شول اوتر۱۹۷۳م کال پورې هلته په جګړه کې راګیرشول،چې په نتیجه کې درې ملیونه ویتنامیان مړه اوپنځه پنځوس زره امریکایی فوځیان په کې تلف شول اومجبوراامریکایی فوځیان په شا شول،په ۱۹۸۳م کال کې یې دګرنادا په جزیره بانډې قبضه وکړه،په ۱۹۸۶م کال کې یې په لیبیابانډې حمله وکړه،په ۱۹۹۱م کال کې یې په عراق بانډې لومړی یرغل وکړ،په ۱۹۹۷م کال کې یې دافغانستان دخوست په سیمه اودسوډان په دواسازۍ فابریکه دتوغندیوګوزارونه وکړل، په ۲۰۰۳م کال کې یې یوځل بیاپه عراق بانډې یرغل وکړ،په داسې حال کې چې ټولې نړۍ اوملل متحدیی هم مخالفت وکړ،په عراق بانډې دادامریکې یوجارحانه اقدام وُچې هیڅ ډول کیمیاوي اسلحې یې په کې ونه سپمولې اوبې دریغه یې استعمال کړې ،په لکونوانسانان یې شهیدان کړل اوپه زرګونوکسان یې دلوږې له امله دمرګ په سزامحکوم کړل-امریکاپه ګرده نړۍ کې نظامي اډې جوړې کړې ،جراثیمي وسلې یې وکارولې ،په نوروهیوادونویې اتومي انرژۍ وپلورلې،دوولس ملیونونه انسانان یې قتل کړل،همدااوس په ګرده نړۍ کې په مجموعي توګه اته ویشت زره اتومي وسلې موجودې اوجوړې کړای شویدي،چې ددغواتومي وسلوله جملې څخه لس زره څلورسوه پنځه پنځوس له امریکاسره دي اوباقي پاتې اوولس زره پنځه سوه پنځه څلویښت دنړۍ له نوروښکیلاکي ځواکونو،روس،چین،فرانسې ، هندوستان اواسرائیلوسره دي-دامریکادلس زره څلورسوه پنځه څلویښت اتومي وسلوله جملې څخه اووه زره اتومي وسلې په وارهیندبانډې دي یعنې شارټ کولوته چمتواوعیارې دي- په نړۍ کې ترورېستي ګوندونه جوړول اوداجرتي قاتلانواستخدامول دامریکادجاسوسي سازمان (سي ،ائی،اې) منځته راوړي دي اوله ۱۹۶۵م کال نه راپه دیخواچې په نړۍ کې څومره ترورېستي ګوندونه اوډلې جوړې کړای شوي دي،هغه کردسي ،ائی،اې جوړکړي دي اوجوړوي یې،چې دهمدغوترورېستي ډلوپه ذریعه په نړۍ کې سیاسي قتلونه دسي ،ای ،ائی له پلوه کیږي اوهم دهغواجرتي قاتلانوپه مټ چې سي ائی اې یې په کرایه ورکولواستخداموي-ددغوګوندونو اوډلوشمېرلسګونوته رسیږي ،چې په مختلفونومونوسره یادیږي بین المللي تحقیقاتي اداروليکلي دي چې امریکا له ۱۹۴۷م کال نه تر۱۹۸۷م کال پورې په مجموعي توګه اتیالکه (اته ملیونه) انسانان قتل کړي دي اودغه بشردښمنه لړۍ اوس هم روانه ده اودترورېزم زیات عملیات ددریمې نړۍ په اسلامي هیوادونوکې ترسره کوي . امریکا یواځې دجنګ په ډګرکې بشري قتلونه نه کوي بلکې له دې سره سره په خپلوظالمانه زندانونوکې هم په رازرازتعزیبونوورکولوسره زندانیان وژني ،دوی په زندانونوکې پربندیانوداسې ظلمونه کوي اودهغوی داسې سپکاوی اوتذلیل کوي ،چې دبندیانووجدان یې نه قبلوي اوله همدې امله زیات بندیان دامریکایانوپه زندانونوکې له متداوم تذلیل نه مرګ ته ترجیح ورکوي اوځانونه په خپله وژني ،ترڅوله دغسې تذلیل کونکي مظالموڅخه نجات ومومي اوځینې ددوی دتعذیبونوپه وجه شهیدان کړای شوي دي ،چې بیلګه یې دباګرام دامریکایی نظامي اډې

په زنـــدان کـــې پنځـــه ویشـــت افغانـــان دي ،چـــې پـــه وهلـــو اونوروتعذیبونویې شهیدان کړل. په افغانستان یرغل اوپه کـې ددوی جنایتونـه ددې لـړی یـوه کـړی ده.پـه افغانسـتان کـې دامریکـایی الوتکوپـه بمبـاریوکې اتلـس زره بوډاګـان اوماشـومان اونـولس زره ښځې اوپیویشت زره ځوانان شهیدان کړی شـوي دي ،پـه افغانسـتان باندې ددوی دیرغل پـه لـومړی اونـی کـې امریکـایی الوتکونهـه سـوه ځلوېښـت واري بمونـه غورځـولې ووچـې پـه ګردوکـې سـتریم یـی داکتوبرپه نهمه دکندهاردمیوندپرولســوالی بانـدې غورځـولی ؤچـې پنځه زره پونډه (دوولس خـرواره) ؤاودالـړی اوس هـم دوام لري.دنـړی ګردومطبوعاتوپه ۲۰۰۵م کال کې څـوځلې داریـوټ خپـورکړی دی،چـې امریکاپه افغانسـتان کې دمجاهدینوپه ضدنایتروجن اونورې کیمیـاوي وسلې استعمالوي ،چې دهغوله امله نه یواځې داچې انسـانانوته زیان رسیږي ،بلکې کښتونه اونورژوي هم ورځخه زیانمن کیږي ،کـټ مـټ همدغه حالت په عراق کې هم دی.دنـړی ګردومسـلمانانوولیدل چـې دواقعیت پـه دګرکـې دامـن ،ازادی اوبشردوسـتی لاپـې وهـل یـواځې ددوی غولونکي شعارونه دي چـې مسـلمانان پـرې دوکـه کوياوزيـات شمیراسلامي هیوادونه یې هم په همدې دوکـه کـړي دي اولـه ځـان سـره یـې پـه ایـتلاف کـې ملګـري کـړي دي.دنـړی دبشـري حقوقونـامتواداري ایسوسـي ایشـن أف ریسپانسـیبل دیسـیندنتس د۲۰۰۵ م کـال پـه خپلـه سـروې کـې چـې دامریکادبشـري حقوقوپـه اروندسرغړونې په هکلـه یـې کـړې ده ویلـي دي:پـه ګـرده نـړۍ کـې دزمکې پرمخ په ګردوتیري کونکواویرغلګروفوځونوکې زیـات انسـان وژونکې امریکایی یرغلګرېې رحمه فوځونه دي،چـې پـه ګـرده بشـري نـړی کـې یـې امـن لـه ګـواښ سـره مخـامخ کـړی دی اودامریکـایی فوځونواوسـي،اش،اې دانسـان وژنـې لـړی اوس هـم پـه افغانسـتان اوعراق کې دوام لري.

خوافسـوس دادی چـې دوی زمونږمسـلمانان دوکـه کـړي دي اودوکه کوي یې، اوهغوی ددوی په کلکه دفاع کوي، نـوځینې خلک پـه دې غلط ګومان کې اخته دي چـې ددغومسلمانانوچې لـه دوی سره ولاړاوددوی دفـاع کـوي وژل نـاروا ګڼـري اونـه امریکاتـه دیـو متجـاوز یرغلګردښمن په سترګه ګوري ،بلکه دوی خپـل دوسـتان اوخواخـوږي ګڼـي (والـی الله المشـتکی مـن سـوء حـالهم) ،دنـړی مسـلمانان دې وګوري چې دغه کوم جنګ چې دنړی صلیبیانودامریکې په مشـری پـه اسلامي نړی کې شـروع کـړی اوادامـه لـري دادکـوم هـدف لپـاره دی اوتراوسه یې بشـریت تـه کومـه ګټـه اوخوشـحالي وربـه برخـه کـړې ده؟بالانصافه نړیوال ددې ګواه دي چې هغـوی دخپـل دغـه بـې رحمانـه تجاوزلپاره کومې وعدې کړي دي تولې درواغ دي بلکې ددوی دنړیـوال صـلیبي یرغـل موخـه اوهـدف داسـلامي ملکونوپـه معـدنیاتو او ذخیروبانـدې قبضـه کول،اودمسـلمانانودیووالي اواتحـاد مخنیـوی او بالاخره په ګرده نړی باندې خپل حاکمیت ثابت کول دي،خوحقیقت دادی چې دغه افغانان لـه حـق نـه سـترګې پټـوي اوباطـل ورتـه حـق ښکاري.زمونږپه ګـران هیوادافغانسـتان کـې امریکـایی صـلیبي ښکیلاکي فوځونه چې کوم جنایتونه کوي ،دومـره ډیـردي چـې دلتـه یې دګردوتفصیلي ذکرکول موضوع طولاني کوي ،اوځینې تش په نوم افغانان چې ددوی دفاع کوي یقیناچې هغوی په لویه غلطي کـې واقع دي دهغوی په هکله ددین متدینوعالمانوزیاتې لیکنې کړیدي چې لـه مخکینیوکتابونولکـه السیرالصـغیر،المختارللفتوی ،دررالاحکـام شـرح غررالاحکــام ،هدایــه ،بحرالرایق،الاشــباه والنظــایر او.......نــه یــی رااخیستي دي ،چې دهغوکتابونوعبارتونه په بشپړه توګه رانقـل کـول موضوع طولاني کوي.دلته یې یوڅوبیلګې دفقهې لـه یوڅوکتابونونـه رانقل کوم.په بـدائع الصـنائع کـې دي:کـه چیـرې کفاردمسـلمانانوله بچیانونــه ډال جـــوړکړي ددوی پـــه ویشـــتلوکې هـــیڅ ګنـــاه نشـــته دفرضودقایمولودضـرورت پـه وجـه (چـې هغـه جهاددی)مګرنیـت بـه دکافرکوي کوم مسلمان چې ولګیږي دهغه نه دیت شته اونه کفاره

امـــام سرخســـي پـــه مبســـوط کـــې لیکلـــي دي:کـــه چیـــرې کفاردمسلمانانوله ماشومانونه ډال جوړکړي اومجاهدینوته دامعلومه وي چـې ددوی پـه مرمیوبـه مسـلمانان لګیـږي پـه دوی څـه ګنـاه نشـته،ځکه چـې جهـادفرض عـین دی کـه پـه دې وجـه مونږجنـګ پرېږدو،نوجهادبـه بندشـي بلـه داچـې پـه دې سـره مسـلمانانوته ضرررسیږي ځکه چې ددوی په دې کارسـره مسـلمانان دوی ونـه ولـي نوپـه دوی کـې جـرات پیـداکیږي چـې دحملـې پـه صـورت کـې مجاهدینوته نقصان رسیږي اودضرربه دفاع کولی کیږي لـیکن داچـې ویشتونکی به نیت دکافرکوي.

علامه زیلعي په تبیین الحقایق کې لیکلي دي:چې مونږبـه لـه کفاروســـره جنګیږواوپــه دوی بـــه ګوزارونـــه کوواګرکـــه دوی لـــه مســـلمانانونه ډال اوســـپرجوړکړي خومونږبـــه قصـــددکفاروکوونه دمسلمانانو،ځکه چې مونږته حکـم شـوی دجهـادکولواوددوی پـه نـه ویشتلوبه دجهاددروازه بنده شـي اوبـل داچـې دکفاروپـه ویشـتلوکې دیوخاص ضررپه واسطه چې دبنـدیانووژل دي دیوعـام ضرردفع کـول دي چې تولو مسلمانانوته متوجه دی. کله چې دجنګ په وخـت کـې ددوی سـره دمســلمانانوبندیان اوماشـومان وي دهغوویشـتل روادي نودهغودفاعي مسلمانانوچې ددوی په کلکه دفاع اواوړه پـه اوږه ورسـره جنګیږي ،دهغوویشـتل خوبـه طریقـه اولـی جایزاوروادي.مسـلمانانوته په کاردي چې دصلیبیانوله ملاتړاومرستې څخه توبه وباسـي اوبیاتې ژونداســلام دمبـارک دیـن دسـپیڅلیوقوانینوتابع اوددې خونخـوار دښـمن سـره پـه کلکـه ددښـمنی اعـلان وکړي،ترڅوچې شـرمیدلی دښمن نورهم په هردګرکې وشرمیږي اوزمونږافغانـان ورونـه دډال پـه څېر استعمال نه کړي . پـه افغـان مسـلمان ولـس فـرض ده ترڅولکـه څرنګه چې نوروپرغلګروڅخه یې هیواداوملت تـه دجهـاداومیرانې پـه مټ نجات ورکړدغـې بایدله دغه تورصلیبي یرغلګردښـمن نـه هـم خپـل هیـوادازادکړي اوددې لـوي وحشـي خونخـوار اسـتعمارڅخه دنجات لاره هم یواځې همداجهاداوقرباني ده

دهجري کال پیل

مفتي راشد دسکوی
ژ: امید
دوهمه وروستی برخه

او په اړه یې دمسلمانانو غفلت:

دحضرت عمر رضي الله عنه دشهادت ارزو،

دیته په کتو چې دشهادت مرتبه یوه له خوښیو ډکه مرتبه ده،دغم او ماتم نده حضرت عمر رضي الله عنه دشهادت مرتبې ترلاسه کولو لپاره څانګړې دعاء کوله (صحیح البخاري، کتاب فضائل مدینه،باب کراهیة النبی صلی الله علیه وسلم ان تعری المدینة، رقم الحدیث: ۱۸۹۰، ۳توک ۲۳مخ، دارطوق النجاة).

دحضرت خالد بن ولید رضي الله عنه د شهادت ارزو،

حضرت خالدبن ولید رضي الله عنه ته درسول الله صلی الله علیه وسلم لخوا دسیف الله لقب ورکړل شوی و، نوموړی تول عمر دشهادت مندلو لپاره بیتاب و، خو دالله جل جلاله شان ګوره هغه شهید نشو، کله چې دنوموړي دوفات وخت راغی، نو په مخ یې غټې غټې اوښکې راغلې او په ژړا شو، ویلې: نن زه په بستره پروت یم او د اوښ دمرګ پشان خپل مرګ ته منتظریم(البدایه والنهایه، سنة احدی وعشرین، ذکرمن توفی احدی وعشرین،۷توک ۱۱۴مخ المعارف مکتبه بیروت).

درسول الله صلی الله علیه وسلم دشهادت ارزو،

شهادت دومره ستر سعادت او دولت دی چې پخپله رسول الله صلی الله علیه وسلم هم دځان لپاره دشهادت ارزو کړې اوهم امت ته یې دهغه ترغیب ورکړی ، دحضرت ابوهریرة رضي الله عنه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایل: غواړم چې دالله جل جلاله په لار کې جهاد وکړم! او شهید شم [بیا ژوندی شم] او بیا دالله په لار کې جهاد وکړم اوشهید شم [بیا ژوندی شم] او بیا دالله په لار کې جهاد وکړم او شهید شم[صحیح مسلم،کتاب لامارة باب فضل الجهاد والخروج فی سبیل الله، رقم الحدیث: ۴۹۶۷]

غرض داچې دلته یواځې دابښودل دي چې شهادت یوداسې لوی نعمت دی چې دمندلو لپاره تمنا کېږي ، کوم داسې څېز ندی چې وربانديې افسوس او غم و شي، که چیرې دا عمل سهي ومنل شي نوبیا مونږ ته دا وویاست چې دټول کال داسې کومه ورځ ده چې په هغه کې یونه یو صحابي شهید شوی نه وي؟ دتاریخ او سیر کتابونه که وکتل شي نو په هره ورځ کې دیونه، یوصحابي دشهادت پېښه رامنځته شوې، پکاردی هغه ټولې ورځې هم دغم ښکاره کولو او افسوس څرګندولو ورځې وګرځول شي، هم دا راز دېته تکه وګورو چې درسول الله صلی الله علیه وسلم په مبارک ژوند کې څو ستر او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ګران ملګري شهیدان شوي ، ایا داسې ثبوت شته چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دهغوی په شهادت ماتم لمانځلی ؟؟نه! هیڅکله نه!ای مونږ درسول الله صلی الله علیه وسلم نه دغم زیات احساس لرو؟ دخدای لپاره راځئ! پخپلو عملونو فکروکړو او دغه ډول بې ځایه رسمونو څخه اجتناب وکړو.

په محرم الحرام کې دواده حکم: دپورته تفصیل سره سم په محرم میاشت کې ماتم کول په دین کې کوم اصل نلري، چې نه کول یې ضروري دي، نو هرکله چې ماتم لمانځل روا‌ندی نوبیا شرعاً په دې میاشت کې دواده کولو ممانعت شتون نلري بلکې عجیبه داده چې دامیر المؤمنین علی او دحضرت فاطمة الزهراء رضي الله عنهما ترمنځ واده په همدې میاشت کې شوی دی [ولولئ تاریخ مدینة الدمشق لابن عساکر،باب ذکر بنیه وبناته علیه الصلاة والسلام وآزواجه، ۳توک ۱۲۸مخ، دارلفکر- تاریخ الرسل والملوک للطبری،ذکر ماکان من الآ مور فی السنة الثانیة، غزوة ذات العشیرة، ۲توک ۴۱۰مخ،دارلمعارف بمصر]

په محرم کې دواده نه کولو مفهوم دا راوځي چې گني په دې کې سپیره توب دی، خو شرعاً داخبره بې اصله او بې اساسه ده بلکې داعقیده او یا په ذهن کې یې ساتل گناه ده، دالله تعالی لخوا په هیڅ کومه ورځ یاشپه کې سپیره توب نشته داکابرو مفتیانو په فتاوو کې دا تصریحات شته دي، چې دلته درحیمیه فتاوې څخه یې ځواب را اخلو:

الجواب: محرم میاشت دماتم او غم میاشت گرځول جایزندي، په حدیث کې دي چې میرمنو لپاره دخپلوانو په مړینه درې ورځې ماتم او غم جایزدی او دخپل میره په وفات ورته څلور میاشتې لس ورځې ماتم لمانځل ضروري دی، ددې پرته دهرچا په مړینه له درې ورځو څخه زیات ماتم کول حرام دي درسول الله صَلَّى ٱللَّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ فرمان دی:

لایحل لامرأة تؤمن بـا الله والیوم الاخر أن تحدعلی میت فوق ثلث لیال الا علی زوج أربعة أشهر وعشراً (بخاری، باب تحد المتوفی عنها اربعة اشهر وعشراً الخ۲توک ۸۰۳مخ).

ژ: هغه میرمن چې په خدای او دقیامت په ورځ ایمان لري، دهغې لپاره روانده چې دچا په مړینه له درې ورځو څخه زیات ماتم وکړي خو خاوند ددې څخه مستثنی دی، چې دهغه په مرگ به څلور میاشتې لس ورځې ماتم کوي.

په محرم میاشت کې واده اونور... نامبارک یا ناروا گڼل سخته گناه او داهل سنت دعقیدې خلاف عمل دی، اسلام چې کوم شیان حلا ل او روا گرځولي اعتقاداً یا عملاً دهغو په ناجایز او او حرام گڼلو کې دایمان خطر دی، مسلمانانو ته پکاردی چې له ښه احتیاط کار واخلي ددغو رسمونو ځان وساتي ځکه چې په هغو کې گډون حرام دی.

په ملابد منه کې راغلي، مسلم ترا تشبه به کفار وفساق حرام است یعني مسلمانانو ته دکفارو او فساقو سره مشابهت کول حرام دی(۱۳۱مخ)

داچې په محرم میاشت کې واده اونور دخوشا لیو کارونه کول روادي په دې باره کې دیوبندي او بریلوي علماء اختلاف نلري په دې اړ ه دمولانا احمد رضا خان بریلوي فتوا ولولئ:

پوښتنه،ځیني سنیان دمحرم په لسمه تولـه ورځ نـه ډوډی پخوي او جارو وهي هغوی وایي: دتعزیه ددفن وروسته ډوډی پخول پکاردي ۲: دمحرم په لس ورځو کې کالي هم نه بدلوي۳: دمحرم په میاشته کې څوک واده او کوژدن هم نکوي دداسې کولو حکم څه دی؟

الجواب : دا دریواړه خبرې په ماتمکې راځي او ماتم کول حرام دی (احکام شریعت ۱توک ۹۰مخ)

فقط والله اعلم بالصواب (فتاوی رحیمیه، کتاب البدعة والسنة، ۲توک ۱۱۵مخ،دارالاشاعت کراچی)

په ورته توگه دحقانیه فتاوې [په کتاب البدعة والرسوم کې :به محرم الحرام کې دواده حکم؟توک ۹۴مخ جامعه حقانیه اکوړه ختک]هم ورته حکم شته

الله تعالی دې مونږ ته له هردول منکراتو څخه د لرې والي توفیق راوبښي او دافراط وتفریط څخه مودې وساتي او دصراط مستقیم په نیغه لاره دې مونږ روان کړي آمین

محمود احمد نوید

صف یکی است دشمن اما چند تا ...!

امارت اسلامی افغانستان از بدو تاسیس آن شاهد تحولات زیادی بوده است؛ ولی یکی از علامت های خوش چانسی و یا بهتر بگویم برگ برندهٔ آن همواره وحدت صف و یکپارچگی آن بوده که همانند خاری، چشم بدخواهان و دشمانش را کور ساخته است.

دشمنان از همان اوائل، وقتی این علامت پر رنگ پیروزی را در امارت اسلامی دیدند به انواع مختلف و ترفندهای بسیار، تلاش ورزیدند تا این صف مرصوص را پراکنده نموده و به گمان غلط خویش دیوار فولادین یکپارچگی را بشنکنند اما لله الحمد تا امروز تمام تیرهای آنها به خطاء رفته و هر چه بیشتر تلاش کردند صف امارت اسلامی مستحکم تر گردید و دشمنان مایوس تر و خجل تر.

ما وقتی می گوئیم صف یکی است سخن گزافی نیست واقعیتی است که همگان شاهد آن است صف یکی است چون این صف صف اسلام است، صف قرآن و صف دین است، صف عزت و استقلال است، صف جهاد و صف مبارزه است.

صف یکی است؛ چون در این صف، سیاسی بازی، پارتی بازی، جاه طلبی، چوکی خواهی، لسان پرستی، اتهام زنی و دیکتاتوری جایی ندارد؛ این صفی است که آرمانی بس والاتر از اشیای فانی دنیایی داشته و ارزش های ناب را مقصد دارد که کمتر صفی خواهان تحقق آن ارزشها است؛ لذا وقتی می گوئیم صف یکی است یعنی واقعا یکی است و بر اساس آیهٔ قرآن شریف کسانی که در این صف جهاد می کنند ان شاء الله مصداق بارز "ان الله یحب الذین یقاتلون فی سبیله صفا کانهم بنیان مرصوص. الصف" بوده و مثل بنیاد فولادین سدی مستحکم در مقابل اشغال و اهداف شوم استکبار بوده و همانگونه در حال مبارزه و جنگیدن است.

اما، باید این را هم بدانیم که دشمنان امارت اسلامی که این روزها علیه مجاهدین تبلیغات منفی زیاد دارند خودشان چه حال و روزی داشته و چقدر از وحدت و اتفاق برخوردارند؛ شک نکنید که هیاهوی رسانه های زرخرید که این روزها به شدت بخاطر حفظ دست آوردهای شیطانی غرب در ترس و هراس به سر می برند و چشم دیدن صف متحد

په محرم الحرام کې دواده حکم: دپورته تفصیل سره سم په محرم میاشت کې ماتم کول په دین کې کوم اصل نلري، چې نه کول یې ضروري دي، نو هرکله چې ماتم لمانځل روادی نوبیا شرعاً په دې میاشت کې دواده کولو ممانعت شتون نلري بلکې عجیبه داده چې دامیر المؤمنین علی او دحضرت فاطمة الزهراء رضي الله عنهما ترمنځ واده په همدې میاشت کې شوی دی [ولولئ تاریخ مدینة الدمشق لابن عساکر،باب ذکر بنیه وبناته علیه الصلاة والسلام وآزواجه، ۳توک ۱۲۸مخ، دارلفکر- تاریخ الرسل والملوک للطبری،ذکر ماکان من الآ مور فی السنة الثانیة، غزوة ذات العشیرة، ۲توک ۴۱۰مخ،دارلمعارف بمصر]

په محرم کې دواده نه کولو مفهوم دا راوځي چې گڼي په دې کې سپیره توب دی، خو شرعاً داخبره بې اصله او بې اساسه ده بلکې داعقیده او یا په ذهن کې یې ساتل گناه ده، دالله تعالی لخوا په هیڅ کومه ورځ یاشپه کې سپیره توب نشته داکابرو مفتیانو په فتاوو کې دا تصریحات شته دي، چې دلته درحیمیه فتاوې څخه یې ځواب را اخلو:

الجواب: محرم میاشت دماتم او غم میاشت گرځول جایزندي، په حدیث کې دي چې میرمنو لپاره دخپلوانو په مړینه درې ورځې ماتم او غم جایزدی او دخپل میړه په وفات ورته څلور میاشتې لس ورځې ماتم لمانځل ضروري دی، ددې پرته دهرچا په مړینه له درې ورځو څخه زیات ماتم کول حرام دي درسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمان دی:

لایحل لامرأة تؤمن با الله والیوم الاخر أن تحدعلی میت فوق ثلث لیال الا علی زوج أربعة أشهر وعشراً (بخاری، باب تحد المتوفی عنها اربعة اشهر وعشراً الخ۲توک ۸۰۳مخ).

ژ: هغه میرمن چې په خدای او دقیامت په ورځ ایمان لري، دهغې لپاره روانده چې دچا په مړینه له درې ورځو څخه زیات ماتم وکړي خو خاوند ددې څخه مستثنی دی، چې دهغه په مرگ به څلور میاشتې لس ورځې ماتم کوي.

په محرم میاشت کې واده اونور... نامبارک یا ناروا گڼل سخته گناه او داهل سنت دعقیدې خلاف عمل دی، اسلام چې کوم شیان حلا ل او روا گرځولي اعتقاداً یا عملاً دهغو په ناجایز او او حرام گڼلو کې دایمان خطر دی، مسلمانانو ته پکاردی چې له ښه احتیاط کار واخلي ددغو رسمونو ځان وساتي ځکه چې په هغو کې گډون حرام دی.

په ملابد منه کې راغلي، مسلم ترا تشبه به کفار وفساق حرام است یعني مسلمانانو ته دکفارو او فساقو سره مشابهت کول حرام دی(۱۳۱مخ)

داچې په محرم میاشت کې واده اونور دخوشا لیو کارونه کول روادي په دې باره کې دیوبندي او بریلوي علماء اختلاف نلري په دې ار ه دمولانا احمد رضا خان بریلوي فتوا ولولئ:

پوښتنه،ځیني سنیان دمحرم په لسمه تولـه ورځ نه ډوډی پخوي او جارو وهي هغوی وایي: دتعزیه ددفن وروسته ډوډی پخول پکاردي ۲: دمحرم په لس ورځو کې کالي هم نه بدلوي۳: دمحرم په میاشته کې څوک واده او کوژدن هم نکوي دداسې کولو حکم څه دی؟

الجواب : دا درېواړه خبرې په ماتمکې راځي او ماتم کول حرام دی (احکام شریعت ۱توک ۹۰مخ)

فقط والله اعلم بالصواب (فتاوی رحیمیه، کتاب البدعة والسنة، ۲توک ۱۱۵مخ،دارالاشاعت کراچی)

په ورته توگه دحقانیه فتاوې [په کتاب البدعة والرسوم کې :په محرم الحرام کې دواده حکم؟توک ۹۴مخ جامعه حقانیه اکوړه ختک]هم ورته حکم شته

الله تعالی دې مونږ ته له هردول منکراتو څخه د لرې والي توفیق راوبښي او دافراط وتفریط څخه مودې وساتي او دصراط مستقیم په نیغه لاره دې مونږ روان کړي آمین

امریکا دافغانستان

د دائـــمي اشـــغال پـــه فـــکر کـــې

که له یوه پلوه دمکارۍ فرصت طلبۍ امریکا او دکابل دګوډاګي رژیم لـه لـوري دسـولي غولـونکې څرګنـدونې او هڅـې کیـږي، خـو لـه بلـه پلـوه دامریکـا دجمهـوري غوښـتونکو او دیموکراتـانو دبهرنـۍ تګـلارې سالاکاران دافغانستان ددائمي اشغال پـه اړه بحثونـه کـوي او امریکـایي جنرالان دخپـل اشـغال ددوام لپـاره پلانونه جوړوي.

وړمه ورځ پـه افغانسـتان کـې داشـغالګرو پوځیـانو لپاره معرفي شوي نوي قومندان جنرال جـان نیکلسـن دامریکا دسنا دپوځي خدماتو کمېټې ته وویـل، چـې دی په افغانسـتان کـې دبهرنیـو پوځیـانو پاتـه کیـدل غـوره ګڼي او نوموړي په افغانستان کې دتیـري ګـرو داوسـنی جنرال جان کمپبل هغه نظر تائید کړ، چې ویـلې و، پـه افغانســتان کــې بایــد داوږدې مــودې لپــاره امریکــایي پوځیان میشت کړای شي او د اړتیا په صـورت کـې بایـد افغانسـتان تـه نـور پوځیـان هـم ولیـږل شي، دجنرال کمپبل په غوښتنه، چې پـه افغانسـتان کـې دامریکـایي پوځیـانو داوږدمهالـه حضـور پلـوي دی اوبامـا پـه تیـر اکتوبر کې پرېکړه وکړه، چې تر ۲۰۱۶ کـال وروسـته هـم په افغانستان کې څـه کـم شـپږ زره امریکـایي پوځیـان پاته شي.

په افغانستان کې دامریکا بل پخواني جنرال جان آلن هـم دپنجشـنبې پـه ورځ دبریتانیـا ۴ رادیـو تـه پـه خبرو کې وویل، چې په افغانستان کې باید تر ۲۰۲۰ کال پورې په زیات شمېر کې امریکایان پاتـه شي، پـه دې ترڅ کې واشنګټن پوست ورځپاڼي دتیري سې شنبې پـه و رځ پـه خپل راپـور کـې دامریکـا لـه لـوري دافغانسـتان ددائمي اشغال پـه اړه ددغـه هیـواد نـوې پالیسـۍ پـه داګه کړه.

واشـنګټن پوسـت ورځپـاڼي وویـل، چـې لوړپـوړي امریکایي چـارواکي پـه دې فکـر کـوي، چـې دڅـو لسـیزو لپـاره پـه افغانسـتان کـې خپـل پوځیـان وسـاتي، یـاده ورځپاڼه دامریکایي چارواکو له قوله وایي، چې دوی باید دخپلو ګټـو لپـاره پـه افغانسـتان کـې پاتـه شي او پـه افغانسـتان برسـېره پـه ټولـه جنوبي اسیا کـې فعالیـت ولري.

حقیقـــت دادی، چـــې امریکـــا لـــه هغـــه پیلـــه دافغانســـتان ددائمـــي اشـــغال پـــه فکـــر کـــې وه، خـــو دمجاهدینو دبې سارې مقابلې او تیري ګـرو تـه دزیـاتو تلفاتو د وراړولو له امله امریکایي سیاسـتوال دې تـه اړ شول، چې د۲۰۱۴ کال تر پایه پـه افغانسـتان کـې خپـل جګړه ییز ماموریت پای تـه ورسـوي او لـه دغـه هیـواده دخپلو پوځیانو دایستلو پرېکـړه وکـړي، خـو څنګـه چـې امریکاپه سیمه کې اوږدمهاله اهداف او پلانونـه لـري او دجګړې دروند پیټی یې هم اوس له اوږو پورتـه شـوی، نوڅکه غواړي، چې پـه سیمه کـې خپـل دوامـداره حضـور وساتي.

امریکـا دخـپلي امپراطـورۍ دپراخولـو او د خپـل دجالي نیو ورلډآرډر لاندي دټولي نړۍ د راوسـتلو لپاره دا اړینه بولي، چې دافغانستان اشغال تـه دوام ورکـړي

او دافغانستان په ګډون په ګاونډيو او دسيمې په نورو هيوادونو کې ددوی په اصطلاح دتروريستانو سره دمقابلې تر عنوان لاندې خپلې پوځي اډې وساتي، دهمدې امپرياليستي موخو لپاره امريکا اوس مهال له سوريې، ليبيا او دلويديځې افريقا له هيوادونو پرته، چې تيراو سږ کال يې ښکاره او پټې اډې پکې جوړې کړې، دنړۍ په ۱۳۰ هيوادونو کې تر ۱۰۰۰ زياتې پوځي اډې لري، چې تر نيم ميليون زيات پوځيان، استخباراتي کارکونکي او نور مامورين پکې ميشت دي، چې په دې کې ډيرې داسې اډې شته، چې تر نيمې پيړۍ وړاندې جوړې شوې او تراوسه هم امريکايان پکې شتون لري.

داچې امريکايان په افغانستان کې دخپل اشغال ددوام لامل ددوی په اصطلاح له تروريستانو سره مقابله ښيي، داسيا په نورو هيوادونو، اروپا، استراليا او خپله دامريکا دوچې په هيوادونو لکه کاناډا، لاتينه امريکا او... کې دامريکا دپوځيانو دموجوديت لامل څه دی؟

ځواب يې واضح دی، په دې اړه دامريکا مشهور پوځي مورخ تشالمرز جونسن وايي: په نړۍ کې زموږ دپوځي اډو موخه دخپلې امپراطورۍ پراخول او دنړۍ په وچه او سمندرونو ولکه کول دي.

دامريکايي سياستوالو له نويو ځرګندونو او دامريکا له پاليسۍ ، څخه ځرګنديږي، چې هغوی غواړي، افغانستان هم ددائم لپاره دخپلې امپراطورۍ برخه وګرځوي، خپل کلتور نور هم پکې خپور کړي، عيسويت ته پکې لا ترويج ورکړي او په بشپړ ډول له افغاني اسلامي ټولنې څخه يوه امريکايي ټولنه جوړه کړي، چې دځمکې او هوا او دسپينو او سرو يې دوی مالکان وي.

خو په ماډرنو وسلو سمبال دغرب له لښکرو سره دافغان ولس ۱۴ کلن مقاومت دا روښانه کړه، چې د امريکايي سياستوالو دا خوب به هيڅکله رښتيا نشي، چې دوی به په افغانستان کې تل پاتې شتون ولري، يا به افغان جهادي خوځښت له منځه يوسي، يا به په خپلو تيرايستونکو هڅو مقاومت غلی کړي او يا به له دغې خاورې څخه دخپلې دائمې اډې او خپلو موخو لپاره کار واخلي، ځکه افغان ولس هيڅکله دخپلې ازادۍ سودا نه کوي، چې بيا نه ازادۍ ترلاسه کړای شي او نه هم سوکالي اوپرمختګ، بلکه هغوی دازادۍ لپاره جګړه کوي، چې هم ازادۍ ترلاسه کړي او هم پرمختګ.

افغانان په دې پوهيږي، چې دامريکا اشغال له جګړې پرته په بل هيڅ ډول پای ته نشي رسول کيدلی او همدا جګړه ده، چې دامريکايانو هيلې به له خاورو سره خاورې کوي او هغوی به دجګړې په مټ د شهيدانو په وينو له دې مېنځل شوې خاورې څخه شړي، ځکه ټولې نړۍ وليدل، چې د۲۰ پيړۍ په دوهمه نيمايي کې امريکايان دجګړې په زور له ويتنام څخه وشړل شول او نړۍ وينې، چې دغه امپرياليستي هيواد په هغو هيوادونو کې، چې مقاومت ورسره نه کيږي، له لسيزو راهيسې خپلې پوځي اډې لري ، چې نه دهغو ولسونو مخالفت په امريکاکومه اغيزه لرلی شي اونه يې هم دمشرانو مخالفت او هڅې دامريکا اشغال ته خاتمه ورکولای شي، چې په دې ډول داشغال په وړاندې له مقاومته پې برخې دغه هيوادونه تل دامريکا تر اشغال لاندې پاته دي.

خو افغانستان هغه هيواد نه دی، چې نيواکګر دې پکې خپلې هيلې پوره او ارام ژوند دې پکې ولري، بلکه افغانانو تل پرديو ته دجنګ ترخه ورځکلي، هيڅ پردي ته يې اجازه نه ده ورکړې، چې دغه خاوره خپله کړي او په اسلامي مېرانه يې همېشه اشغالګر مختوري له خپل هيواده شړلي اوله جهاده نه ستړې کيدونکي دا ولس به امريکايان هم له ورته برخليک سره مخ کوي، انشاء الله.

مفتي ابوياسر

دشهامت دارالافتاء

په مساجدو اودعبادت په مهال دموبائلونو استعمال ته توجه کول !

پوښتنه : له شک پرته په دې دور کې دتکنالوجي زور دی ، که له يوې خوايې سهولتونه رامينځ ته کړي له بل پلو يې بيا ستونزي هم اجادکړي،دبيلگې په ډول موبايل فون که وختونه بچت کړو،هوسايې اورابطه يې دانسانانو ترمينځ فعاله کړه ،يودبل په حال يې له لېري ځخه په اسانه خبر کړو ،مگر بيايې دځوان ،زاړه ،نارينه،ښځينه ، دټولو ترجيبونو پوري کمرې ،فملونه ،او نور دفسق او فجور څېزونه هم راورسول . تردې چې په مسجد کې دلمانځه ،تلاوت اوعبادت په مهال دسروز اواوازونو کرنگهار دټولو خلقو عبادت متاثره اوخراب کړي.

نوپوښتنه داده: چې داسلام له نظره بايد دداسې مفاسدو مخه څخه ډول ونيول شي .کوم امور په کار ولوېږي؟ مننه .

الجواب : په رښتياهم داډول آلات اوس داستعمال له پلوه خورا په تيزي سره دخلقو لاسوته لويږي ،خلق يې څلور ويشت ساعته له ځان سره گرزوي ، چې داوداسه ،لمانځه ،طواف ،تلاوت ،جنازې اونورو ټولو ځانگړو وظائفو طاعاتو په مهال يې هم خلق له ځان څخه نه ليري کوي ،موږ ليدلي چې دجماعت په مهال امام په قرائت بوخت وي اوديوه تن له جيب څخه دموبائل په ذريعه دځورنگه سروزوزونو غږ راپورته کېږي ،تردي چې ځيني خوېې دسخت کرغېړنو زنانه سندرو غږهم ورسره مل وي ،بداوسخت تاثير په لمونځ کونکو لري ،دخلقو توجه گډه وډه کړي اودلمانځه خشوع له مينځه وړي ، داعمل دعبادت اومسجدڅخه دباندي هم گناه ده اوپه مسجدکې اوبيادجماعت په مهال اوپه ځانگړي ډول دامام قرائت په مهال بيا ترټولو سخته گناه ده ځکه دځو گډو گناهونو ارتکاب راځې ، موږ ته ديوه مسلمان په ډول ضروري ده چې لمړی داډول تجهيزات دضرورت اواحتياج په جوگاټ کې له حرامو نغمو اوسروزونو څخه پاک استعمال کړو ،دخبر غږ – آواز- يې عادي کړو ،اومسجد ته په ننوتو سره ،همداراز دتلاوت،طواف اونورو عباداتو کې يې غږ خاموشه کړو .

١= قال الله - تعالى: "ذَٰلِكَ وَمَنْ يُعَظِّمْ شَعَائِرَ اللهِ فَإِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوبِ" الحج: الآية(٣٢)، ژباړه : او څوک چې دالله تعالى دشعائرو [مساجد] تعظيم کوي [اوداحترام خيال يې ساتي] نوبې شکه چې دادزړونو[رښتوني]تقوى څخه ده .

وقال الله – تعالى: "فِي بُيُوتٍ أَذِنَ اللهُ أَنْ تُرْفَعَ وَيُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ يُسَبِّحُ لَهُ فِيهَا بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ * رِجَالٌ لا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللهِ وَإِقَامِ الصَّلاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ

يَخَافُونَ يَوْماً تَتَقَلَّبُ فِيهِ الْقُلُوبُ وَالْأَبْصَارُ" النور: (٣٦ ـ ٣٧)

ژباړه : په دغه مساجدو کې " چې الله تعالى امر کړى: چې اکرام به يې کېږي اوداالله تعالى نوم به په کې اخستل کېږى اوداالله تعالى ذکر به په کې کيږي " نوپه دې کې داسې خلق دې چې سهار اوماښام په کې داالله تعالى تسبيح وايي ،اودغه خلق هيڅ تجارت اوسوداالله تعالى له ذکر اودلمانځه له اداء اودزکوة له ورکړي څخه نه دي رامنع کړي ،اودوئ له هغې ورځې څخه چې زړونه اوسترگې به په کې اوړي ډير ويريږي .

مطلب : چې مساجد داالله تعالى دذکر ،لمانځه، تلاوت او نورو عباداتو لپاره جوړشوي ،مساجد دشعائرالله څخه دي، نوپه مسلمانانو يې اکرام ،تعظيم واجب دى اوداسې يې له هرډول کدوراتو څخه که هغه ښکاره نجاست، بې نظافتي يا معاصي وي اوکه نوري دنياوي خبري له دې ټولو څخه يې پاک ساتل هم ضروري دي .

٢= په احاديثو کې په صراحت سره ذکر دى چې :دورکې اعلان به په مساجدو کې نه کيږي ،اوکه چادورکې اعلان کاوه ورته واياست ! چې الله تعالى دې نه درپيداکوي .

وفي صحيح مسلم عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رضي الله عنه - قال قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَمِعَ رَجُلًا يَنْشُدُ ضَالَّةً فِي الْمَسْجِدِ فَلْيَقُلْ لَا رَدَّهَا اللهُ عَلَيْكَ فَإِنَّ الْمَسَاجِدَ لَمْ تُبْنَ لِهَذَا. (م ٢/ ٨٢)

مطلب: سره له دې چې دورکې اعلان يوه اړتيا ده مگر په مسجدکې منع دى ،نودسروز يا ناروا اوازونه به څرنگه څوک بې غوري اوغفلت کوي .

٣= په يوه بل روايت کې راغلي چې مساجد به له پنځو څېزونو څخه پاک ساتل کېږي : هغه پنځه څېزونه دادې : ١= حدودبه نه په کې جاري کېږي ،٢= قصاصونه به نه په کې اخستل کېږي ،٣= اشعار به نه ويل کېږي ٤= دورکې اعلان به نه کول کېږي ،٥= اومساجد به لاره نه گرزول کېږي چې خلق به نه په کښې تېرېږي

وقال معاذ بن جبل: إن المساجد طهرت من خمس: من أن تقام فيها الحدود، أو يقتص فيها الجراح، أو ينطق فيها بالأشعار، أو ينشد فيها الضالة، أو تتخذ سوقا.رواه الدارمي

مطلب : په دغه روايت کې په مساجدوکې دشعر له ويلو څخه منعه شوي دى همداراز دقصاص اخستلو ،حدودجاري کولو اونورو څخه سره له دې چې له ذکرشوو څېزونو څخه يې ځيني مشروع اوددين ضروري امور دي . نوڅه فکر کوئ داالله تعالى په مساجدوکې دسازونو يا بې کاره اوناروا اوازونو غږ پورته کيدل به څومره گناه وي .

۴= وفي الاشباه : ويكره دخوله لمن أكل ذا ريح كريهة ويمنع منه وكذا كل مؤذ فيه ولو بلسانه ومن البيع والشراء وكل عقد لغير المعتكف،...وإنشاد الضالة والأشعار والأكل والنوم لغير غريب ومعتكف والكلام المباح.وفي فتح القدير :أنه يأكل الحسنات، كما تأكل النار الحطب ورفع الصوت بالذكر إلا للمتفقهة ...ويسن كنسه وتنظيفه وتطييبه وفرشه وإيقاده وتقديم اليمنى على اليسرى عند دخوله وعكسه عند خروجه، ومن اعتاد المرور فيه يأثم ويفسق، ويكره تخصيص مكان فيه لصلاته،الخ

وفي الحموي ۴\٥٩ وفي خزانة الفقه ما يدل على أن الكلام المباح من حديث الدنيا حرام فإنه قال: ولا يتكلم في المساجد بكلام الدنيا فمن تكلم في المساجد بكلام الدنيا أحبط الله عنه عمل أربعين سنة .

له عينکو(چشمو)سره لمونځ کول څرنگه دي؟

پوښتنه :له عينکوسره لمونځ څرنگه ده؟يوه مولوي صاحب راته وويل چې له عينکوسره لمونځ مکروه دى؟ مهرباني وکړئ مونږته مسئله رامعلومه کړئ .والسلام المستفتي ملا محمدخان چک وردگ.

الجواب :په مذکوره صورت کې که عینکې په داسي شان وي،چې دتندي اوپوزې دلګیدلومانع نه وي،نوبیاله عینکوسره لمونځ هیڅ پروا نه لري ،اوکه دعینکوله امله یواځې تندی ولګول شي نولمونځ مکروه کیږي ،اوکه دعینکو له امله یواځې پوزه ولګول شي نوبیایې سجده شوي نه ده.

لمافي الهندية ١/ ٧٠:وكمال السنة في السجودوضع الجبهة والأنف جميعاولووضع حدهمافقط وان من عذر لايكره وان كان من غيرعذر فان وضع جبهته دون أنفه جازاجماعاويكره،وان كان بالعكس فكذلك عندأبي حنيفة رحمه الله تعالى وقالا لايجوزوعليه الفتوى. [مثله في الخلاصة الفتاواى ١/ ٥٥]

وفي ردالمحتارمع الدرالمختار٢/ ١٦٧:ومنهاالسجود بجبهته وقدميه ،قال :علامه الشامي رح أي :حيث لاعذربهاواماجوازالاقتصارعلى الأنف فشرطه الغذرعي الراجح ... ثم ان اقتصر على الجبهة فوضع جزءا منها وان قلّ فرض ووضع أكثرهاواجب. والله تعالى اعلم بالصواب .

دکاسمیټک،باډي لوشن ،پرفیوم اواسپرېګانو د استعمال په اړه!

پوښتنه :معاصر پرفیوم ،باډي اسپرې ،باډي لوشن ،کا سمیټک ،لوشن کریم اوداسې نوروکې چې الکحل ګډ وي د وشرعاددېاستعمال څرنګه دی؟

الجواب : که له تحقیق څخه معلوم شي چې په ذکرشوو څېزونو کي دانګورو اوخورما(کهجور)الکحل ګډ دي نو بیاددې ذکرشوواجناسو څخه شرعا دیوه استعمال هم روانه ده . اوکه دامعلومه نه وي نو ترهغه وخته چې تحقیق یې کېږي داستعمال ګنجایش لري، څکه چې په بازارونو کې اوسني ذکرشوي اجناسو کې ګډ شوي الکحل دانګورو او خورماوو څخه نه دي . نولمونځ ورسره صحیح ده اوجامه وربان‍دي نجسه نه ګرزي، البته دشک په صورت کې یې عدم استعمال بهتر دی. (تکمله فتح الملهم والله تعالى اعلم)

په دېوالونو دتزیین لپاره پردې څړول !

پوښتنه : محترم مفتي صاحب! دډېرو خلقو په کوروکې په دیوالو دتزیېن لپاره درختونو شایسته پردې څړول کېږي نوشرعي حکم یې څه دی ؟

الجواب : په مذکوره صورت کي که چیرته دغه پردې، دیوه صحیح غرض لپاره په دیوالونو څوړندي شوي وي ، بیا صحیح دي، اوشرعاکوم قباحت نه لري اوکه چیرته دخالي تزیین لپاره وي بیامکروه دي.

لمافي ملتقى الابحر :فصل في المتفرقات :١/ ٢٣٦ ولا بأس بستر حيطان البيت باللبود للبرد ، ويكره للزينة . وكذا إرخاء الستر على البيت وإذا أدى الفرائض وأحب أنْ يتنعم بمنظر حسن وجوار جميلة فلا بأس

وفي البحرالرائق : فصل في اللبس : ٨ / ٣٤٩ ط / مكتبه رشيديه : وفي التَّتِمَّةِ إرْخَاءُ السِّتْرِ في الْبُيُوتِ مَكْرُوهٌ

وفي المحيط البرهاني :الفصل الحادي والعشرون في الزينة واتخاذ: ذكر الفقيه أبو جعفر في شرح «السير الكبير»: أنه لا بأس بأن تستر حيطان البيوت باللبود المنقشة إذا كان قصد فاعله دفع البرد، فإن كان قصد فاعله الزينة فهو مكروه، وذكر شمس الأئمة السرخسي في «شرح السير» أيضاً: لا بأس بأن تستر حيطان البيت باللبود إذا كان قصد فاعله دفع البرد، وزاد عليها فقال: أو بالخيش إذا كان قصد فاعله دفع الحر؛ لأن مقصود فاعله الانتفاع دون الزينة، وإنما يكره من ذلك ما يكون على قصد الزينة، فقد صح أن عمر رضي الله عنه أمر بنزعه ولما رأى سليمان ذلك، فقال أبو .... بينكم هذا، وتحولت الكعبة في كبده أشار إلى معنى الكراهة وهو تشبيه سائر البيوت بالكعبة، وفي «فتاوى أهل سمرقند» إرخاء الستر على البيت مكروه،

والله تعالى اعلم وعلمه اتم

سرښکته صلیب!

داد محمد ناوك

دلته لا ژوندی یم، سا روانه ده
دلته دې ببرې ډوبه شیطانه ده
دلته کعبه دنګه ده، لا څوانه ده
دلته د صلیب ګوزاره ګرانه ده

د لته د عمر د ښو پل ژوندی
دلته مو د سپینې پګړې ول ژوندی
دلته د دوښمن د مرګ اجل ژوندی
دلته د تکبیر نغمه چالانه ده

زه د طارق اس د ښو ګرد یمه
ډېر یمه؛ که ستا په نظر فرد یمه
شاته منډه نه لرمه، مرد یمه
ګرده زمانه راته حیرانه ده

تانه خپل تاریخ تر خاورو لاندې دی
ژوند دې د سراب غوندې پُل باندې دی
سر دې اوس د سور دوزخ پر وړاندې دی
زما جنت جنت خاوره خندانه ده

زه د یرموک کرېږه یم، ژوندی یمه
زه درته توپان یمه سیلی یمه
چاوې د جبار* ښو کې زیندی یمه!؟
دا دنیا په ما باندې ودانه ده

ته دلته پخپل صلیب په دار شولې
دلته مې ښو کې خواروزار شولې
زما تر سینه تاو د مرګي، ښکار شولې
نن دې مری بنده، مېنه ورانه ده

دلته صلیب سرښکته هلال ته کړ
ستا بادار یې اړ دجوړې سوال ته کړ
نن مو لویدیځ خم، د اسیا خال* ته کړ
سپینه مانی زبون وهلې مانه ده

۲۴-۱۱-۱۳۹۴

Shahamat



بدر الفتاوى في الفقه الحنفي

داسلامي امارت دمرکزي دار الافتاء د پخواني رئيس مولانا مفتي نورمحمد (ثاقب) صاحب تر فقيهانه اشراف او نظارت لاندې د شويو استفتاوو په اړه دصادر شويو افتاوو مجموعه

هغه مست د اوبو شور اوس پکې نشته
د کابل د ماهيپر سينه زخمي ده
[فيضاني]